ICCROM

د کلتوری ملکیت د
مطالعاتو، ساتنې او بیرته
پر خپو درولو نړیوال مرکز

( اکرام – ICCROM)

Fond

د کلتور او پرمختګ
لپاره د شهزاده کلاز د
بسپنې صندوق



# د کړکېچ پر مهال د کلتوري میراث لپاره لومړنۍ مرستي

۱
لارښود

د کلتوری ملکیت د مطالعاتو، ساتنې
او بېرته پر خپو درولو نړیوال مرکز
( اکرام – ICCROM)
ICCROM

C
Fonds
د کلتور او پرمختګ
لپاره د شهزاده کلاز د
بسپنې صندوق

# د کړکیچ پر مهال د کلتوري میراث لپاره لومړنۍ مرستې

## ۱. لارښود

د ملموس او غیر ملموس کلتوری میراث د خوندي کولو لپاره د بیړنۍ همغږۍ د تیاري او ځواب ویلو/غبرګون ښودلو لارښود

اپرنا تنډن

چاپ شوی له طرفه: د کلتوري ملکیتونو د ساتنې او بېرته پر خپو دروني لپاره د مطالعاتو نړیوال مرکز ( اکرام موسسه – ICCROM) –
Via di San Michele 13, 00153 Rome, Italy
او د کلتور او پرمختګ لپاره د شهزاده کلاز د بسپنې صندوق – د شهزاده کلاز موسسه
CE Amsterdam, the Netherlands ۱۰۱۷ ,٦۰۳ Herengracht

د اکرام موسسې، شهزاده کلاز موسسې او د سمیتسونین انستیتیوت د همکارۍ په چوکاټ کې په بیړني حالت کې د کلتوري میراث لپاره د چمتووالي او ځواب ورکونې/غبرګون ښودلو د ظرفیت جوړونې لپاره.

ICCROM 2021 ©

Prince Claus Fund for culture and Development 2021 ©

ICCROM ISBN 978-92-9077-340-5

**ګډه-جوړونه**

| | |
|---|---|
| **اصلي/کلیدي لیکوال او ایډیټ کونکی** | اپرنا تڼدن ، اکرام |
| **د مفرداتو په چمتو کولو کې ونډې:**<br>**د بیړنې وروسته په ساحه کی د زیان اوکواښ ارزونه** | ایلکی سیلټر، روهیت جیګیاسو، یوجینی کریټي |
| **خوندیتوب او سمبالونه** | یوجیني کریټي، ایلکی سیلټر و زافیر رومیو، اسمیرالده پوپیریو |
| **د بیړنې بېلګې** | ماریا سیسیلیا رادریګز مورینو، یوجینی کریټي، ایهور پوشیفالیو، کیاو میو کو، ایلکی سیلټر، ولنټاین سپانو، لیلا صالح |
| **علمي کتنه** | جیسیکا ډویال، جانتن ایتون، سونیا جیوفینازی |
| **څېړنه** | جیسیکا ډویال، ولنټاین سپانو |
| **د معلوماتو ډیزاین** | کرسټوفر ملپیټان |
| **همغږي**<br>**د اکرام موسسه** | کترین انتومارچی، اپرنا تڼدن، جینیفر کپیټورن، ایزابیل دی بریسیس، و ایزابیل ویرجر |
| **د شهزاده کلاز موسسه** | ډیبورا سټوک |
| **پښتو ژباړه** | غلام فاروق صافی، سید تمیم هاشمی |
| **مرور / ایډیټ** | ضابط مجبور |
| **د پښتو ډیزاین او همغږي** | نادیه هاشمی، د سید او نادیه د مشورتي خدماتو شرکت |

**د دې کتاب پښتو ترجمه د برټش کونسل په سخاوتمندانه مرسته ترسره شوې ده چې د زړه له تله ترې مننه کوو.**

له دی خپروني نه هر څوک ازادانه ګټه اخیستی شي
Attribution-NonCommercial-ShareAlike 4.0 International (CC BY-NC-SA 4.0) (https://creativecommons.org/licenses/by-nc-sa/4.0/ ). د دې خپرونې د محتوی په کارولو سره، کاروونکي مني چې د اکرام موسسې د هرې راتلونکې د پرانیستې لاسرسۍ ور ذخیرې د کارولو د شرایطو پابند دي. پدې خپرونه کې کارول شوي عنوانونه او د موادو وړاندې کونه د اکرام موسسې او د فرهنګ او انکشاف لپاره د شهزاده کلاز موسسې له اړخه د هیواد، سیمې، ښار یا یوې ساحې یا د هغوی د چارواکو د قانوني وضعیت یا د سرحدونو د معلومولو اړوند د نظر څرګندونې معنی نلري. پدې خپرونه کې خپاره شوي نظریات په لیکوالانو پورې اړه لري او په اکرام موسسې او د فرهنګ او انکشاف لپاره د شهزاده کلاز موسسې پورې تړاو نه لري او همداراز په دغه دواړو موسسو باندې الزامي ندي.

د پوښ انځور د روهیت جیګیاسو لخوا اخیستل شوی

## مفردات/لیکلړ


- تقریظ.......... ٥
- سریزه / دیباچه.......... ٦
- په لاربښود کې د لوري موندل/د سمې کارونې لارې چارې .......... ٨

## د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو معرفي کول

- د کلتوري میراث لپاره لومړنۍ مرستې څه دي؟.......... ١٠
- دا څرنګه چمتو کولای شو؟.......... ١١
- دا څوک پیلولای شي؟.......... ١٤
- ولې همغږي وکړو؟.......... ١٨
- دا کله چمتو کړو؟.......... ٢٠

## لومړنی قدم: د وضعیت تحلیل

- د وضعیت تحلیل څه شی دي؟.......... ٢٥
- ولې د وضعیت تحلیل تر سره کړو؟.......... ٢٦
- څوک باید د وضعیت په تحلیل کې برخه واخلي؟.......... ٢٧
- دا څرنګه تر سره کړو؟.......... ٢٨

## دوهم قدم: د پېښې نه وروسته په ساحه کې د زیان او ګواښ ارزونه

- د پېښې څخه وروسته په ساحه کې د زیان او ګواښ ارزونه څه ده؟.......... ٤٣
- دا ولې تر سره کړو؟.......... ٤٤
- دا څرنګه تر سره کړو؟.......... ٤٥

## دریم قدم: مصونیت او باثباته کول

- مصونیت او باثباته کول څه شی دی؟.......... ٦٩
- مصونیت او باثباته کول څوک تر سره کولای شي؟.......... ٧٠
- ساحه مصونه کړئ.......... ٧٣
- د پېښې وروسته تخلیه.......... ٧٧
- و یې ژغورئ.......... ٨٨
- د جوړښتونو بېړنۍ باثباته کول.......... ١٠٤
- د غیر ملموس کلتوري میراث مصونه کول.......... ١١٧

## ژر اصلي حالت ته بېرته راګرځول

- ژر اصلي حالت ته بېرته راګرځول څه شی دی؟.......... ١٢٤
- وړاندیز شوي اقدامات/ کړنې.......... ١٢٧
- نتیجه ګیري.......... ١٣٥

**اصطلاحات او د هغوی معاني**.......... ١٣٦

**حوالې/ سرچینې**.......... ١٥١

# تقریظ

کلتور د پرمختګ لپاره د محرک په توګه پېژندل کیږي. بیا هم، د کلونو پرمختیایي لاسته راوړنې د ناورین د پېښېدو په صورت کې په یوه شېبه کې له مینځه تلای شي او ټولنې بېرته د غمجنو پایلو سره مخ کېدای شي. سره لدې، د کړاونو او زیان په حالت کې د مقاومت قصې په کومو کې چې فرهنګ مرکزي ونډه لوبوي مخې ته راغلي دي. دې کار ساینسي ټولنه وهڅوله چې د کلتوري دودونو او د مقاومت د میکانیزمونو تر مینځ خپل منځي تعامل ته له ډیر نږدې څخه وګوري.

د شهزاده کلاز د بسپنې د صندوق باور، چې کلتور یوه اساسي اړتیا ده، د فرهنګ ساتنې او تنوع ته د ودې ورکونې لپاره د (اکرام) د موسسې د اصولو سره نږدې اړخ لګوي. د دې ټکې پر بنسټ، دواړو موسسو سره لاسونه یو کړل تر څو د ارزښت وړ ځایونو او توکو اصلي حالت ته د راګرځونې لپاره د لومړني ګټه/دلچسپي لرونکو او ټولنې د اواز/نظریاتو په پام کې نیونې سره یوه سرچینه رامینځته کړي. دا کار په خپل نوبت سره له دوی سره د راتلونکو ناورینونو پر وړاندې د مقاومت په رامینځته کولو کې مرسته کوي.

یو له کلیدي ننګونو چې مونږ ورسره مخ یو دا ده چې په ډېری ملي او سیمه ایزو بیړني حالاتو ته د غبرګون ښودلو په سیستمونو کې د کلتوري میراث په اړوند نظریات او اقدامات شامل ندي. په هرصورت، لومړني ځواب ورکوونکي/غبرګون ښودونکي به تاسو ته ووایي چې دوی په حتمي توګه ځینې وختونه د کلتوري میراث په ژغورلو کې د دې لپاره ښکېل کیږي تر څو د دې مخه ونیسي چې ځایي خلک د هغې (کلتوري میراث) د ژغورلو په هڅو کې خپل ژوند د ګواښ سره مخ کړي، او ځینې وختونه لدې کبله ښکېل کیږي چې دوی د زیان او فزیکي او ذهني صدمو په قابو کولو کې د فرهنګي میراث د ارزښتناکې ونډې نه اګاه دي.

کلتور انتظار نشي کولی! دواړه د (اکرام) موسسه او د شهزاده کلاز د بسپنې صندوق پدې باور کلک ولاړ دي. د (اکرام) موسسې په ۲۰۱۰ کال کې د ایټالیا هیواد د کلتور د وزارت او ځینو نورو شریکانو سره په ګډه (د کړکېچ پر مهال د کلتوري میراثونو لپاره لومړنۍ مرستې) کورس پر لاره واچوو. دا هڅې د شهزاده کلاز د بسپنې د صندوق او د سمیتسونین انسټیټیوټ په راګډولو سره پراخه شوې او دې کړنې د (کلتوري میراث لومړنیو مرستندویانو) شبکې په پیاوړتیا او د ګډون کونکو د نوښتونو په تمویلونه کې مهمه ونډه لوبولې تر څو دا خبره یقیني کړي چې مثبتې پایلې څو برابره شي.

د دې کتاب موخه دا ده چې د (لومړنیو مرستو) پروسې تدوین کړي او د څېړنې، فعالیت او پوهاوي هڅې لا نورې وهڅوي. د دې کتاب لیکونکي په دې حقیقت پوهیږي چې هر بېړنی حالت موږ ته یو نوی درس راکوي او موږ ته دا وړتیا رابخښي چې د پوهې او عمل تر منځ واټن کم کړو.د دې موضوع په تړاو معلومات د هر اړخیزو بحثونو د رامنځته کولو او د خبرو اترو د پراخولو په هڅه کې د ډېرې نظرونو استازیتوب کوي.

له شک پرته، د ناورین د ګواښ راټیټول د پرمختګ سره تړلي پوښتنه ده. زموږ هیله دا ده چې دا لارښود او د سامان بکسه به د دوی د پلې کېدو وړ وړاندیزونو سره د کلتور د ساتنې لپاره داسې نوې لارې پرانیزي چې په پرمختګ سره پیل او په مقاومت سره پای ته ورسیږي.

**ویبر نډورو**
د اکرام د موسسې رییس

**جومانا الزین خوري**
**د کلتور او پراختیا لپاره د شهزاده کلاز د بسپنې صندوق رییسه**

## سریزه/دیباچه

### ولې د بشري کړکېچ په ضمن کی  د کلتوري میراث ساتنه وشي؟

کلتور انتظار نشي کولی. د ۲۰۱۵ کال د ویجاړوونکو زلزلو څخه یوازې یوه میاشت وروسته، د نیپال د کټمنډو په تاریخي دربار چوک کې د ویجاړ شوو مندرونو د مالبې/کثافاتو  په مینځ کې عبادت کونکي او د ګلانو پلورونکي لیدل کیږي.

د زلزلې د وروسته ټکانونو نه بې پرواء، دوی په مېړانې سره هلته تللي وو تر څو په ورځنیو مذهبي مراسمو کې ارام ومومي او خپل عادي کارونه بیا پیل کړي – دا کار دا په ډاګه کوي د دې لپاره چې په راتلونکې کې د زلزلو پر وړاندې د نیپال د خلکو د زیان منني کچه راټیټه شي، لومړی باید دا لرغوني مندرونه او د ښار چوکونه خوندي او پیاوړي شي.

یو کال وروسته، په داسې حال کې چې د زلزلې وروسته د لټون او ژغورنې عملیات ترسره کېدل، په ایټالیا کې اور وژونکو د ځایي ټولنې سره مرسته وکړه چې د میډونا اډولوراټا –  غمګینه میډونا –نقاشي د نورسیا د کلیسا نه مخکې لدې چې دا دوه میاشتې وروسته په وروستې زلزله کې په بشپړه توګه ویجاړه شي راوویسته. اور وژونکو د نقاشۍ ژغورنې ته لومړیتوب ورکړ ځکه چې دوی پدې پوهېدل چې د نورسیا خلکو لپاره ، میډونا د دوام/پایښت او مقاومت سمبول دی ، ځکه چې هغه نقاشي د تیرو زلزلو نه ژوندۍ راوتلې وه.

د بشري کړکېچونو په اوږدو کې د کلتوري میراثونو د ساتنې لپاره بې غرضه او رضاکارانه کارونه یوازې په ناورینونو پورې محدود ندي. هغه ټولنې چې د تاو تریخوالي نه په ډکو شخړو کې راګیر دي دا شهرت یې لاسته راوړی چې که څه هم د دوی شخصي امنیت له ګواښ سره مخ وي، د خپلو کلتوري میراثونو ساتنې ته لومړیتوب ورکوي. انځورونه/عکسونه، اسناد، مذهبي او شخصي اثار، دودونه او ودانۍ – هر هغه څه چې خلک له یو بل سره نښلوي، او د هویت احساس، یا د ژوند کولو لارې چارې وړاندې کوي، د ویجاړتیا او بې ځایه کیدو په ضمن کې ډیر ارزښتناک ګرځي.

نو له همدې امله اړینه ده چې د کلتوري میراثونو خوندیتوب او بېرته اصلي حالت ته راګرځېدنه د بېړني حالت پر مهال او د هغې وروسته د بشري مرستو څخه جلا نشی او ونه ځنډول شي، په ځانګړې توګه کله چې بنسټیزه موخه/هدف د خلکو سره مرسته کول وي تر څو په رواني او فزیکي صدمې باندې برلاسی ومومي او خپلې عادي ورځنۍ چارې بیا پیل کړي.

## ولې دا لارښود؟

د ډېرى دلایلو له مخى د کلتوري میراثونو خوندى کول د څو اړخیزو او پراخو بشري کړکېچونو په اوږدو کې ننګوونکى دى. یو لوى لامل يې د بېړني حالت د مدیریت په ملي او نړیوالو سیستمونو کې د کلتوري میراثونو ته د پاملرنې نشتوالى دى. نور لاملونه په دې ډول پوښتنو کې نغښتى دي لکه: که چیرې ډیرى کلتوري ساحې اغیزمنې شي، نو له کوم ځاى څخه پیل وشى؟ څوک کولى شي چې ساحې ته لاسرسى چمتو کړي؟ څوک مرسته کولى شي؟ د اقداماتو مناسب وخت کله دى؟ څرنګه باید اقدام وشي؟

دا لارښود او ورسره د سامان بکسه د «کلتوري میراث لومړنۍ مرستې» تشریح کوي: د ګواښ سره د مخ ملموس او غیر ملموس فرهنګي میراث د پیاوړتیا او هغوى ته د ګواښ د تهدید د کمولو لپاره تر سره شوې سمدستي او یو له بل سره تړلى کړنې چې موخه يې د فرهنګي میراث اصلي حالت ته راګرځېدل تقویه کوى . په ساحه کې د ازمایل شوي درې مرحله اى چوکاټ له لارې دا جوته کوي چې کله او څرنګه د ګواښ سره مخ فرهنګي میراث خوندي شى او ټول هغه کسان چې پداسې عملیاتو کې مرسته کولاى شي په ګوته کوي. چمتو شوې مرحلې او کاري جریان د بېړني حالاتو د بېلابېلو ډولونو او د هغوى د ځانګړو شرایطو سره اړخ لګولاى شي.

دا لارښود پدى لاندى مواردو کى کارول کېداى شى:

- د کلتوري لومړنیو مرستندویانو، بېړنیو حالاتو ته د ځواب ورکوونکو او رضاکارانو د روزلو د ماخذ په ډول استعمالیږى.
- د داسى وسیلى په توګه استعمالیږى چى د کلتورى میراث د بنسوټونو سره مرسته وکى چى بیړنى حالت ته د تیارى نیول او ناورینونو ته ځواب ویل په ښه ډول پلان وکړي.
- داسى یو لارښود دى چې د لومړنیو مرستو د عملیاتو، د انساني مرستو او اصلي حالت ته بېرته د راګرځېدنې د هڅو په پلي کولو کې مرسته کوي.

دا لارښود د فرهنګي میراث د لومړنیو مرستو هغه اړخونه په ګوته کوي د کومو همغږي پلي کېدل چې د اغېزمن شوو خلکو د زیان منني په راټیټولو کې مرسته کولاى شي. مونږ هیله لرو چى د دى کار په کولو سره به د بېړني غبرګون او بشرى مرستو په سیستمونو کى په بین المللي، ملي او محلي کچه د کلتورى میراث د لومړنیو مرستو د ځایولو لپاره غږ پورته کړو.

دا لارښود او ورسره مل د سامان بکسه یو مخ په ښه کېدو کار دى. او تیارونکي يې هیله لري چې د استعمالونکو فیډبک لاس ته راوړي تر څو خاطر جمع شي چې د کوم مقصد لپاره چى تیار شوى هغى ته تحقق ورکوي او معلومات يې ښه کیفیت لري او له هغه چا سره چې ډیر ضرورت ورته لري، مرسته کولى شي.

اپرنا ټنډن
د اکرام د پروګرام د کړکېچ پر مهال د کلتوري میراث لپاره لومړنیو مرستو همغږي کوونکې
fac@iccrom.org

## د لارښود سم استعمال/سمه کارونه

**مهرباني وکړئ لاندې يو څو لارښووني په نظر کی ونيسئ کومې چې تاسو سره د دې لارښود او ورسره مل د سامان د بکسې په اړوند د لارې په موندلو کې مرسته کوي.**

**د کتاب اشارې / تېبونه**

**. د هرې پاڼې په پورتنۍ ښي خوا کې به تاسو د متقابل عمل ور اشارې وګورئ، کومې چې تاسو سره په  دې لارښود کی ستاسې د علاقې ور برخو ته په رسېدنه کې مرسته کوي.**

**د اتومات لېږدونې ور اړيکې/هايپر لينکونه**

**نيلي او ډبل: په دې سند کې د ځانګړو برخو لپاره لينکونه دي.**

**نارنجي او ډبل: د اصطلاحاتو او د هغوی د معناګانو لپاره  لينکونه دي.**

**لارښووني: د تجربې پر بنسټ مشوره.**

**خبرداری: د نا اتکل شوو ګواښونو او / يا غلطيو څخه د مخنيوي لپاره پاملرنه اړينه ده.**

**ډېر ولولئ: نور لوستل**

**د قضيې مطالعه: هغه ننګوني چې په ځانګړو قضيو کې مخې ته راغلي وي، يا په ساحه کې غوره کړنې، يا اخيستل شوي درسونه**

**متقابل عمل: د تمرين يا فعاليت هڅه وکړئ**

# د کلتوري میراث د لومړنیو
# مرستو معرفي کول



## د کلتوري میراث لپاره لومړنۍ مرستې څه دي؟

په ټولیزه توګه هغه بېړنۍ او یو له بل سره تړلې کړنې چې د بیړني حالت په اوږدو او د هغې نه ورسته په دې موخه ترسره کیږي چې د ګواښ لاندې کلتوري میراث ته د متوجه شوي ګواښ شدت کم کړي او هغه با ثباته کړي، د کلتوري میراث لپاره لومړنۍ مرستې تعریف شوي دي. د داسي یو بېړني حالت لومړی لامل ممکن طبیعي یا د انسان لخوا رامینځته شوی ګواښ وي، او یا یې لامل د د دې دواړو ټولګه وي. لومړنۍ مرستې دا لاندې اقدامات احتوا کوي: د بېړني حالت تحلیل، په کلتوري میراث د هغې احتمالي اغېزې، د ګواښ لاندې ساحې ته د اوښتي زیان اټکل، او مصونیت او باثباته کول.

د لومړنیو مرستو ټولیزه موخه دا ده چې خپل اصلي حالت ته د اغېزمن شوي کلتوري میراث د بېرته راګرځولو پروسه ګړندۍ کړي. او په پایله کې خپل اصلي حالت ته په نوموړي کلتوري میراث پورې د تړلو ټولنو راګرځول اسانه کړي.

د کلتوري میراث لومړنۍ مرستې، یو عمده بېړني حالت یا کړکېچ ته د ځواب ویلو/غبرګون ښودلو د پلان او طرزالعملونو یوه برخه تشکیلوي. په ډېری مواردو کې، په ځانګړي توګه د لویې کچې ناورین د اغېزو په اوږدو کې د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو هلې ځلې هغه وخت پیل کیږي چې بېړني حالت ته د ځواب ویلو/غبرګون ښودلو رسمآ اعلان شوی پړاو پای ته ورسیږي. په هر صورت، د بېړني حالت د منځته د راتلو په صورت کې، مخکې له مخکې نیول شوی چمتووالی او رامنځته شوې همغږي به د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو پروسه ګړندۍ او موثره/اغېزناکه کړي.



په کټمنډو، نیپال کې په بېړنۍ توګه د یو معبد باثباته کول، ۲۰۱۵ کال. انځور: اکرام موسسه


## موږ څرنګه کولای شو چې په بېړنیو حالاتو کې د بېلابېلو کلتوري میراثونو لپاره لومړنۍ مرستې چمتو کړو؟

دا لارښود په ګڼو ساحو کې د هر ډول کلتوري میراث لپاره د لومړنیو مرستو د چمتو کولو درې مرحله ایز کاري چوکاټ په ګوته کوي.

دا چوکاټ د اکرام موسسې د هغه زده کړو او تجاربو پر بنسټ بناء شوی چې (د بحران په وخت کې د کلتوري میراث لپاره لومړنۍ مرستې) په تړاو یې په نړیواله کچه د ډېرو شریکانو سره له ګډ کار نه، د پراخه ساحوي تجاربو نه، او په نړیواله کچه له هغه ګډ کار نه لاسته راوړي دي چې ګڼ شمیر مسلکي خلک په کې شامل وو.

دا چې هیڅ دوه بېړني حالات یو شان نه وي نو په دې چوکاټ کې بیان شوي کړنې باید داسې ترسره شي چې د رامنځته شوي حالت له شرایطو سره مطابقت ولري.

### د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو کاري چوکاټ



د دې چوکاټ هر قدم یو جلا کاري جریان لري کوم چې په کوچنیو کړنو/فعالیتونو وېشل کېدای شي.

**لومړی قدم: د وضعیت تحلیل**
د وضعیت تحلیل د بېړني حالت د پراخه شرایطو اړوند پوهاوی چمتو کوي. او دا به له لومړنیو مرستندویانو سره مرسته وکړي چې په ساحه کې د کړنو لپاره د شرایطو سره سم پلان جوړ کړی شي. د بېړني پړاو په پای کې د وضعیت ژور تحلیل پدې موخه ترسره کېږي ترڅو د کلتوري میراث اصلي حالت ته د بېرته راګرځوني لپاره د منځنۍ څخه تر اوږدې مودې اړتیاوې په ګوته کړي.

**دویم قدم: په ساحه کې د زیان او ګواښ ارزونه**
په ساحه کې د زیان او ګواښ ارزونه دا فرصت برابروي چې د یو ناورین د اغېزو په پایله کې کلتوري میراث ته د اوختي زیان او متوجه ګواښونو ارزونه او ثبتونه وشي. د دې قدم پایلې د ساحې د کړنو لپاره د لومړیتوبونو په تعینولو کې مرسته کوي.

**دریم قدم: مصونیت/خوندیتوب او با ثباته کول**
په مصونیت/خوندیتوب اوبا ثباته کولو کې هغه کړنې شاملې دي کومې چې د زیان په قابو کولو او د ګواښ د شدت په ټیټولو کې مرسته کوي، او پدې ډول اغېزمن شوی کلتوري میراث بېرته اصلي حالت ورګرځېدنې ته یو قدم نږدې کوي. پدې پړاو کې د ملموس او غیر ملموس کلتوري میراث لپاره کړنې یو له بله توپیر لري.

مستند سازي، د ګواښ جاري مدیریت، د نورو لومړي ځواب ورکوونکو/غېرګون ښودونکو سره ارتباطات او همغږي د هغو قدمونو د بریالي پلي کولو لپاره چې پدې چوکاټ کې په ګوته شوي دي اړین دي. په دې چوکاټ کې تشریح شوی کاري جریان د کلتوري لومړنیو مرستندویانو، ځایي ټولنو، بېړني ځواب ورکوونکو/غبرګون ښودونکو او د بشري مرستندویه سازمانونو ترمنځ د ګډ کار کولو ساحات په ګوته کوي.

د کلتوري میراث د خوندي کولو او اصلي حالت ته بېرته راګرځولو لپاره ترسره شوي اقدامات باید د انسانیت، بې طرفۍ او خپلواکۍ د بشردوستانه اصولو سره سمون ولري. په عملي توګه د دې ایډیال د تقویه کولو لپاره دا لارښود د دې لاندې رهنمایي کونکو اصولو د مراعات کولو وړاندیز کوي.

## د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو لپاره راهنما اصول

### ۱. پر خلکو متمرکزې لومړنۍ مرستې

د خلکو اړتیاوو ته لومړیتوب ورکول او د دوی د خپل میراث خوندي کولو او اصلي حالت ته بېرته راګرځولو لپاره د دوی وړتیا لوړول، د لومړنیو مرستو د چوکاټ د ډیزاین او چلند نه بېلېدونکې برخه ده.

د کړکېچ په وخت کې بې ځایه شوی خلک اکثرا د کلتوري میراث ځایونه د سرپناه په توګه کاروي. د کلتوري میراث لومړنۍ مرستې باید داسې ترتیب شي چې د خلکو دا ډول اړتیاوې په نظر کې ونیسي او عادي حالت ته د بې ځایه شوي خلکو په راګرزولو کی اسانتیاوې رامنځته کړي. سربېره پر دې، احصاییې ښیي چې په ډېرې ناورینونو کې دا ځایي ټولنې وي چې غبرګون ښیي او خپل کلتوري میراث خوندي کوي. د بېلګې په ډول، په شمالي مالي کې د ۲۰۱۲ کال د شخړې په ترڅ کې، په شخصي توګه ساتل شوي لرغوني نسخې د دې ټولنو د خپل مینځي دودیزو شبکو له لارې خوندي ساتل شوې وې. اکثرا په ټولنه کی د تدابیرو داسې میکانیزم او پوهه موجوده وي چې وخت ازمایلې وي. (مثلا د معمارۍ عنعنوی متودونه) چې لدی نه باید د ویجاړ شوي ساختمان په بیا رغونه او اصلي حالت د هغې په راګرزولو کی استفاده وشي.

### ۲. ټول شموله چلند، او تنوع ته درناوی

لومړنۍ مرستې باید د یو داسې ټول شموله نظر پر بنا صورت ونیسی چې د هغو عناصرو په پېژندلو کې مرسته وکړي چې د ناورین ځپلې سیمې کلتوري میراث تشکیلوي.

د افرادو او مسلکیانو په توګه، لومړني مرستندویان شاید په غیر قصدي ډول پر شخصي تمایلاتو ولاړ قضاوت وکړي، چې دا کار په ځپل شوې سیمه کې د کلتوري میراث تبعیضي پېژندنې او د موجوده نابرابریو زیاتوالي ته لار هواروي. د بېلګې په توګه، په عنعنوی ډول، د ادارو غبرګونونه د نامتو یا یادګارې میراثونو په ساتنه راټول وي، په داسې حال کې چې ځایي میراث په لویه کچه له پامه غورځول شوی وي.

### ۳. په شرایطو متمرکز غبرګون

د بیړني حالت په شرایطو په پراخه ډول پوهېدل، د اغېزناکو کلتوري لومړنیو مرستو د چمتو کولو لپاره خورا زیات اړین دي.

هر بیړنی حالت ځانګړي شرایط لري. د شرایطو تحلیل د کلتوري میراث د ساتنې لپاره د اصلي فعالینو د اړتیاوو او اړوند ظرفیتونو په ګوته کولو ته لاره هواروي. د شرایطو ارزونه د ګواښ د فکتورونو په ګوته کولو کې هم مرسته کوي، کوم چې د یو ناورین په ترڅ کې کلتوري میراث ته ډېر زیان اړولی شي. د بېلګې په توګه، د تاو تریخوالي نه ډکو شخړو په ترڅ کې، بې امنیتي د کلتوري میراث د ځایونو د سیستیماتیک لوټ ګواښ لوړولای شي.

### ۴. د کلتوري مسایلو سره د بشري مرستو تړل

د کلتوري میراثونو لومړنۍ مرستې باید د بشري مرستو او اصلي حالت ته د مصابو/ اغېزمنو شوو ټولنو د بېرته ګرځېدنې فعالیتونو سره یو ځای چمتو شي.

دا په منو چې په هر کړکېچن حالت کې د انسانانو د ژوند ژغورل باید اول ترسره شی. خو ناورین ځپلي خلک د دې حق لري چې د خپل کلتور د دوامن دوام لپاره مرستې ترلاسه کړی. د لومړنیو مرستو چوکاټ پدې ټینګار کوي چې باید بشري او کلتوري ضرورتونو ته ځوابونه همزمان او یو له بل سره تړلي وي. له همدې امله د کلتوري میراثونو د خوندي کولو لپاره اقدامات باید د اړوندو حکومتونو او بشري مرستندویه ادارو سره په همغږۍ او نږدې همکارۍ کې پیل شي، د بیلګې په توګه د بشري مرستندویه ادارو لخوا د کار په بدل کې د نغدو پیسو په ورکولو پیل شوي پروګرامونه، په کلتوري ځایونو کې د ملبې د سورت کولو (ډېرۍ ډېرۍ کولو) او د شیانو او د ودانۍ د ټوټو د ژغورلو لپاره کارول کېدای شي.

د لومړنیو مرستو اقدامات باید د نور زیان مخنیوی وکړي او اصلي حالت ته بیرته راګرځېدنه تقویه /غښتلې کړي.

د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو له اصلي موخو څخه یوه دا ده چې د نورو ګواښونو د ارزونې، کمولو او ګواښونو ته د چمتو والي له لارې د لا نور زیان مخه ونیسي. د بېلګې په ډول، د کلتوري توکو لپاره د داسې موقتي ګودام جوړولو په صورت کې، چې د بم په مقابل کې مقاومت ولري، پدې ځان ډاډه کړي چې دا ګودام د نورو ګواښونو نه هم خوندي دی لکه سېلاب یا لوټمار او نور.

## څوک د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو د پیل کولو اجازه ورکولای شي؟

په ډېرو مواردو کې، د اغیزمن شوي کلتوري میراث کفیل د لومړنیو مرستو د عملیاتو د پیل کولو اجازه ورکوي. کفیلان کېدای شي ډېرې بڼې ولري، د بېلګې په توګه، یوه ملي یا محلي/ځایي دولتي اداره، یا یو مذهبي بنسټ او نور.

په هرصورت، کفیل یوازینی واکمن نه دی. د یو رسماً اعلان شوي بېړني حالت پر مهال ، د غبرګون ښودلو لومړیتوبونه د پېښې د مدیریت د مسولو ادارو لخواء په ګوته کیږي.

د یو هیواد د بېړني حالت د مدیریت قوانین پدې اړوند مهم رول لوبوي چې څوک، یا کومه اداره وګماري چې د غبرګون د پیل کولو او اغیزمنو سیمو ته د لاسرسي د اجازې ورکولو عمومي واک ولري. نو ځکه بېړني حالت ته د غبرګون د مدیریت د مسؤلې ادارې سره مخکینۍ مفاهمه او همغږي، او د کفیل اجازه د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو د عملیاتو د پیل کولو لپاره اړین دي.



*۲۰۱۵ کال د زلزلې د پایلو پر مهال، په کټمنډو، نیپال کې د پاکولو عملیات روان دي. عکس: تاپش پال/*

*بریک*

د رسماً اعلان شوي بیړني حالت په صورت کې هغه دولتي اداره معمولا د بیړني غبرګون همغږي کونکی، یا پېښې ته د غبرګون ناظم ټاکي، څوک چې د بیړني مدیریت سیستم د مخکې ټاکل شوي طرزالعمل سره سم رامینځته کوي. د بېلګې په ډول، په هند کې د ناورین پر مهال د ناورین د مدیریت ملي اداره د ملي ناورین د مدیریت د هغه قانون لاندې چې په ۲۰۰۵ کال کې نافذ شوی، د ټولو طبیعي او د انسان لخوا د رامینځته شوو ناورینونو پر وړاندې د غبرګون ښودلو همغږي پر غاړه لري.

د ګواښ د پېښې د اړتیاوو او کچې په پام کې نیولو سره، بیړني حالت ته غبرګون ښودونکي ، لکه د ملکي دفاع واحدونه، د سره صلیب رضاکاران، پولیس او اردو، د یو هیواد د بیړني مدیریت سیستم کې کار کوي ترڅو ژوند خوندي کړي، د ارتباطاتو او ټرانسپورټ وسایل بېرته په خپو ودروي، او نورې اساسي اړتیاوې پوره کړي.

د یو ستر بیړني حالت په صورت کې ، ملي حکومت شاید د ملګرو ملتونو (UN) تر مشرۍ لاندې د کوم بل هیواد یا نړیوالې ټولنې څخه مرسته وغواړي. ملګري ملتونه د ادارو د خپلمنځي دایمي کمېټې (IASC) له لارې کومه چې د ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو د بشري مرستو له فعالیونو څخه جوړه ده، بشري غبرګونونه رهبري کوي. د بیړني حالت د پېښېدو څخه په ۴۸ ساعتونو کې، د هغې لومړنۍ ارزونې پر بنسټ، چې د بیړني حالت د کچې، پېچلتیا، عجلې ، او د حالت د مدیریت لپاره د شته ځایي ظرفیت په نظر کې نیولو سره پورته ذکر شوې کمیټه بیړنی حالت طبقه بندي کوي.

د دوهمې یا درېمې کچې بیړني حالت په صورت کې، ملګري ملتونه د بشري مرستو په موضوعي کلسټرونو کې په تنظیمولو سره یو همغږی، څو- ادارېز (ملګري ملتونه، بین الحکومتي او غیر دولتي سازمانونه) غبرګون په لاره اچوي. دا ډول بیړني حالات اکثرا دا په ګوته کوي چې سیمه ایز چارواکي او د دوی د غبرګون ښودلو ظرفیت په جدي توګه اغېزمن شوی دی. په دې ډول شرایطو کې، سیمه ایز حکومت د نړیوالو ادارو سره په همغږۍ کې کار کوي ترڅو ځینې فعالیتونه ، لکه ارزونې او د کلسټر په چوکاټ کې د بسپنې غوښتنې ترسره کړي. اوس مهال، کلتور په کلسټر سیستم کې شامل نه دی.

په هغه صورت کې چې بیړني حالت پیچلی اعلان شي، د ملګرو ملتونو بشري مرستې ممکن نظامي اویا د پولیسو عملیات په سوله ساتي ماموریت کې شامل کړي.

**په ۱۵۱ مخ کې حوالې وګورئ.**

## څوک کولی شي د کلتوري میراث لومړنۍ مرستې پلان او پلي کړي؟

یو کلتوري لومړی مرسته کوونکی کولی شي د بېړني غبرګون ښودونکو، بشري مرستو کارپوهانو/ متخصصینو ، د میراث مالکینو او رضاکارانو سره په همغږۍ کې د لومړینو مرستو عملیات پلان او پلي کړي.

کلتوري لومړی مرسته کوونکی هغه څوک دی چې د بېړني حالت پر مهال یا د هغه څخه وروسته سمدلاسه له ګواښ سره مخ کلتوري میراثونو په ساتنه کې یې دمخه روزنه ترلاسه کړې وي. د سترو یا پېچلو بېړنیو حالاتو پر مهال د کلتوري میراث لومړنۍ مرستو په چمتو کولو کې د داسې اړتیاوو تر مینځ چې هره یوه جدي او ضروري/اړینه ښکاري، لکه خواړه، اوبه ، سرپناه، امنیت او هویت د توازن ساتل پکار دی. لدې کبله یو کلتوري لومړی مرسته کونکی باید د دې وړتیا ولري چې د فزیکي ، رواني ، محیطي/چاپیریالي اوپه کار پورې د ترلو غوښتنو سره مدبرانه مقابله وکړي.

هغه باید داسې پوهه او مهارتونه ولري چې په بېلابېلو بېړنیو شرایطو کې د بېلابېلو کلتوري میراثونو ارزونه، اسناد جوړونه، خوندي کول او باثباته کول تر سره کړای شي. هغه باید په داسې ډلو کی د کار کولو وړتیا ولري چې ګڼو/مختلفو مهارتونو ته اړتیا لري. لومړني مرسته کوونکې ممکن د ځایي ټولنو، د بېړني غبرګون د ادارو او د کلتوري میراث د ادارو څخه راټول شي.

په راتلونکې پاڼه کې لست شوي ځانګړتیاوې ولولئ او ستاسو د ادارې یا د ځایي ټولنې څخه یو څوک په ګوته کړئ چې د کلتوري لومړي مرسته کوونکي د رول لپاره ډېر غوره وي.



*په پورټ او پرنس، هایټي کې کلتوري لومړنی مرسته کوونکی ، ۲۰۱۰. عکس: اپرنا ټنډن، د اکرام موس*

## د یو کلتوري لومړي مرسته کوونکي درې اصلي صفات/ځانګړتیاوې




### د پراخه معلوماتو درلودونکی

- د کلتوري میراث په بېلابېلو بڼو پوهېږي.
- د بېړني حالت نه په راولاړو شوو شرایطو پوهه وي.
- غښتلي تحلیلي او نور اړین مهارتونه ولري.

### پر خلکو متمرکز

- یو ښه غوږ نیونکی وي.
- په موجوده/شتو تولنیزو جوړښتونو، عقایدو او ارزښتونو وپوهیږي او درناوی یې وکړي.
- په ټیم/ډله کې په موثره/اغېزناکه توګه کار وکولی شي.
- د انساني اړتیاوو پر وړاندې حساس واوسي.
- د باور جوړولو وړتیا ولري.

### پر عمل متمرکز

- مثبت 'کولی شم' چلند ولري.
- نوښتګر واوسي او د ستونزې د حلولو وړتیا ولري.
- تېز فکر او جسمي غښتلتیا ولري.

## ولې د تولیز بېړني غبرګون سره د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو همغږي کول اړین دي؟

د بېړني حالت پر مهال، د مرستې او اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې لپاره لومړیتوبونه له مخکې څخه د تنظیم شوي بېړني مدیریت د ملي یا نړیوالو سیستمونو له لارې په ګوته کیږي. د تعین شوو/ټاکل شوو لومړیتوبونو پر بنسټ، مرستې بیا د دې سیستمونو له لارې لیږدول کیږي. د مصونیت او امنیت د ډاډمن کولو لپاره، اغیزمنې شوې ساحې ته لاسرسی په کلکه کنټرولیږي.

د دې لپاره چې اغیزمنې شوې سیمې ته لاسرسی ومومو او دا خبره ډاډمنه کړو چې کلتوري میراث یو لومړیتوب وګڼل شي، دا اړینه ده چې د کلتوري میراث هڅې په تولیز بېړني غبرګون کې همغږي شي. په دې کار کې پاتې راتلل، ممکن د اغیزمن شوو میراثونو د زیانمن کېدو یا ویجاړېدو ګواښ زیات کړي.

## د کلتوري میراثونو د لومړنیو مرستو د همغږۍ لپاره قضیه جوړول : هایتي

په هایتي کې د ۲۰۱۰ کال له زلزلې وروسته میاشتو کې، د سوویګارډ دو پټرو یموین ملي انسټیټیوټ په اغیزمنو شوو سیمو کې د زیانمن شوو تاریخي ودانیو د نښه کولو او ټاپه کولو تمرین ترسره کړ. د ودانیو د خوندي کولو او ثبات لپاره د کافي ظرفیت (د بودیجې او افرادو په بڼه کې) د نشتوالي له کبله د انسټیټیوټ موخه دا وه چې د ودانیو د لا زیاد ویجاړېدلو مخه ونیسي او د دوی د اهمیت، فعالیت او کارولو په نظر کې نیولو سره د دوی د ساتنې لپاره اقدامات وکړي.




*په جیکمل، هایتي کې د میراثي جوړښتونو ټاپه کول، ۲۰۱۰ کال. عکس: اپرنا تندن، د اکرام موسسه*

دا تمرین د ساختمان د جوړښت د ارزونو سره، چې د ټولګټو وزارت او د ملګرو ملتونو مرستندویه ادارو لخوا تر لاس لاندې نیول شوي و، په موازي ډول ترسره شو. په ځانګړي توګه ځرنګه چې د کلتوري میراثونو بېرته اصلي حالت ته راګرځېدنه یا ساتنه په ملي یا نړیوال بېړني غبرګون کې شامله نه وه، بشپړه همغږي ممکنه نه وه. د پایلې په توګه، ډېرى تاریخي جوړښتونه نا مصونه اعلان شول او بالاخره ونړول شول.

په ۱۵۳ مخ کې حوالې وګورئ.




په جیکمل، هایتي کې د میراثي جوړښتونو ټاپه کول، ۲۰۱۰ کال. عکس: ایرنا تېډن، د اکرام موسسه

## د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو چمتو کولو مناسب وخت کوم دی؟

د بېړني حالت پر مهال، تر ټولو ضرور کار  د ژوند ژغورل او د امنیت تامینول دي. کله چې دا ډول عملیات بشپړ شي، بیا د کلتوري میراث لومړنۍ مرستې ترسره  کېدای شي. په هرصورت، په ساحه کې د بېړني حالت  د پېښېدو نه مخکې   د بېلابېلو بېړنیو او بشري مرستو د فعالینو  سره باید د همغږۍ میکانیزمونه جوړ او د سیمه ایزو حکومتونو او کلتوري میراث د ادارو د بېړني چمتووالي پلانونو کې په مناسبه توګه په پام کې ونیول شي. په عملی  توګه  ، د لومړنیو مرستو د پیل کولو لپاره مناسب وخت ټوپیر کوي او په لاندې فکتورونو پورې اړه لري:

- د بېړني حالت نوعیت او ابعاد:  د ستر یا پېچلي بېړني حالت په صورت کې چې د پراخه زیان او مړینې سبب شوی وي ښایي  د لومړنیو مرستو عملیات  وځنډول شي.
- اغېزمنو شوو سیمو ته لاس رسی: د وسله وال کړکېچ یا اټومي پېښې په صورت کې به اغېزمنې شوې سیمې ته لاسرسی اسان نه وي  او دا حالت  شاید د لومړنیو مرستو رسول  وځنډوي.
- کلتوري میراث ته د اوختي زیان اندازه او/یا د ګټو او دلچسپۍ لرونکو لپاره د دې ارزښت ( مثلا د پېښ شوي زیان محلي/ځایي،  ملي او نړیوال ارزښت): کله چې زیان پراخ وي، بهرنۍ مرستې ته اړتیا کولی شي عملیات وځنډوي. همدارنګه، د خورا لوړې کچې ارزښت درلودونکو کلتوري میراثونو لپاره، لکه د نړیوال کلتوري میراث ځای، بهرنیو کارپوهانو ته شاید اړتیا وي تر څو د کوم اقدام د تر سره کېدو د مخه معاینات تر سره کړي.
- ځایي ظرفیت او چمتووالی: چیرې چې ځایي ظرفیت لکه د روزل شوي پرسونل او سرچینو موجودیت، د بېړني حالت د مدیریت ادارو سره د همغږۍ میکانیزمونه او نور شتون ولري،  د ژوند ژغورولو له عملیاتو وروسته سمدلاسه د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو پیل کول اسان دي.

## د کلتوري میراث لومړنیو مرستوعملیات پیل کول: ایټالیا او عراق

لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو د سر ته رسولو مناسب وخت د بېړني حالت په ډول او کچې پورې اړه لري. د بېلګې په ډول، د هغې لومړۍ زلزلې وروسته چې د اګست په ۲۴، ۲۰۱۶ کال کې يې په مرکزي ایټالیا کې غرنۍ سیمه ولړزوله، د لټون او ژغورنې عملیاتو لس ورځې دوام وکړ؛ یوازې له دې مودې وروسته، د ایټالیا د ملکي ساتنې دیپارټمنټ، د کلتور وزارت په همکارۍ په سیمه کې غیر منقولو او منقولو کلتوري میراثونو ته د اووختو زیانونو لومړنۍ ارزونه ترسره کړه.

د عراق په شمال کې، د هغو کلتوري میراثونو ارزونه چې په ۲۰۱۴ کال کې په قصدي ډول ویجاړ شوي وو، د موصل ښار له ازادولو وروسته تر شپږو میاشتو پورې تر سره نشوه. نیول شویو سیمو ته د لاسرسي نشتوالی او د ۲۰۱۶ کال په وروستیو کې له ازادۍ وروسته ناڅرګندو امنیتي شرایطو په اغیزمنو شوو سیمو کې د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو پلې کول په جدي ډول وځنډول.

حوالې په ۱۵۳ مخ کې وګورئ.





پورتنۍ برخه: په مرکزي ایټالیا کې زلزله، ۲۰۱۶ کال. عکس: اپرنا تنډن، د اکرام موسسه

لاندینۍ برخه: د نمرود د لرغون پېژندنې په ساحه کې د لومړنیو مرستو عملیات، شمالي عراق، ۲۰۱۷ کال. عکس: لیلا صالح

**وګورئ چې ستاسې په هیواد کې څوک د تولیز بیړني غبرګون همغږي کوي. ایا په هغو تیاریو کې چې په سیمه ایزو یا ملي سطح بیړنیو حالاتو ته د غبرګون لپاره نیول شوي وي، د کلتوري میراث لومړنۍ مرستې شاملې دي؟**

**فکر وکړئ** چې ستاسو په سیمه کې بېړنی حالت اعلان شوی دی، وضعیت روښانه ندی، ځکه چې لا هم د زیانونو راپورونه راروان دي. لومړني راپورونه ښیي چې په ډېری ځایونو کې کلتوري میراثونو ته زیان اووختی او د لا پراخو زیانونو اټکل کیږي. ستاسو په سیمه کې متنوع او بډایه کلتوري میراث، چې ستاسو د هیواد ملي هویت ورپورې تړلی دی، موجود دی. پداسې حال کې چې د تاریخ د احتمالي بایللو په اړه اندیښمن یي، او غواړئ چې لومړنۍ مرستې چمتو کړئ.


له کومه ځایه به یې پیل کړئ؟

ولولئ چې ویې مومئ

## لومړنی قدم

# د وضعیت تحلیل





## د وضعیت تحلیل څه شی دی؟

د بېړني حالت پر مهال د باوري معلوماتو راټولول کېدای  شي یو ننګوونکی کار وي ، په ځانګړي توګه کله چې ادا پاشل شوي وي او د نا تایید شویو سرچینو څخه راټول شوي وي. له همدې کبله، مخکې لدې چې د کلتوري میراثونو د خوندي کولو لپاره اقدام وکړئ یو څه وخت  د وضعیت په  ارزولو، د راټول شوو  معلوماتو په  تحلیلولو، او د لومړنیو مرستو د چمتو کولو لپاره د یوې تګلارې  په جوړولو ولګوئ. د دې کار نه کول ممکن د اغېزمن شوو میراثونو د ناسمو لومړیتوبونو د جوته کولو، کلتوري میراث ته د زیات زیان اوختلو او حتی ژوند له ګواښ سره د مخامخ کولو لامل وګرځي.

د ناڅاپه پیل شوي بېړني حالت یا په تدریجي ډول د رامینځته شوي کړکېچ سیستماتیکه ارزونه د وضعیت تحلیل بلل کیږي. په دې کې ادا لاندی اقدامات شامل دی: د ساحوي کړنو په ګوته کول ، د سمدستي اړتیاوو او وضعیت ته د ځواب ویلو/غبرګون ښودلو د شته ظرفیت  معلومول،  د ځانګړو پېښو څخه د مخه او وروسته حالاتو په اړوند د معلوماتو راټولول او د هغوی تر مینځ د اړیکو قایمول.

د بشري مرستندویه سازمانونو لپاره د وضعیت تحلیل یوه داسې وسیله ده چې ډېره پکارېږي. ادا د ناورین د اغېزو څخه سمدستي وروسته د مرستې لپاره د لومړیتوبونو، او  ژر اصلي حالت ته د بېرته راګرځېدنې د پړاو په پیل کې د اوږد مهاله بشري اړتیاوو د جوته کولو لپاره کارول کیږي.




*د کړکېچ پر مهال د کلتوري میراث لپاره د لومړنیو مرستو په اړه د نړیوال کورس یوه برخه د وضعیت تحلیل دی، امستردام، ۲۰۱۵ کال، هالند. عکس: د اکرام موسسه*

## ولې د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو لپاره د وضعیت تحلیل ترسره کوئ؟

په داسې کړکېچ کې چې ابعاد يې ژر پراخيږي د وضعيت تحليل کولی شي د ګواښونو په تېيتولو کې مرسته وکړي او کلتوري ميراث ته د زيان اوختو مخه ونيسي او يا يې کچه راټيټه کړي. که د وضعيت تحليل د کلتوري ميراث د ساتنې لپاره د ساحې د عملياتو په پيل کې ترسره شي، کولی شي د عملياتو د موقعيت، وخت، کچې او دايرې په جوته کولو کې مرسته وکړي.

د اغېزمن شوي کلتوري ميراث د ډولونو او ارزښت په اړه د پېښې دمخه معلوماتو پر بنسټ، د وضعيت تحليل د مهمو پوښتنو په ځوابولو کې مرسته کوي، لکه څه شي ته لومړيتوب ورکړل شي؟ او په ورته وخت کې، دا د هغو لوبغاړو او ګټه او دلچسپي لرونکو په جوته کولو کې مرسته کوي څوک چې د لومړنيو مرستو په پلي کولو کې مرسته کولای شي.

د شخړو له امله د رامينځته شوي بېړني حالت لپاره، د وضعيت د تحليل دايره ممکن پراخه شي ترڅو د شخړو ارزونه په خپله لمن کې راونغاړي، چې دا کار د شخړو د تحليل په نوم پېژندل کيږي. (۳۸ مخ وګورئ)

د وضعيت د تحليل پايلې د اغيزمن شوي کلتوري ميراث د خوندي کولو او باثباته کولو لپاره پر شرايطو ولاړ پلان د جوړلو لپاره کارول کېږي، کوم چې ممکن د ساحې د زيان او ګواښ ارزونو په توګه وکارول شي. نور معلومات چمتو کړئ (۴۲ مخ وګورئ)



*د فيليپين په بوهول کې د زلزلې له امله يوه زيانمنه شوې کليسا ، ۲۰۱۳ کال*

*عکس: اپرنا ټنډن، د اکرام موسسه*

### د وضعیت تحلیل څرنګه په یو رامینځته شوي کړکیچ کې د زیانونو او ګواښونو په راتیټولو کې مرسته کړېده: کیف، اوکراین

د ۲۰۱۴ کال د فبرورۍ په میاشت کې د اوکراین په کیف ښار کې د اعتراض کوونکو خلکو مظاهرې پیل شوې. د کیف ښار په مرکزي برخه کې مظاهره چیانو او د بلوا ضد پولیسو د څو کلتوري میراثونو ادارې او ځایونه محاصره کړل. په بهر کې د رامینځته شوو صحنو د وضعیت د تحلیل پر بنسټ، مخکې له دې چې لاریونونه په تاو تریخوالي بدل شي، د اوکراین د ملي هنر د میوزیم لومړی پوړ خالي کړی شوی و، او ارزښتناکه اثار په موقتي توګه خوندي ځای ته لیږدول شوي و. د ټولګې د ځینو برخو په بل ځای کې د ځای په ځای کولو سربېره، د موزیم کارمندانو له امنیتي ځواکونو سره اړیکه ونیوله او له هغوی یې په کلکه وغوښتل چې د ورانکارۍ مخه ونیسي. دې پر وخت اقداماتو د موزیم ټولګه له پراخ زیان څخه وژغورله، په داسې حال کې چې د یو ګاونډي موزیم د ټولګې یوه برخه د بلوا پر مهال غلا شوې وه.

سرچینه: ایهور پوشیویلو (Ihor Poshyvailo)، د آسماني/جنتي سلګونو اتلانو د ملي یادګار د کمپلیکس رییس – د وقار د انقلاب میوزیم، کیيف، اوکراین. د کړکېچ پر مهال د کلتوري میراث لپاره د لومړنیو مرستو په نړیوال کورس کې برخه وال، ۲۰۱۵ کال.

### څوک باید د وضعیت په تحلیل کې برخه واخلي؟

د کلتوري میراث لپاره د لومړنیو مرستو د پلي کولو لپاره د وضعیت په تحلیل کې دا لاندې خواوې برخه اخیستی شي، خو البته دا د دې کار یوازیني لوبغاړي ندي:

- هغه دلې یا بنسټونه چې لومړنۍ مرستې سرته رسوي.
- د اغېزمن شوو کلتوري میراثونو مالکین یا بنسټونه.
- د بېړني حالت د مدیریت د بنسټونو استازي، څوک چې اغیزمنې شوې ساحې ته لاسرسی کنترولوي او د بېړني غبرګون لپاره د لومړیتوبونو د جوته کولو مسولیت لري.
- د محلي/ځایي ټولنو استازي.
- رضاکاران او محلي/ځایي غیر دولتي موسسې.

## د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو لپاره د وضعیت تحلیل څرنګه ترسره شي؟

د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو لپاره د وضعیت د تحلیل کاري جریان په  لاندې ډول دی:



## د معلوماتو راټولول:

د کلتوري میراثونو لومړنیو مرستو لپاره د وضعیت په تحلیل کې لومړنی ګام دا دی چې د بېړني حالت د قسم، د هغې د جغرافیایي موقعیت، د اغېزمن شوو کلتوري میراثونو ډول او ارزښت، د اووختي زیان د ډول او کچې او د ښکېلو ګټه/دلچسپي لرونکو او لوبغاړو په اړه ځانګړي معلومات راټولول دي.

## د یو بېړني حالت محتویات

١ کوم ولایت، سیمه، یا هیواد پکې ښکېل دی؟ د اړوندې سیمې جیو-کواردینات دقیق معلوم کړئ.

٢ لومړنی ګواښ چې د بېړني حالت لامل شوی، څه دی؟

٣ کوم دویمي ګواښونه کولای شي په اغېزمنه شوې سیمه کې کلتوري میراث لا زیات زیانمن کړي؟

٤ کومې ټولنیزې، اقتصادي یا سیاسي زیانمنتې کولای شي چې د کلتوري میراث زیانمننه لا زیاته کړي؟ بېلګه: خراب سرکونه کولی شي د پر وخت غبرګون مخه ونیسي، یا د قانون نه سرغړونه او بې نظمي کولای شي کلتوري میراث د لوټ/تالان د دویمي/ثانوي ګواښ سره مخ کړي.

٥ تاسو د وضعیت په کوم پړاو کې یاست؟

الف. ایا دا د بېړني حالت څخه دمخه مرحله ده (د بېلګې په ډول: د اور غورځېدني نه مخکې د هغې په اړه لومړنی خبرداری ورکړی شوی دی)؟

ب. ایا دا د بېړني حالت د پیل مرحله ده (د بېلګې په ډول: بلواګانې پیل شوي دي، توفان راروان دي)؟

ج. ایا دا د طبیعي ګواښ د پېښې یا د انسان لخوا د رامنځ ته شوي ګواښ د پېښې اغېزه ده، لکه د بمبارۍ/بم چاودنې پېښه؟

په داسې یوې پېښې کې چې مختلف ابعاد ولري د حالاتو پرمختګ یو شان نه وي. د بېلګې په ډولا کېدای شي یوه زلزله اور لګېدنه رامنځ ته کړي. په همدې ډول ممکن د دوامدار کړکېچ په صورت کې نوې لاس اچونې د سولې موجود توافق باندې منفي اغېزه وکړي. نو ځکه دا ډېره اړینه ده چې هغه مرحله په سمه توګه وپېژنئ چې په یو ځانګړي موقعیت کې په هغه کې قرار لرئ او په خپل پلان کې احتمالي پېښې په پام کې ونیسئ.

## تاريخي اغيزمن شوي اثار!

١ د کلتوري ميراث خومره، او کوم ډول شتمني ممکن اغيزمنه شي؟ که چيرې د کلتوري ميراث ډيرې شتمنۍ مطرح وي، ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د دې ټولو لپاره جيو– کواردينات لرئ. دا معلومات د ملي کلتوري وزارتونو يا د کلتور د ملي څانګو د موجوده د توکو د لست څخه ترلاسه کېدای شي.

٢ په سيمه کې د اغيزمن شوي کلتوري ميراث ارزښت څه دی، او د چا لپاره ارزښتناک دی؟ ايا دا داسې لست شوې ميراثي شتمنې ده چې سيمه ايز يا ملي ارزښت لري؟

٣ هغه ځايي باورونه يا چلندونه کوم دي، چې کولی شي د کلتوري ميراث لومړنۍ مرستې اغيزمنې کړي؟ دا کيدای شي د سرچينو او هغه خلکو شتون اغيزمن کړي چې مرسته کولی شي. د بېلګې په ډول، په نيپال کې د ٢٠١٥ کال د زلزلې د اغېزو وروسته، غير هندو بهرني ساختماني انجنيرانو ته اجازه نه وه ورکړل شوې چې د زيانونو د ارزولو لپاره د هندوانو د مندرونو داخلي ځايونو ته ننوځي. د دې لپاره چې لومړنۍ مرستې پداسې ډول پلان شي چې سيمه ايزو کلتوري او ټولنيزو شرايطو ته درناوی وشي ، دا اړينه ده چې په لاندې ټکو ځان پوه کړو:

الف. په سيمه کې موجود مذهبي عقايد.
ب. هغه ژبه او د ارتباطاتو سيستم چې خلک يې خوښوي.
ج. په کلتوري ميراث کې د نارينه او ښځو ونډه او ګډون.
د. د دغه سيمې د اصلي کلتوري ميراث په سکتور کې د لرګيو د ټولنې د کلتوري ميراث رانغښتل يا هغوی ته استازيتوب ورکول.
هـ د کلتوري ميراثونو اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې لپاره بهرنيو مرستو ته تمه.

٤ د پېښې دمخه د اغيزمن شوي کلتوري ميراث حالت څه و، د بېلګې په ډول د هغې فزيکي حالت څه و او زيانمنې يې څه وې؟ ايا دا بېرته په خپو دربدلی دی؟ ايا دا د همېشنۍ ساتنې لاندې و؟ ايا دا ښه ساتل شوی و؟ ايا دا ښه مستند شوی و؟ دا معلومات د هغو بنستونو يا ورکړو څخه ترلاسه کېدای شي چې د مربوطه کلتوري ميراث شتمنۍ اداره کوي.

دا ډېره اړینه ده چې د کړکېچ د پېښېدو د مخه ځایي کلتوري میراث په نخښنه او مستند شي، تر څو په راتلونکي کې د پېښې د رامنځته کېدو په صورت کې د کوم اوختي زیان پېژندنه شوني وي.  د ځایي ادارو کارمندانو ته باید په مستند سازۍ کې د دې په ګډون چې زیان څرنګه د عکسونو پواسطه ثبت کړي، روزنه  ورکړل شي.  (د نورو معلوماتو لپاره په محل/ ساحه کې د زیان او ګواښ ارزونه په۵۳ مخ کې وګورئ).

٥ ایا د اغېزمن شوي کلتوري میراث لپاره د بېړني مدیریت فعال پلانونه موجود دي؟ که داسې وي، د کلتوري میراث لپاره د ځایي/محلي غبرګون د همغږۍ د مسول وګړي (وګړو) د اړیکو تفصیلات راټول کړئ.

٦ په سیمه کې د کلتوري میراثونو شتمنیو ته څه ډول زیان اوختی دی؟ د ځایی پېژندل شویو سرچینو څخه معلومات راټول کړئ.



*د دوی د مذهبي عقایدو سره سم، د ځایي تولنې څخه راغلو رضاکارانو بې لدې چې خپل شخصي مصونیت په پام کې ونیسي  په ۲۰۱۶ کال کې یې د میانمار په باګان کې د زلزلې له کبله د ویجاړ شوي بودایي معبدونو او پاګوډانو د توټو د ژغورلو لپاره په لوڅو پښو کار وکړ. ځایي عقیدې او دودونه تل د کلتوري میراث لومړنۍ مرستې اغیزمنې کوي. په هرصورت، مخکې له دې چې د ناورین برید ترسره شي، باید هڅه وشي چې ځایي/ محلي تولنې د شخصي مصونیت د وسایلو د اغوستلو پرته د کلتوري میراثونو په ژغورلو کې د پرتو ګواښونو څخه خبر شي. عکس: اپرنا تندن، د اکرام موسسه*

## ګټه/دلچسپي لرونکي او لوبغاړي په ګوته کړئ

١. په اغیزمنه شوې سیمه کې د کلتوري میراث د شتمنیو مالکین څوک دي (اداري، بنسټونه/ اشخاص، وګړي/ټولنیزې ډلې)؟ د دوی د اړیکو معلومات راټول کړئ او د امکان په صورت کې د دوی کلتوري میراث ته د اوختي زیان په اړه د لومړني معلوماتو د راټولولو په موخه اړیکې ټینګې کړئ.

٢. هغه خلک یا ټولنې څوک دي چې د خپل معیشیت د وسایلو لپاره د کلتوري میراث په شتمنیو تکیه لري؟

٣. څوک د بېړني غبرګون د همغږۍ مسولیت پر غاړه لري او څوک اغېزمن شوو سیمو ته د لاسرسي کنټرول په لاس کې لري؟ د دوی د اړیکو معلومات راټول کړئ تر څو وروسته د اړتیا په صورت کې د ساحې د ارزونې لپاره ترې کار واخیستل شي.

٤. کومې ځایي/ سیمه ایزې ټولنې، رضاکارې ډلې یا د ساحې کارمندان د زیانونو او ګواښونو په ارزولو، او د مصونیت او ثبات د اقداماتو په پلي کولو کې مرسته کولای شي؟

٥. کوم بیړني غبرګون ښودونکي، د بېلګې په ډول د اور وژلو نظامي یا د ملکي دفاع کارمندان ، د اغیزمنو شوو کلتوري میراثونو لپاره د لومړنیو مرستو په پلي کولو کې مرسته کولای شي؟

٦. د اغېزمن شوي کلتوري میراث اړوند ګټه/دلچسپي لرونکي کوم ډول سرچینې برابرولای شي؟

٧. د بېړني حالت د کلیدي لوبغاړو او ګټه/دلچسپي لرونکو تر مینځ څومره همکاري موجوده ده؟

## د ګټه/دلچسپي لرونکو او لوبغاړو په نخښه کول/نقشه کول


د بصري نقشي جوړول د فرهنګي میراث په لومړنیو مرستو کې د ګټه/دلچسپي لرونکو او لوبغاړو ترمینځ د پیچلو اړیکو او د هغوی اړوند ګټو/دلچسپي لرونکو او ونډو د پېژندلو او پوهېدلو لپاره ګټوره وسیله کېدای شي. څنګه؟ په راتلونکی صفحی کی ذکر شوی مثال په پام کې ونیسئ، کوم چې د الف هیواد د یو مذهبي میراث په ځای کې د بمي چاودنې وروسته ګټه/دلچسپي لرونکي او لوبغاړي په ګوته کوي. پېښه د روان تاو تریخوالي په شرایطو کې رامینځته شوېده.

د الف هیواد اردو په اغیزمنه شوې سیمه کې د سولې ساتلو او د تروریزم ضد عملیاتو مسولیت پر غاړه لري. اوس مهال اردو ساحې ته لاسرسی کنټرولوي.

ځایي خلک چې د ساحې په شاوخوا کې ژوند کوي په بشپړ ډول په اردو باور نلري. دوی د مذهبي ځای سره کلک تړاو لري او غواړي چې دا وژغوري.

په اضافي **کلیدي ګټه/دلچسپي لرونکو او لوبغاړو** کی دا لاندی کسان شامل دی:

- د لرغونو اثارو دولتي بورډ، کوم چې په مذهبي ځای کې د ویجاړو شوو ودانیو او توکو لپاره د لومړنیو مرستو د چمتو کولو مهارت لري.
- د زیانمن شوي زیارت مذهبي بورډ، کوم چې د لرغونو اثارو د دولتي بورډ سره ضعیفې اړیکې لري، مګر مخکې له دې چې دولتي بورډ ته د لومړنیو مرستو د اقداماتو د تر سره کولو اجازه ورکړل شي، باید د مذهبي بورډ سره مشوره وشي.
- د کلتوري میراثونو بهرني سازمانونه، چې د بسپنې ورکولو/تمویل او تخنیکي مرستې لپاره ورسره د لرغونو اثارو د دولتي بورډ لخوا اړیکه نیول شوې ده.
- د کلتوري میراث ځایي کارپوهان ، څوک چې د ساحې په تاریخ پوهیږي، او د زیانونو په ارزولو، او د زیانمن شوي میراث په باثباته کولو او مصون کولو کې مهارت لري




په يوه ځانګړې حالت کې د ټولو ګټه/دلچسپي لرونکو او لوبغاړو په نخښه کولو سره، او د دوی د ګټو/دلچسپيو او خپلمنځي اړيکو په معلومولو سره، د ګټه/دلچسپي لرونکو او لوبغاړو نخښه کول بايد د لاندې مواردو په روښانه کولو کې مرسته وکړي:

- څوک کولی شي د اغيزمن شوي کلتوري ميراث ځای ته د ورتګ اجازه ورکړي؟
- څوک کولی شي د کلتوري میراث لپاره لومړنۍ مرستې تمويل کړي؟
- څوک کولی شي اجازه ورکړي چې د کلتوري میراث لپاره لومړنۍ مرستې پيل شي؟
- د ټولنې په کچه بايد له چا سره مشوره وشي او په کار کې راشريک شي؟
- څوک کولی شي هغه معلومات چمتو کړي چې د شرایطو سره د سم غبرګون لپاره اړين او د ځايي اړتياو په اړوند حساس وي؟

د ګټه/دلچسپي لرونکو او لوبغاړو نقشه د ټولو ګټه/دلچسپي لرونکو او لوبغاړو تر منځ د اړونده ګټو او د څواک د اړيکو په تړاو ښه پوهاوی رامينځته کوي ، کوم چې په پايله کې د احتمالي شخړو او غلطو انګيرونو مخه نيسي.

## معلومات تحلیل کړئ

١ راټول شوي معلومات تحلیل کړئ او د کلتوري میراث هغه شتمنۍ په ګوته کړئ، کوم چې:

الف. خورا ارزښتناکي دي.

ب. ډېري زیانمني شوي دي.

ج. یو څه زیان ورته اوختی او د ثانوي/دویمي ګواښونو پر وړاندې زیان منونکي دي، که چېرته پاملرنه ورته ونشي دا حالت د لا نور زیات زیان ګواښ رامینځته کوي.

٢ د کلتوري میراث هغه شتمنۍ په نخښه کړئ چې په ساحه کې د زیان او ګواښ ارزونې ته اړتیا لري. د کلتوري میراث هغه شتمنۍ چې په جزوي توګه یا په لوړه کچه زیانمني شوي او د نورو زیانونو له ګواښ سره مخ دي باید د ساحې د ارزونې لپاره لومړیتوب ورکړل شي. په همدې ډول، هغه شتمنۍ چې خورا ارزښتناکي دي او د ګواښ سره مخ دي، کېدای شي د ساحې د ارزونې لپاره غوره کړی شي (په چاپ شوي لست کې شاملې شي).

٣ د مهارتونو هغه ډول چې تاسي به ورته د ساحې د زیان او ګواښ د ارزونې لپاره اړتیا لرئ، په پام کې ونیسئ (۴۶ مخ وګورئ)، کوم چې شاید د زیان او ګواښونو د څېړنې سربېره، د ساحې او په هغې کې د موجودو ودانیو د مصونیت یوی ټولېزې ارزیابۍ ته هم اړتیا ولري. د بېلګې په ډول، د یوې تاریخي ودانۍ او د توکو د ټولګې لپاره د سېلاب څخه وروسته د ساحې ارزونه شاید د یو داسې ساختماني انجینر مرستې ته اړتیا ولري څوک چې د اوبو له امله د زیانمن شوو کلتوري میراثونو د جوړښتونو/ساختمان سره آشنا وي، او همدا ډول د توکو د ټولګې مدیر څوک چې د زیان او همدا راز د پاشل کېدو او زنګ وهنې د ګواښونو ارزونه کولای شي. په ورته ډول ، د جګړې وروسته د ورته کلتوري شتمنیو ارزونه ممکن لومړی د چاودیدونکو توکو لپاره د مصونیت/خوندیتوب کتلو/چک ته اړتیا ولري.

د بېړني حالت کچې ته په کتلو سره د دې ارزونه چې ایا هغه جوړښتونه لکه ښوونځي، روغتونونه، هستوګنځي چې په مصیبت ځپلې سیمې کې واقع دي د کارونې وړ دي او که نه. چې دا کار د بېړني حالت په وړاندې د غبرګون ښودلو د یوې برخې په ډول صورت نیسي. په داسې حالاتو کې دا ډول ارزونې په کلتوري میراث پورې اړوند جوړښتونو ته لومړیتوب نه ورکوي. نو څکه باید، د هڅو د همغږي کولو لپاره، د بېړني غبرګون ښودلو د بنسټ/اداري د استازی شتون د کلتوري میراثونو د وضعیت په ارزونه کې یقیني کړئ

٤ د شته معلوماتو پر بنسټ، په هره ساحه کې د اړتیا وړ سمدستي د مصونیت/خوندیتوب اقدامات تحلیل کړئ (۷۳ مخ وګورئ). د بېلګې په ډول، ایا ساحه باید وپوښل شي، یا د ساحې د ساتنې لپاره یو ساتونکی باید وګمارل شي؟ د غیر ملموس میراث په صورت کې فکر وکړئ چې، په عمل کې بوخته ټولنه د بېړني حالت څخه د راوتلو لپاره کوم ډول مرستې ته اړتیا لري.

٥ د اکمالاتو او تجهیزاتو هغه ډولونه په نخښه کړئ ( د سامان بکسه، ۹ مخ وګورئ) کومو ته چې تاسې د ساحې د زیان او ګواښ د ارزونې د تر سره کولو لپاره اړتیا لرئ.

٦ د ګټو/دلچسپي لرونکو او لوبغاړو د نقشې په کارولو سره، دا خبره په ګوته کړئ چې کوم ګټه/دلچسپي لرونکي او لوبغاړي کولی شي تاسو ته د ساحې د کار لپاره اجازه درکړي، د لاسرسی زمینه درته برابره کړي، سرچینې چمتو کړي، لوژیستیک تنظیم کړي او د لاندي مواردو لپاره مهارتونه چمتو کړي:

الف: په ساحه کې د زیان او ګواښ ارزونې.

ب. په هره ساحه کې د مصونیت او باثباته کولو عملیات.

ج. په هره ساحه کې د ترسره شوي کار ارزیابي او څارنه.

٧ په اغیزمنه شوې سیمه کې د غوره ځایي ژبې (ژبو) یا د اړیکو د بنو په اړه د شته معلوماتو پر بنسټ، د بېړني حالت د لوبغاړو، ګټه/دلچسپي لرونکو، اغیزمنو شوو ټولنو او د رسنیو د ګروپونو سره د اړیکو لپاره ستراتیژۍ جوته کړئ.

## په ساحې کی د لومړنيو مرستو د عملياتو لپاره پلان جوړكړئ

د تولو راټولو شوو معلوماتو له تحليل وروسته، پايلې د کلتوري ميراث د لومړنيو مرستو د پلي كولو په موخه د ستراتيژيک پلان د جوړولو لپاره وکاروئ، چې لاندې موارد روښانه کړي:

١ په ساحې کی د سرته رسيدونكو عملياتو اټكل شوی وخت، د كار اندازه او د كار دايره، لګښتونه او موخې.

٢ د ادارو/بنسټونو ونډه او مسوليتونه، د بېړني حالت لوبغاړي، کلتوري لومړي مرستندويان او ښكېلې رضاكارې ډلې.

٣ په ساحه کې د ارزونو، مصونيت او د باثباته كولو د اقداماتو د پيل كولو لپاره اړينې رسمي اجازې او تولنيزې مشورې.

٤ **د ارتباطاتو پلان**: د ارتباطاتو كومې وسيلې به كارول كيږي؟ څوک به مسؤل وي؟

٥ د ساحې د كار لپاره اړين چمتووالی او سرچينې، د کلتوري ميراث شتمنيو لپاره د پېښې دمخه ځانګړي اسناد، او د ساحې د كار لپاره د اړتيا وړ بېړني اكمالاتو او تجهيزاتو د لست په شمول.

٦ د لومړنيو مرستو د مخه د رضاكارانو او د بېړني غبرګون ښودونكو لپاره په ساحه د اړينې روزنې/لنډو معلوماتو ډول.

٧ د لومړنيو مرستو د پلي كولو لپاره د مصونيت او كيفيت د كنترول معيارونه.

٨ د ارزيابۍ معيارونه او طريقې: ارزيابي به څوک كوي؟ او څنګه به يې كوي ؟

٩ د څارنې تنظيم: څوک به څارنه کوي؟ څه وخت به يې کوي؟

پام مو وي چې په ساحې کې د زيانونو او ګواښونو ارزونه داسې دقيق معلومات احتوا کوي چې شايد د لومړنيو مرستو لپاره ستراتيژيک پلانونه بدل يا اصلاح كړي.

## د شخړې تحلیل څه شی دی؟

د شخړې تحلیل یوه وسیله ده چې د شخړې د بنیادي لاملونو په ګوته کولو کې مرسته کوي، او د هغو محرکاتو په پوهېدو کې مرسته کوي چې کېدای شي یوه بالقوه شخړه په بالفعل شخړې بدله کړي. ممکن د کلتوري میراثونو قصدي په نخښه کول په دی محرکاتو کی نغښتي وي.

## د شخړو تحلیل څرنګه ترسره شي؟

لاندې د شخړو د تحلیل لپاره یو درې مرحله ایز میتود خلاصه شوی دی: دا په هغو لارښوونو بناء دی چې په انګلستان کې د نړیوالې پراختیا څانګې (DFID) لخواء چمتو شوی او د کلتوري میراث لپاره د لومړنیو مرستو او اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې د لومړیتوبونو د جوته کولو لپاره کارول کېدای شي.

۱. **د شخړې د لاملونو تحلیل:** د دې لپاره چې د شخړی تر شا لاملونو باندې پوه شو، دا اړینه ده چې سیاسي، ټولنیز، اقتصادي او امنیتي اړوند زیانمننې تحلیل کړو. پدې تحلیل کی باید مختلف نظریات نغښتي وي، او لاندې عناصر په کې شامل وی:

الف: د شرایطو پراخ تحلیل (د شخړې تاریخ، فزیکي او د سیمې د نفوسو په ترکیب پوری مربوطې/تړلې ځانګړتیاوې، او ساختاري ناانډولۍ.
ب. د ترنګلتیاوو او شخړو د سرچینو نقشه، په کوم کې چې ممکن کلتوري سمبولونه/نخښې نغښتې وي.
ج. د کلتوري میراث د سکتور په ګډون په بېلابېلو سکتورونو کې د ترینګلتیا د سرچینو تر مینځ د اړیکو په ګوته کول.

۲. **د هغو لوبغاړو تحلیل څوک** چې پر کړکېچ اغیزه لري یا د کړکېچ نه اغېزمن شوي وي. دا د لنډ مهاله هڅونو او ګټو پر تحلیل تمرکز کوي او باید پدې کې لاندې موارد نغښتي وي:

الف. د ټولو لوبغاړو لست چې په کړکېچ کې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول ښکیل دي.
ب. د ګټو، اړیکو، ظرفیتونو، د سولې د اجنډا او د هر لوبغاړي لپاره د هڅونو تحلیل.

ج. بصري نقشه

**پاملرنه:** د دې لپاره چې هغه کړکېچونه تحلیل کړو چې کلتوري میراث ورپکې ښکیل وي، په دوهم پړاو کې باید د اغېزمن شوي کلتوري میراث په اړه د ګټو او دلچسپیو په ګوته کول اونقشه کول نغښتي وي.

**د.۳ د شخړو د انګېزو/تحرکاتو تحلیل:** دا ارزونه د کړکېچ د زیاتوالي، کموالي، یا په خپل حال د پاتې کېدو احتمال څېړي او همداراز د لنډ مهاله او اوږد مهاله ښکېلو انګېزو/محرکاتو سره سروکارلري. پدې کې باید لاندې موارد نغښتي وي:

الف. د اوږد مهاله تمایلاتو تحلیل.

ب. د احتمالي لنډ مهاله انګېزو/محرکاتو ارزونه.

ج. د هغو فکتورونو ارزونه چې احتمال لري د کړکېچ انګېزه/محرک چټک یا ورو کړي. (اداري/بنسټونه او پروسې په پام کې ونیسئ)

د. د کړکېچ د احتمالی سناریوګانو څېړنه.

**پاملرنه:** د دې لپاره چې اغیزمن شوي کلتوري میراث ته متوجه ګواښونه د ژر بېرته اصلي حالت د راګرځېدنې پر مهال تحلیل شي (۱۲۵ مخ وګورئ)، پدې پړاو کې باید دا ارزونه هم ترسره شی چې د کلتوري میراث بېرته اصلي حالت ته د راګرځونې لپاره تر سره شوي اقدامات/کړنې به په کړکېچ کې د ښکېلو ډلو لخواء ځنګه وانګیرل شي.

حوالی په ۱۵۵ مخ کې وګورئ.

## خپل بیړنی چمتووالی لا نور ښه کړئ!

کچېرته ستاسو په ښار کې بېړنی حالت پېښ شي، او د کلتوري میراث یو شمیر تولګې او ساحې اغیزمنې شي، نو:

الف. ستاسو په فکر څوک باید د وضعیت د تحلیل په تر سره کولو کې ګډون وکړي؟

ب. تاسو به څرنګه ورسره اړیکه ونیسئ؟

ج. ایا تاسو د خپل ښار داسې نقشه لرئ، کومه چې د ټولو کلتوري میراثونو د ساحو دقیق موقعیتونه په نخښه کوي؟

د. ایا د لومړیتوب داسې لست شته کوم چې د بېلابېلو کلتوري میراثونو د شتمنیو ارزښت درجه بندي کوي؟

## د وضعیت د تحلیل نه وروسته څه باید ترسره شي؟

ستاسو په سیمه کې د بېړني حالت په تعقیب، تاسو د ډېری ګټه/ دلچسپي لرونکو، د ټولنې د غړو او د بېړني حالت اړوندو لوبغاړو سره د **وضعیت تحلیل** ترسره کړی دی، تاسو د ملموس او غیر ملموس کلتوري میراث شتمنۍ چې زیانمنې شوي دي او/یا د لا خرابیدو له ګواښ سره مخ دي، په نخښه کړي دي.


## ستاسو راتلونکی ګام باید څه وي؟

په دی باندی د پوهیدو لپاره لوستل جاري وساتئ!

دویم قدم

# د پېښې نه وروسته په ساحه کې د زیان او ګواښ ارزونه





## د پېښې څخه وروسته په ساحه کې د زيان او ګواښ ارزونه څه ده؟

د وضعيت د تحليل ترسره کول د هغو ملموسو او غير ملموسو کلتوري ميراثي شتمنيو په جوته کولو کې مرسته کوي کوم چې په ساحه کې چټکو تفتيشونو ته اړتيا لري. دا د پېښې څخه وروسته په ساحې کې د زيان او ګواښ د ارزونو په نوم پېژندل کېږي.

د دې ډول ارزونو لپاره د ميراثي شتمنيو په ګوته کول د دوی په ارزښت، د اوختي زيان په کچې، او د لا زياتو زيانونو د ګواښ پر بنسټ صورت نيسي.

په ساحه کې د اوختي زيان او ګواښ په ارزونه کې د زيانونو بصري معاينه او مستند کول نغښتي دي. دا د هغو واقع شوو ګواښونو د ارزيابۍ لپاره ګټور دي، که چاره يې ونشي، کلتوري ميراث ته د لا زيات زيان رسونې لامل کېدای شي. د پېښې دمخه معلوماتو پر بنسټ، دا د فزيکي زيان کچه او هغه څه ثبتوي چې خوندي کېدای شي. سربېره پردې، دا د اوختو زيانونو ارزونه کوي – د بېلګې په ډول، دا ارزوي چې ناورين خلک، د دوی عايد، او د دوی زيربناوې څنګه اغېزمنې کړې دي.

دا مهمه ده چې د پېښې څخه وروسته د کلتوري ميراث د ټولو ډولونو لپاره بشپړه ارزيابي ترسره شي، لکه منقول، غير منقول او غير ملموس کلتوري ميراثونه. په دې کار کې پاتې راتلل د وخت او سرچينو د بې ځايه کارونې او اصلي حالت ته د بېرته ګرځونې د اړتياوو د ناسم اټکل لامل کېدای شي. دا اړينه ده، ځکه دا به د وضعيت د تحليل پر مهال د په ګوته شوو اقداماتو د پلي کولو لپاره ستراتيژيک پلان ته معلومات چمتو کړي.



*يو ټيم په هنومان کې په ساحه کې د اوختي زيان او ګواښ ارزونه ترسره کوي د ډوکا قصر موزيم په کټمندو، نيپال کې، ۲۰۱۵ کال – عکس: د اکرام موسسه*

## په ساحه کې د زیان او ګواښ ارزونه ولې ترسره کړو؟

د اغیزمنې شوې ساحې (ساحاتو ) لومړۍ معاینه تاسو ته اجازه درکوي چې د ساحې / ودانۍ / شي د حالت په اړه نور داسې معلومات راټول کړئ کوم چې د وضعیت د تحلیل پر مهال تر لاسه کېدای یا کره کېدای نشي.

په ساحه کې ارزونه دا فرصت برابروي چې:

- دا په ګوته کړي چې ناورین د ګټه/دلچسپۍ لرونکو پراخه ډله ځرنګه اغېزمنه کړېده، د بېلګې په ډول د ټولنې د خلکو، ځايي مشرانو، پلورونکو، څوک چې په ساحه کې یا ساحې ته نږدې یادګاري توکي یا سوغاتونه پلوري، یا د نږدې میلمستونونو چلونکو سره د خبرو له لارې.
- هغه ګواښونه په ګوته کړي چې په نظر راځي او هغه اقدامات په ګوته کړي چې د دې ګواښونو شدت کموي.
- د مصؤنیت، باثباته کولو او په بشپړ ډول بېرته اصلي حالت ته د راګرځېدنی لپاره په ساحې پورې اړوند لګښتونه اټکل کړي.

په ساحه کې د زیان او ګواښ ارزونه د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو او بېرته اصلي حالت ته د راګرځېدنې لپاره د اړینې بسپنې د راجلبولو لپاره کارول کېدای شي. دا ډول ارزونه د ناورین څخه وروسته **(Post-Disaster Needs Assessment (PDNA)** د اړتیاوو د ارزونې لپاره معلومات چمتو کولای شي: PDNA یو ګڼ- سکتوري د ارزونې میتود دی چې د اغیزمن شوو حکومتونو سره مرسته کوي ترڅو مستقیمې اغېزې، اوږدمهاله اغېزې او بېرته اصلي حالت د راګرځېدنې اړتیاوې د لوی کچې د ناورین څخه وروسته جوتې کړي.

ځینې هیوادونه د ناورین څخه وروسته بېرته اصلي حالت ته د راګرځېدنې د اړتیاوو د ارزولو لپاره خپل میتودونه لري. د ناورین څخه وروسته د اړتیاوو ارزونه یوازې هغه وخت ترسره کېږي کله چې یو هیواد د نړیوالو سازمانونو لخه ملګرو ملتونو څخه د مرستې غوښتنه کوي.

## تاسو به څرنګه په ساحه کې د زیانونو او ګواښونو بشپړه ارزونه تر سره کړئ؟

لاندې، د جوړ شوي، منقول (شیانو او توکو)، او د غیر ملموس کلتوري میراث لپاره په ساحه کې د زیان او ګواښ د بشپړې ارزونې ګام په ګام کاري جریان ورکړل شوی دی.

### د پېښې څخه وروسته په ساحه کې د زیان او ګواښ ارزونې لپاره کاري جریان



## تیاری وکړئ

د وضعیت د تحلیل نه لاسته راغلي معلومات د داسې یو اساس په توګه وکاروئ چې:

**١ ساحې ته د ورتلو اجازه ترلاسه کړئ او اړیکې ټینګې کړئ:**

اغېزمنې شوې ساحې (ساحو) ته د داخلیدو لپاره چېرته چې لزوم ولري د کلتوري میراث د حفاظت کوونکو، او د بېړني حالت د غبرګون د همغږۍ کوونکو او یا پېښې ته د غبرګون ناظم نه اجازه تر لاسه کړئ. د کارمندانو یا سرپرستانو، څوک چې د پېښې څخه د مخه د اغېزمن شوي کلتوري میراث په اړوند ژوره پوهه لري، د اړیکو ټینګولو لپاره معلومات تر لاسه کړئ.

**٢ ټیم/ډله چمتو کړئ:** د ساحې د زیان او ګواښ ارزونې ترسره کولو لپاره یو ټیم/ډله برابر او چمتو کړئ. ټیم/ډله باید د ګواښ د پېښې د نوعیت، د بېړني حالت د اندازې، او د اغیزمن شوي کلتوري میراث له ډول سره سم جوړ شي. د لویې کچې بېړني حالت په صورت کې ارزونه په ګڼو ساحو کې د رضاکارانو او د بېلابېلو مسلکونو څخه د راټول شوو کارپوهانو لخوا ترسره کېدای شي لکه مهندسي (ساختماني) انجینري، د موزیم مطالعات، د شیانو ساتنه او د خلکو خصوصیات. د بېړني حالت د کړو وړو او اوختي زیان پر بنسټ، نظامي پرسونل او بېړني حالت ته غبرګون ښودونکي، لکه د ساختماني مصونیت انجنیران په دې ډول ارزونو کې ونډه اخیستلای شي. سربېره پردې، د لوی یا پېچلي بېړني حالت په صورت کې، دوی کولی شي د ارزونې د ترسره کولو لپاره لوژستیکي ملاتړ چمتو کړي.

دا مهمه ده چې هغه ډلې چې ارزونه ترسره کوي روزل شوي وي، ترڅو د لاندې مواردو په ګډون د اعتبار وړ اسناد چمتو کړي:

الف. د زیان او ګواښونو د ثبتولو لپاره د ارزونې د فورمو او د فرش/سکېچ پلانونو یو ډول کارونه.

ب. عکسونه په مخکې ټاکل شوي او معیاري شاتونو کې (اوږده شاټونه یا لنډ شاټونه) د یو ځانګړي ډول زیان یا د خسارې د څرګندولو لپاره.

ج. د اوختي زیان د شدت د کچې لپاره هغه درجه وکاروئ چې له مخکې نه تعریف شوې وي. د مثال په ډول ډېر شدید، نه ډېر شدید نه ډېر خفیف، یا خفیف. او په همدې ډول هغه ویجاړتیا توضیح کړئ چې شیانو، جوړښتونو او غیر ملموس میراث ته اوختي وي.

د. د اوختي ويجاړتيا او خسارې د معلوماتو د راغونډولو/تدوينولو لپاره د هغو فورمو کارول چې پخوا پرې موافقه شوې وي او په کومو چې د بېړني حالت لوبغاړي ، ګټه/ دلچسپي لرونکي او بسپنه ورکوونکي/تمويلونکي په اسانۍ پوهېدلی شي.

د دې لپاره چې د اسنادو د معياري ترتيبولو، د کړنو او د ګواښ او زيان د ارزونو د نمونو څو مثالونه وګورئ، ۱۵ مخ کې د سامان بکسې ته مراجعه وکړئ.

په ساحه کې د ارزونې د ډلو لپاره په لاړښوونه کې بايد د شخصي مصؤنيت د ډاډمن کولو لارې چارې نغښتې وي. برسېره پر دې، هغه رضاکاران چې د ساحې د ارزونې لپاره غوره شوې وي بايد د سيمې د ټولنيزو او کلتوري شرايطو سره آشنايي ولري، او د اغېزمنې شوې ټولنې د خلکو سره د هغوی په ژبه کې د خبرو اترو کولو او اړيکو ټينګولو وړتيا ولري.

## ۳ د پېښې دمخه معلومات راټول کړئ

د پېښې څخه دمخه لاندې اسناد راټول کړئ:

الف. يوه داسې نقشه چې د اغېزمن شوي کلتوري ميراث جغرافيايي کواردينات (geo-coordinates) په ګوته کوي.


ب. که موجود وي د ساحې نقشه (د سامان بکسه، ۱۱ مخ) يا د سپوږمکۍ لخواء اخيستل شوی تازه عکس.

ج. چيرې چې د تطبيق وړ وي، د فرش پلانونه (floor plans) راټول کړئ، که نه نو د سکيچ پلان چمتو کړئ.

د. د ساحې اړوند د توکو لستونه، کوم چې د ودانيو ډول، شمېر، او موقعيت، شيان او غير ملموس عناصر تشريح کوي.

هـ. د ناورين څخه دمخه د اغېزمنو شوو ساحو، ودانيو، شيانو او د غير ملموس کلتوري ميراث عکسونه (په خاص ډول اوړده يا سورور شاتېونه)

په ياد ولرئ چې د معلوماتو ډول او ارزښت به د اغېزمن شوي کلتوري ميراث د ډول پر بنسټ د پام وړ توپير ولري. د موزيم په څېر د يوې کلتوري ادارې لپاره د فرش تفصيلي پلان او د توکو لست د داسې يوې نقشې نه ډېر مهم دی چې جغرافيايي کواردينات هم ولري. په ورته وخت کې، د داسې يو ناورين لپاره چې يوه لويه سيمه اغېزمنه کړې، د




*د ښار د ماڼۍ د ساحې نمونه ای نقشه، اوډي پور، هند، ۲۰۰۹ کال. عکس: روهیت جیګیاسو*

انفرادي جوړښتونو د فرش پلانونه ممکن ستاسو د ارزونې د موخو لپاره خورا مفصل وي.

## ٤ وسایل او تجهیزات

د زیانونو او ګواښونو د مستند کولو لپاره وسایل راټول کړئ ، لکه د اضافي بیټریو سره کېمره ، او د زیان او ګواښ د بشپړې ارزونې فورمه (په ١٥ مخ کې د سامان بکسه وګورئ)، کومه چې په شرایطو متمرکزه او د کارونکي لپاره اسانه ده.

د ګواښ د پېښې د نوعیت سره سم د شخصي مصؤنیت تجهیزات او جامې برابرې کړئ. د بېلګې په ډول په یوه سیلاب ځپلې سیمه کې د ساحې د ارزونې لپاره، ادا خبره یقیني کړئ چې تاسو د اوبو په وړاندې مقاوم بوټان او د کوچنیو فلټرونو درلودونکي محافظتي ماسکونه لرئ، تر څو د مصاب کېدو مخنیوی وکړي. د سامان په بکسه کې د شخصي محافظتي تجهیزاتو عمومي لست وګورئ (١٠ مخ وګورئ).

## ٥ لوژیستیک او د ارتباطاتو وسایل

د لاندې مواردو د لګښتونو په پام کې نیولو سره په ساحه کې د ارزونې لپاره بودجه اټکل کړئ.

الف. ترانسپورت

ب. د استوګنې ځای

ج. خواړه او د څښاک اوبه

د. مصؤنیت او امنیت

ه. د ارتباطاتو وسایل

و. د ارزونې پرمهال د معلوماتو ثبتولو تجهیزات

ز. د ساحې د ابتدایي خوندي کولو لپاره توکي، د بېلګې په ډول رسۍ، د خبرداری ورکولو فیتې، نخښې، د نخښو لوحې، ترپالونه او داسې نور.

ح. کارمندان

کله چې د بودجې اټکل چمتو شي، اړینه بسپنه لاسته راوړئ، او د هر ډول

د پراخه بیړني حالت په صورت کې چې ډېرې ساحې یې ځپلې وي، اغیزمنې شوې سیمې ته نږدې د کیمپ دفتر جوړ کړئ، ترڅو د ساحې د ارزونې ترسره کولو ډلو لپاره د همغږۍ د مرکز او د عملیاتو د قرارګاه په توګه کار وکړي.

- لوژیستیک د ځای پر ځای کولو لپاره اقدامات وکړئ.

### ۶ خپل پلان همغږی کړئ

خپل پلان د بېړني حالت د نورو لوبغاړو او ادارو سره چې په سیمه کې فعالیت کوي، همغږی کړئ. د دې کار کول مهم دي، ځکه چې د عامه ودانیو د جوړښت له نظره ارزونه، د مصؤنیت له نظره ارزونه، او لدې نظره اروزنه چې آیا بیا د استعمال وړ ده او که نه، ممکن په یو وخت کې ترسره شي. په دې ډول ودانیو کې معمولاً موزیمونه، کتابتونونه، آرشیفونه او د کلتوري میراث جوړښتونه شامل دي. په همدې ډول، د بېړني حالت د مدیریت ادارې ممکن د کلتوري میراث د ځایونو په حدودو کې په خلاصو ځایونو کې لنډمهاله سرپناه ګانې جوړې کړي. د دوی کار ممکن د ساحې د ارزونې او د کلتوري میراث د مصؤنیت او یا باثباته کولو د اقداماتو سره په یو وخت کې صورت نیسي.

چېرته چې د کلتوري میراث ساحې د لومړنیو مرستو پر مهال د لنډمهاله سرپناه ګانو د جوړولو لپاره کارول کیږي، د کلتوري میراث د حفاظت کوونکو سره مشوره وکړئ ترڅو د ساحې د مصؤنه کارونې لپاره درته لارښوونه وکړي.

## ساحه معاینه کړئ

۱ د ساحې دننه او شاوخوا وګرځئ او پدې ځان پوه کړئ چې آیا ټولو برخو ته ازادانه لاسرسی لرئ. د ساحې په پلان کې د لاسرسي نقطې په نخښه کړئ.

۲ په ګوته یې کړئ، نخښې پرې ولګوئ، او که اړتیا وه ساحې ته د لاسرسي لپاره خوندي لارې چمتو کړئ، په ځانګړې ډول د داخلیدو د ځای نه تر هغه نقطې پورې چې وسایط هلته تللای شي او پارک/تم کېدای شي. خوندي سیمې ته د چټکو ورتلو د اړتیا په صورت کې، د ساحې نه د مصؤنو وتلو او تخلیې لارې هم په ګوته کړئ.

۳ که ودانۍ ته داسې زیان اوختی وي چې مشاهده کېدای شي، نو د ساختماني انجنیر سره مشوره وکړئ. که ودانۍ ته ننوتل مصؤن وي، د فرش په پلان (floor plan) کې د ودانۍ دننه برخې ته د لاسرسي خوندي لاره په نخښه کړئ. کچېرته د فرش پلان نه وي نو د سکیچ پلان جوړ کړئ.

د دیوال د ثبات د ابتدایي ارزونې د تر سره کېدو دمخه دیوال ته دومره مه نږدې کیږئ چې ستاسو او د دیوال تر منځ فاصله د دیوال د ارتفاع/لوړوالي نه کمه وي. د غیر چوکاټ شوو ( د بار–اوچتونکو) ساختمانونو د کنج د دیوالونو نه، کوم چې د نورو دیوالونو څخه لوړ او معمولا ډېر زیان منونکي دي، ځان لیرې وساتئ



*قیچي شکله دیوال، ګجرات، هند، ۲۰۱۵ کال عکس: روهیت جیګیاسو*

٤ اصلي ساختماني عناصر په ګوته کړئ: آیا دا یو چوکاټ شوی یا غیر چوکاټ شوی (د بار–اوچتونکی) ساختمان دی؟ کوم ډول چت لري؟ دا به د ودانۍ د تر ټولو زیاتو زیان منونکو برخو په ګوته کولو کې مرسته وکړي، او دا هغه څه دي چې کلتوري لومړني مرستندویان او رضاکاران اړتیا لري چې باید ترې خبر وي.

٥ د بېړني حالت د ځایي مدیرانو په مرسته، د ساحې دننه او په شاوخواء کې یې د کار او ذخیره کولو لپاره خوندي ځایونه په ګوته کړئ، کوم چې رضاکاران او کلتوري لومړني مرستندویان د مصؤنیت او د باثباته کولو د اقداماتو د ترسره کولو لپاره کارولی شي.




*د زلزلې له امله زیانمن شوی غیر چوکاټ شوی جوړښت، ایتالیا، ۲۰۱۷ کال انځور: ایزوکی نیشیکاوا*

٦ بنسټیزو خدماتو او زیربنا ته اوختی زیان په ګوته او ثبت کړئ، د بېلګې په ډول برېښنا، د اوبو رسول او داسې نور. که دا کار لا تر اوسه نه وي ترسره شوې، د اوبو، برېښنا او ګاز تجهیزات قطع کړئ. په یاد ولرئ چې تاسو ممکن وروسته په ساحه کې د شیانو د ثبات لپاره تازه اوبو او برېښنا ته اړتیا ولرئ.

٧ ځان پوه کړئ چې آیا په ساحه کې خو داسې شیان نشته لکه بهرنۍ یا ناکاره ملبه، یاخطرناک کثافات یا کیمیاوي توکي چې له مینځه وړل غواړي. که داسې توکي موجود وي نو د ساحې په نقشه کې یې موقعیت په نخښه کړئ. په داسې حالاتو کې د ناورین څخه وروسته د ملبې مدیریت لپاره او د کثافاتو له مېنځه وړلو روزل شوي کارپوهان باید راوغوښتل شي. په ورته وخت کې، وګورئ چې آیا په ساحه کې خو د ودانۍ ماتې شوې برخې یا د ارایشي توکو ټوټې ، چې باید خوندي شي، نشته، که وي نو د ساحې په نقشه کې د هغوی موقعیت په نخښه کړئ.

## غیر منقول میراث ته اوختي زیانونه ثبت کړئ

۱ د لرغونو اثارو د ساحې په صورت کې، د ساحې په نقشه کې اوختی زیان په نخښه کړئ، او د کلتوري میراثي ودانیو په صورت کې په فرش پلانونو کې، د ودانۍ مخامخ نما او د عمودي مقطع یوه برخه/سیکشن (که وي ) په نخښه کړئ؛ که نه نو، د اوختی زیان په سکیچ پلان کې يې ثبت کړئ. که په ساحه کې یاست یا په ودانۍ کې، په هرصورت، یوازې لوی زیانونه ثبت کړئ: وخت به محدود وي، او دا مهمه ده چې جدي ګواښونو ته د جواب ویلو لپاره د غبرګون ښودلو د اقداماتو لومړیتوبونه په ګوته شي، د بېلګې په ډول، د دیوالونو هغه برخې چې د کږېدو له امله د نړېدو په حال کې دي، د دیوال بهر لوري ته کږېدل، د کانکریټ د سطحې نه جدا کېدل، یا لوی او ژور درزونه. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د سامان د بکسې په ۲۸ مخ کې میراثي جوړښتونو ته د بېلابېلو ګواښونو لاملونو له کبله د داسې اوختي زیان په اړوند، چې پېښېدل یې عام وي، لارښود ته مراجعه وکړئ.




*نمونه ای سکیچ پلان، مخامخ نما او د عمودي مقطع یوه برخه، روم، ۲۰۱۸ کال. انځور: ایزوک نیشیکاوا*

۲ د اغېزمنې شوې ودانۍ یا ودانیو په صورت کې: تر څو چې یو ګمارل شوی کارپوه تاسو ته د داخلي سروې کولو اجازه درکوي، له خوندي فاصلې څخه یوازې ودانۍ ته اوختی بهرنی زیان ثبت کړئ.

۳ داسې عکس واخلئ چې د اوختي زیان حالت بشپړ څرګند کړي. (اوږد یا له بره نه ښکته شاټ) او د ساحې په نقشه / د فرش په پلان کې د عکس اړوند د حوالې شمیره ولیکئ. د ارزونې په فورمه کې د زیان ډول، موقعیت او شدت تشریح کړئ.

٤ که لویه ساحه اغیزمنه شوې وي نو په هغې کې واقع تولې ودانۍ په ګوته کړئ، او که یوه ودانۍ اغیزمنه شوې وي نو په هغې کې موجودې هغه خونې په ګوته کړئ چې ساختاري او غیر ساختاري عناصرو ته یې لوی زیان اوختی وي، او په اړوند فرش پلانونو کې یې موقعیت په نخښه کړئ. د هرې ودانۍ لپاره د ارزونې جلا فورمه چمتو کړئ او د زیان د ډول او کچې د تشریح کولو لپاره یې وکاروئ. که امکان ولري، د زیان عکس واخلئ او د فرش په پلان کې یې د حوالې شمیره په نخښه کړئ.

٥ د هغو خلکو سره خبرې وکړئ څوک چې په ساحه کې کار کوي یا اوسیږي. دوی ممکن د خاورو/ملبې لاندې شیانو اړوند/په هکله، او یا هم ستاسو د ورتګ نه مخکې د ساحې د وضعیت اړوند/په هکله ارزښتناک معلومات ولري.

٦ اقتصادي زیانونه ثبت کړئ – د بیلګې په ډول، د کلتوري میراث ساحې یا میوزیم ته د لاسرسي لپاره د ټکټونو له پلورلو څخه په ترلاسه شوې عاید کې زیان.

د سامان د بکسې ۱۵م مخ وګورئ، هلته به داسې لارښوونې او د معلوماتو د راټولولو د فورمو نمونې ومومئ چې غیر منقول او منقول کلتوري میراث ته د اوختو زیانونو او ګواښونو د ارزونې لپاره ترې کار اخیستی شئ.

## د کلتوري میراث توکو او ټولګو ته اووختی زیان ثبت کړئ

١. هغه خونه/ساحه چې د زیانمن شوې کلتوري میراث ویجاړ شوي توکي ولري، په ګوته کړئ او که د فرش پلان وي نو په هغه کې یې په نخښه کړئ، که نه نو د سکیچ پلان وکاروئ.

٢ د زیانمن شوو شیانو د شمېر د معلوموملو لپاره او د هغه موادو د معلوموملو لپاره چې دوی ترې جوړ شوي دي، لکه ډبره ، لرګی ، کاغذ یا فلز، د پیښې دمخه د توکو لست او خپله بصري مشاهده وکاروئ. دا معلومات باید ستاسو د زیان او ګواښ د ارزونې په فورمه کې ثبت شي.

٣ هڅه وکړئ چې د اوختي زیان ډول او کچه جوته کړئ. د بېلګې په ډول، دا خبره ثبت کړئ چې آیا شیان مات شوي او که یوازې ظاهري بڼه یې بدله شوېده. وګورئ چې آیا توکي لانده، وچ، په خاورو ککړ یا سوځېدلي دي. د ارزونې په فورمه کې خپل مشاهدات ثبت کړئ.

٤ دا حالت ثبت کړئ چې آیا توکي خو د چاپیریال له اغېزو سره، یا د ګواښوونکو توکو له خطرې سره لکه کیمیاوي مواد، او یا د انساني فضله مواد د اغیزې سره مخ ندي.

٥ د زیانمن شوو شیانو عکسونه واخلئ. که تاسو دوی په یو یا څو انبارونو کې یوځای ومومئ، د هر انبار یو پراخه شاټ واخلئ. د اخیستل شوو عکسونو د حوالې شمیرې د اروزنې په فورمې او د فرش په پلان کې ثبت کړئ




په هانومان ډوکا، کټمنډو، نیپال کې د ویجاړې شوې مجسمې  عکسونه: اپرنا تنډن، د اکرام موسسه

## پر غیر ملموس کلتوري میراث باندې د ناورین اغېزې ثبت کړئ

په ټولنه کې د اړوندو ډلو (مذهبي مشرانو، ښځینه ډلو، مشرانو، د صنایعو اتحادیو، او داسې نورو) سره بحث وکړئ چې کوم غیر ملموس کلتوري میراث اغیزمن شوی او څرنګه؟

د داسې مشورو لپاره د ګټه/دلچسپي لرونکو او لوبغاړو د هغې نقشې پایلې وکاروئ کومه چې په ټولنه کې د اړونده ډلو د جوړه کولو په موخه د وضعیت د تحلیل پر مهال چمتو شوې ده.

١ ټولنې ته لارښوونه وکړئ چې دا خبره یقیني کړي چې دوی یوازې لوی جشنونه یا محفلونه په پام کې نه نیسي. د غیر ملموسو کلتوري میراثونو د ساتنې لپاره د یونیسکو د ۲۰۰۳ کال د کنوانسیون کټګورۍ په پام کې ونیسئ: لکه شفاهي څرګندونې (د ژبې په ګډون)، د نمایشي هنرونو ترسره کول؛ ټولنیز دودونه، رسمونه او د جشن محفلونه، سیمه ایزه پوهه، دودونه او صنایع او داسې نور.

په ارزونه کې باید اغیزمن شوی غیر ملموس فعالیت، لاسرسی او لیرد نغښتی وي. دا درې واړه په کلکه له یو بل سره تړلې دي.

٢ هغه ملموسې شتمنۍ چې د غېر ملموس کلتوري میراث سره تړاو لري مستند کړئ (لکه ځایونه، ساحې، توکي، په خاصو مواردو پورې مربوطې جامې او وسایل). د ملموسو شتمنیو ارزونه ترټولو اسانه ده . ورته میتودونه لکه څرنګه چې په پورته برخو کې تشریح شوي دي دلته هم کارول کېدای شي.

ډېرې وختونه ملموسو شتمنیو ته اوختی زیان په غیر ملموس کلتوري میراث باندې اغیزه نه کوي. مثلا رسم و رواج ته به په بل ځای کې دوام ورکول شي او یا دا چې جشنونه به د نوو مخصوصو جامو سره ترسره شي. په هر حال نور زیانونه مه هیروئ، د مثال په ډول مارکیټ او وسایلو ته د لاسرسي د امکان له لاسه ورکولو خساره به لاسي صنعت کارانو ته د عاید له لاسه ورکولو په معنی وي.

٣ د اجراء کوونکو او مسلکي خلکو، روحاني رهبرانو او مشرانو په ګډون د خلکو سره اړیکه ونیسئ. ارزونه باید دا وپلټي چې د غیر ملموس کلتوري میراث خاوندان څرنګه اغېزمن شوي دي. د بېلګې په ډول، یو ناورین کېدای شي د پوهانو د مړینې او یا د هغوی د بې ځایه کیدو لامل شي، چې دا کار کېدای شي د پوهې یا دودونو لیږد پېچلې کړي. بې ځایه کېدل ممکن پدې معنی هم وي چې دودیز معالجین یا پادریان نور نشي کولی د مراسمو ترسره کولو لپاره مقدسو ځایونو ته لاسرسی ومومي.

٤ دودونه او پوهه په ګوته کړئ او ویې ارزوئ. د ارزیابۍ دا ګام خورا ستونزمن دی: دا د اړونده غیر ملموس کلتوري میراث مرحله واري ودې په تړاو بنې پوهې ته اړتیا لري، کوم چې تاسو ته دا فرصت برابروي چې د ناورین لخواء د رامینځته شوي بدلون کچه او د وخت په اوږدو کې د دې ممکنه اغېزې اټکل کړئ. ډېرې وختونه، د دې پر ځای چې پوهه یا دود په بشپړه توګه له مینځه ولاړ شي، یو ناورین ممکن په غیر ملموس کلتوري میراث کې د پام وړ بدلون د رامینځته کېدو لامل شي. د بېلګې په ډول، یوه مظاهره کېدای شي خپل نظم وساتلی شي، مګر راتلونکي تکراري مظاهرې به ورته لاره تعقیب نه کړي. په ورته ډول، سیمه ایزې قصې د وروستي ناورین د پېښو د عناصرو په پام کې نیولو سره کېدای شي په بل ډول حکایت کړی شي. دا اړینه ده چې د ناورین څخه وروسته ارزونې په دودونو کې د ناورین لخوا رامینځته شوي دا ډول بدلونونه په پام کې ونیسي. دا حتمي نده چې دا دې منفي وي، دا د غیر ملموث کلتوري میراث او د هغې د خاوندانو هغه وړتیا ښیي چې له ګواښ وروسته څومره ژر خپل اصلي حالت ته راګرځېدای شي. په غیر ملموس کلتوري میراث باندې د ناورین د اغېزې د ارزولو لپاره نمونه د سامان د بکسې په ٢٢ مخ کې وګورئ.

## مشهود ګواښونه وارزوئ او ثبت يې کړئ

د پېښې وروسته د ګواښ ارزونه په بېړني حالت کې د ګړندي بدلیدونکي حالت پر مهال د مشهود ګواښ ارزیابۍ کې مرسته کوي. دا د ګواښ کمولو او مخکې له مخکې چمتووالي لپاره د اړینو دمخه سنجول شوو اقداماتو په ګوته کولو کې مرسته کوي تر څو کلتوري میراثونه د نه جبران کېدونکي زیان سره مخ نه شي. د ګواښونو د ارزولو لپاره د کار مفصل جریان په لاندې ډول دی:

١ هغه احتمالي (طبیعي یا د انسان لخواء رامینځته شوي) ګواښونه په ګوته کړئ کوم چې ژوند ته ګواښ رامینځته کولی شي، او یا ملموس او غیر ملموس کلتوري میراث ته زیان اړولی شي. لومړني او دویمي ګواښونه په پام کې ونیسئ. د بېلګې په ډول، زلزله د لومړني ګواښ په ډول کېدای شي دویمي ګواښونه لکه سونامي، سېلاب، اور لګېدنه یا ورانکاري رامینځته کړي. که د ګواښ دا سرچینې ځایي وي، د ساحې/ودانۍ/ټولنې په شاوخواء کې د دوی موقعیت په ګوته کړئ.

| دویمي ګواښ | لومړنی ګواښ |
|---|---|
| **طبیعي ګواښونه** | |
| اور، د مځکې خوېدنه، سونامی، په اوبو بدلېدل | زلزله |
| د مځکې خوېدنه ، فنګس، په توکو باندې د پوډرې مواد شتون، زنګ وهل | سېلاب |
| اور ، سېلابونه | سونامی |
| اور ، د سيلۍ/جاکړ له کبله زيان | سمندري توپانونه، اور |
| د اوبو زيان ليدل، فنګس، په توکو باندې د پوډرې مواد شتون، زنګ وهل | اور |
| اور ، د مځکې خوېدنه ، زلزله | اور غورځېدنه |
| **د انسان پلاس رامنځته شوی ګواښ** | |
| اور ، بمباري، ړنګول | جنګ |
| اور ، بمباري | ترهګري |
| ړنګول، غلا | ورانکاري/د نظم خرابول |

۲ هغه فزيکي، ټولنيزې، اقتصادي، سياسي او ذهنيتي يا چلندي زيانمننې په ګوته کړئ، کومې چې کلتوري ميراث د بېلابېلو ګواښونو پر وړاندې بربنډوي کوي.

دا زيانمننې په لاندې ډول په ګوته کېدای شي:

الف . پدې باندې د پوهېدلو لپاره چې کلتوري ميراث څرنګه او ولې زيانمن شوی وو او دا به څرنګه د دويمي ګواښونو پر وړاندې بربنډ شي، خپل د وضعيت د تحليل پايلو ته مراجعه وکړئ. د بېلګې په ډول، د کلتوري ميراث هغه جوړښت کوم چې د شديد توپان له امله زيانمن شوی وي او ښه ساتنه يې نده شوې، کېدای شي دويمي ګواښونو لکه اور او د باران د زيان په مقابل کې بربنډ وي. د ميراثونو نه ساتنه کېدای شي د يو شمير بنسټيزو ټولنيزو يا اقتصادي لاملونو له کبله رامينځته شي، لکه د سرچينو نشتوالی، يا چيرې چې ميراث د لرکيو ټولنې پورې اړه ولري.

ب . د زيانونو د ثبتولو په وخت کې وګورئ چې څرنګه د کلتوري ميراث طبيعت کولای شي دا د دويمي ګواښونو پر وړاندې لا زيات بی وسې او حساس کړي. د بېلګې په ډول، د عضوي موادو څخه جوړ شوي لانده او خاورين توکي د فنګس او د حشراتو يا چينجو په واسطه د رامنځته شوو آفتونو پر وړاندې ډېر ناتوانه دي.

ج . په ساحه کې د ارزونې پر مهال، د ساحې دننه او د هغې په شاوخواء يا په ټولنه کې هغه فعاليتونه ثبت کړئ، کوم چې ممکن زيانمننې او ګواښونه رامينځته يا زيات کړي. د بېلګې په ډول، د کلتوري ميراثونو ساحې سره نږدې په يوه پرانيستې سيمه کې خلکو ته پناه ورکول کېدای شي دا کلتوري ميراث د لوټ يا ورانکارۍ پر وړاندې زيانمنونکي کړي، يا ساحې ته نږدې د يو لنډمهاله پخلنځی جوړول، کولی شي ساحه د اور د ګواښ سره مخ کړي.

په ساحه کې د ګټه/دلچسپي لرونکو او لوبغاړو سره مرکې وکړئ ترڅو د ګواښونو، خنډونو او اړتياوو په اړه د دوی انګيرنه/درک درته معلوم شي. په ګټه/دلچسپي لرونکو او لوبغاړو کې ممکن د ساحې مديران، حفاظت کوونکي، امنيتي ساتونکي او ګاونډيان شامل وي.

د . د غير ملموس کلتوري ميراث لپاره، هغه ټولنيزې پروسې په پام کې ونيسئ چې د غير ملموس ميراث په لېږد، لاسرسي يا کارونې اغيزه کوي. د بېلګې په توګه، ممکن پوهه نه وي اغېزمنه شوي، خو په لويه کچه بې ځايه کېدل، يا بازارونو ته د لاسرسي نلرل کېدای شي په دې معنی وي، چې په منځني او اوږدمهال کې به ځوان نسل د دوی د ټولنې څخه د زده کړې يا د يو ځانګړي دود د خپلولو لېوالتيا يا د زده کړې توان له لاسه ورکړي.

٣ د مشهودو ګواښونو د ارزونې لپاره، ګواښ په موجزه توګه بیان کړئ.

د ګواښ موجز بیان د دې خبرې وضاحت کوي چې څرنګه لومړني او دويمي ګواښونه ښايي د زيانمننې د کچې سره اړيکه ولري، او د کلتوري ميراث په بېلابېلو ډولونو او د خلکو په مصونيت باندې يې مشهودې اغېزې څه دي.

د بېلګې په ډول: په چت کې درزونه کېدای شي د زورور اورښت په صورت کې د ځښېدلو لامل شي، چې پدې توګه په داخل کې تاريخي شيانو ته او هغه رساميو ته زيان ورسوي چې په لاندې ديوالونو باندې موجودې دي او يا د کتارو او امنيتي سيستمونو نشتوالی ممکن يوه خانقاه د لوټ کېدو د ګواښ سره مخ کړي.

د ګواښ د موجز بيان د چمتو کولو پر مهال ، د زيانمننې، لومړنيو او دويمي ګواښونو، او د ګواښونو پر وړاندې د ناتوانۍ د کچې تر مينځ تړولې ممکنې اړيکې په پام کې ونيسئ، کومې چې کولی شي د ناورين منفي اغېزې زياتې کړي، (لاندې انځور وګورئ).

په موجزه توګه د ګواښ بيانول ښايي له همدې امله وخت ونيسي.دا کار د ساحې ځخه بهر، پداسې حال کې چې تاسو معلومات راغونډوئ، ترسره کېدای شي.



## د توکیو د زلزلې او سونامي اغیزې: جاپان

د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۱۱مه نېټه د جاپان تر ټولو لوی ټاپو، هونشو شمال ختیځ ساحل کې د ۹،۰ درجې زلزلې ولړزاوه. چې وروسته ورپسې لویه او ځواکمنه سونامي هم پېښه شوه، چې د ختیځ جاپان ساحل یې ډوب کړ او د سینډای ښار ځینې برخې د هوای ډګر او ډېری دودیزو استوګنځایونو په ګډون سېلاب وځپل. زلزلې یو بند ته هم زیان اړولی و چې په ښکته سیند کې د سېلاب راتللو لامل وګرځېده. سونامي، د کانتینرونو د چپه کېدو له امله، د تېلو د تویېدو لامل شوه چې په پایله کې یې اور رامینځته شو، دا د اتومي برېښنا په یوه کارخانه کې د چاودنو لامل هم شوه.



*د یو تعمیر چپه کېدنه چې په ۲۰۱۱ کال کې په جاپان کې واقع شوه*

په دې قضیه کې، زلزله لومړنی ګواښ و، او د دې اړونده دویمي ګواښونه لکه ورپسې جټکې، سونامي، سېلابونه، اورونه او اتومي پېښې یې رامینځته کړې. په سمندر کې د جاپان موقعیت، او د هغه جغرافیایي موقعیت دا هیواد د طبیعي ګواښونو پر وړاندې بربنډوي، لکه زلزلې او سونامي. برسېره پردې، په سیمه کې د تېلو د ټانکرونو او اتومي بټۍ موجودیت زیانمنونکي ثابت شول، کوم چې په خپل وار د اور او اتومي ککړتیا لامل شول. د دې پېښې نه د راولاړو ګواښونو اغیزې دا وې: د ۱۹۰۰۰ څخه زیات خلک مړه شول، په سلګونو زره خلک بې کوره شول، او د سړکونو او د برېښنا د فابرېکو په ګډون حیاتي زېربناوې ویجاړې

شوي. سربېره پردې، کلتوري میراثونو ته د زیان اوختنې له ۷۰۰ څخه زیاتې پېښې ثبت شوې. د کلتوري میراث ډېری ودانیو ته د زلزلې له امله د ټیټې او منځنۍ کچې ساختاري زیانونه واوختل. د اغیزمنې شوې سیمې په ځینو برخو کې، د سونامي څپو تاریخي او ځایي/محلي ارزښت لرونکي جوړښتونه او ټولګې له مینځه یوړې.

دننه په وچه کې، د سونامي له رسېدو آخوا، د لرغونو اثارو د ذخیره کولو ځای او نور منقول میراثونه د هغه سېلاب له امله زیانمن شول چې د بند د زیانمن کېدو له کبله مینځ ته راغلی و. منقول کلتوري میراث په اتومي وړانګو هم ککړ شوی و، چې په پایله کې یې د هغې اصلي حالت ته بېرته راګرځونه وځنډوله. په اغیزمنه شوې سیمه کې د برېښنا بندېدل د کلتوري میراث لانده عضوي توکي لکه لرګي او کاغذ، د فنګس او د بیولوژیکي خرابېدو د نورو ډولونو د ګواښ سره مخ کړي.

حوالې په ۱۵۹ مخ کې وګورئ.

٤ د ګواښ په هر موجز بیان کې دا په ګوته کړئ چې د ګواښ کچه څه وه (ټیټه، منځنۍ او یا لوړه)، او دا هم واضح کړئ چې ګواښ لومړنی وو او که دوهمي، او د خلکو په مصؤنیت او د کلتوري میراث په ارزښت یې اغیزه څه وه. د بېلګې په ډول، د زلزلې وروسته، د وروسته جټکو پر مهال د ساختماني درزونو له امله د ودانیو د نړېدو ګواښ لوړ وي. په هر صورت د هغه محلي سیلابونو په صورت کې چې د زیات باران او هغه اوبو د یو ځای کېدو څخه رامنځته کیږي چې د یوې ودانۍ په چت کې د یو وړوکي درز نه راوځي، د همدې ودانۍ د چپه کېدو احتمال نسبتا ټیټ وي.

د سامان بکسه وګورئ، د فورمو او نورو سرچینو لپاره ۱۴ مخ وګورئ ترڅو تاسو سره د مخې ته پرتو ګواښونو په ارزونه کې مرسته وکړي.

## معلومات راغونډ/تدوین کړئ

١ د ساحې له ارزونې سمدستي وروسته د هر ډول کلتوري میراث لپاره د ارزونې فورمې او سکېچونه په سیستماتیک ډول ډیجیټل کړئ. دا به د معلوماتو له لاسه ورکولو په مخنیوي او د معلوماتو په اسانۍ سره د کارولو ور بنه کې په شریکولو کې مرسته وکړي. تاسو باید لږ تر لږه هره ورځ د پایلو د ډیجیټل کولو پلان ولرئ ، نو ځان ډاډمن کړئ چې د ساحې د کار د پیل کولو دمخه د ډیجیټل کولو میتود او کاري جریان موجود وي. د کلتوري میراث هره برخه یا شتمني باید د پېژندنې د یوې ځانګړې شمېرې له لارې په اسانۍ سره د پېژندلو وړ وي (د سامان د بکسې ۴۲ مخ وګورئ).

٢ د ګټه/دلچسپې لرونکو سره د مرکو لپاره: د مرکو یادداشتونه یا نقلونه راټول کړئ او د نورو معلوماتو سره یوځای یې ذخیره کړئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې د سرچینې نوم، د مرکې نېټه او ځای، او که ممکنه وي، د مرکه کوونکي سره د تماس لارې چارې ذکر کړئ.

٣ د خپلې کیمرې څخه عکسونه راښکته/ډاونلوډ کړئ او د هغوی د حوالو د شمېرو له لارې یې د فرش د پلانونو د ډیجیټلي کاپۍ سره ونښلوئ. د بدیل په ډول، د ماشین لخواء رامینځته شوی د فایل نوم یا د ډاونلوډ شوي عکس د فایل شمیره لرې کړئ او فایل ته مو بل نوم ورکړئ چې د لنډو کوډونو په شکل کې ځای ، نېټه او د زیان ډول په ګوته کوي. دا په ځانګړې توګه د ارزونو په هغو صورتونو کې خورا مهم دی چې په ګڼو ځایونو یا د پروسې په بېلابېلو پړاوونو کې ترسره کیږي. ډاډ ترلاسه کړئ چې د فایل نومونه او کوډونه تل ثابت/یوشان وي او ټول هغه کسان چې ارزونه او د معلوماتو راغونډول تر سره کوي، پرې پوهیږي.

٤ د ارزونې په فورمه کې شته معلومات د ساحې د نقشې، د فرش د پلانونو، او د زیانونو څرګندونکو عکسونو سره د یو ځانګړي فایل په ترتیبولو سره ونښلوئ.

٥ که تاسو په ساحه کې دا کار نشئ تر سره کولای، خپل د ګواښ بیانونه چمتو کړئ او د هر بیان لپاره د ګواښ کچه په ګوته کړئ.

٦ د ساحې څخه راټول شوي ټول معلومات په معیاري توګه د معلوماتو په بانک/ډیټابیس کې راټول، طبقه بندي او ذخیره کړئ ترڅو د اسانه لاسرسي او تحلیل ډاډ ترلاسه شي.

## د راغونډولو او لیدلو وسیله

د جوړ شوي کلتوري میراث او کلتوري زیرمو لپاره، ستاسو په ګرځنده تلیفون یا ټابلیټ کې د جغرافیایي معلوماتو سیستمونو(GIS) نصب شوی کاریال/اپلیکېشن په ساحه کې د مستند سازۍ لپاره کېدای شي خورا ګټور وي. د جغرافیایي معلوماتو د سیستم د وسیلې دننه د زیان او ګواښ د ارزونې فورمې انټرنیټ سره د وصل پرته (اف-لاین) بشپړېدای شي، او عکسونه ورسره په مستقیم ډول مل/ضمیمه کېدای شي ترڅو ټولې فورمې او عکسونه یوځای وساتل شي. همدا چې ستاسو ګرځنده تلیفون له انټرنیټ سره وصل شي ، نو بیا فورمې او عکسونه مستقیم مرکزي ډیټابیس ته لېږدول کېدای شي. دا اړینه ده چې په یاد ولرئ، چې کوم اپلیکیشنونه چې تاسو یې د معلوماتو ثبتولو، راغونډولو او لیدلو لپاره غوره کوئ، باید ستاسو د اړتیاوو مطابق عیار شي، او ستاسو د ارزونې ډلې به لارښوونې ته اړتیا ولري تر څو په ساحه کې یې وکارولې شي.

په ۱۵۸ مخ کې حوالې وګورئ.

## د ارزونې راپور چمتو کړئ

د ساحې د سروې پر بنسټ، د ارزونې یو جامع راپور چمتو کړئ چې لاندې معلومات پکې نغښتي وي:

- د اغېزمنو شوو میراثي شتمنیو ارزښت (د میراث ځای/ ټولګه / دود).
- د ناورین یا کړکېچ طبیعت. څه پېښ شوي دي؟ کله؟ او څرنګه کلتوري میراث ته وروغزېدو؟
- جوړ شوي او منقول میراث ته د اوختي زیان توضیح او په غیر ملموس کلتوري میراث باندې د ناورین اغېزې. پدې کې باید د زیانونو د ډول یوه لنډه توضیح شامله وي لکه د هغې اغېزه، موقعیت (د قرارګاه نقشې، د ساحې نقشې، او د فرش یا سکېچ پلان ته په پام سره، چېرته چې اړونده وي) او ممکنه لاملونه. د هر زیانمن شوي توکي یو عکس هم ورسره مل کړئ تر څو وراوختی زیان واضح کړي. د غیر ملموس کلتوري میراث لپاره، په توضیحاتو کې کېدای شي د اغېزمن شوو اړخونو تفصیلات نغښتي وي: ملموس عناصر، خلک، او غیر ملموس عناصر لکه پوهه / دود او نور.
- زیانونه: که خلکو ته زیانونه اوختي وي، مثلا د هغوی عاید یا زېربنا ویجاړه شوې وي، یا یې د هغوی په اغېزمن شوي کلتوري میراث باندې اوږدمهاله منفي اغېزې کړې وي.

- د ګواښونو د ارزونې، زیانمننې او د دوی په نتیجه کی د میراثي شتمنیو بېلابېلو ډولونو ته د متوجه ګواښونو د جوته کولو پر بنسټ د ګواښ موجز بیان ترتیبول.
- هغه اقدامات چی په ساحه کې د هرې میراثي شتمنۍ د مصؤنیت او باثباته کولو لپاره سمدستي اړین دي.
- د یو ټاکل شوي مهال وېش سره، د اغېزمن شوو کلتوري میراثي شتمنیو د مصؤنیت او باثباته کولو لپاره اړینې سرچینې.

راپور باید د هغې د لیکلو نېټه، د هغې لیکوال یا لیکوالان او د ټولو هغو کسانو نومونه او د اړیکو تفصیلات د دوی د مسؤلیتونو سره ذکر کړي چې په ساحه کې یې په ارزونو کې ونډه لرله. راپور باید د ټولو هغو کسانو نومونه هم ذکر کړي چې د ارزونې پر مهال ورسره مرکې شوې دي.

## په ساحه کې د کړنو د پلي کولو لپاره پلان د موجوده حالت د اقتضاتو/غوښتنو سره سم برابر کړئ

د زیانونو او ګواښونو د ارزونې جامع راپور په ساحه کې د مصونیت او باثباته کولو د هغو اړینو کړنو لپاره، چې د وضعیت د تحلیل پر مهال په ګوته شوي دي، د پلي کولو د پلان د جوړېدو لپاره کارول کېدای شي (۳۷ مخ وګورئ). دا په ځانګړې توګه د ساحې اړوند اقداماتو د لومړیتوبونو د جوته کولو لپاره ګټور دی – د بیلګې په ډول، د ګواښ سره مخ، زیانمن شوو ساختاري عناصرو لپاره د لنډمهاله حفاظت چمتو کول. دا د کلتوري میراث د هرې اغیزمنې شوې شتمنۍ د باثباته کولو لپاره د اړینو سرچینو او مهارتونو په جوته کولو کې هم مرسته کوي.

### د ناورین وروسته د اړتیاوو ارزونه (PDNA)

د پي، ډي، این، ای موخه دا ده چې اړتیاوې وارزوي او اصلي حالت ته د اغیزمن شوو شیانو د بېرته راګرځونې لپاره چوکاټ جوړ کړي چې دا به د بېړني تمویل لپاره په ګډو غوښتنو کې ځای پر ځای کړای شي (د بېلګې په توګه د بشري مرستو بېړنۍ غوښتنه) او کولی شي په ملي کچه اصلي حالت ته د بیا راګرځونې او د بسپنې لپاره د لومړیتوبونو په ټاکلو کې د بنسټ په توګه کار ورکړي. د پي، ډي، این، ای تر ټولو مستقیمه پایله یو راپور دی چې دوه برخې لري: د اړتیاوو ارزونه، او بېرته اصلي حالت ته د راګرځونې چوکاټ. دا راپور د کلتور اړوند راپور په ګډون د بېلابېلو سکتوري راپورونو ټولګه ده.

پي، ډي، اين، ای د حکومت په مشرۍ یوه پروسه ده چې د ملګرو ملتونو د اړوندو شریکانو سره په ګډه ترسره کیږي. د شرایطو او په دولتي وړتیاوو/ظرفیتونو باندې د ناورین د اغېزې په پام کې نیولو سره ، حکومت ممکن د ملګرو ملتونو څخه وغواړي چې د دې پروسې مشري پر غاړه واخلي. د ارزونې پر مهال پي، ډي، اين، ای ، د سازمانونو، ټولنو او اشخاصو په پراخ ګډون تکیه کوي؛ لکه نړیوال سازمانونه او کارپوهان؛ سیمه ایز حکومت، اغیزمنې شوې ټولنې، سیمه ایزه رهبري (رسمي، دودیزه او مذهبي)، لوی امنیتي چارواکي، او خصوصي سکتور. په ډېرو مواردو کې، د کلتوري سکتور لپاره پي، ډي، اين، ای د حکومت او د ملګرو ملتونو د تعلیمي، ساینسي او کلتوري سازمان (یونیسکو) لخواء د بېلابېلو کلتوري ساحو د کارپوهانو د ډلو (مهندسانو، انجنیرانو، د موزیمونو اهل کار یا متخصصین (میوزولوژستان)، د خلکو د ترکیب او خصوصیاتو متخصصین (انتروپولوژیستان)، لرغون پېژندونکو...) او نورو په ګډون رهبري کیږي.

د پي، ډي، اين، ای د لارښود د ټولنیزې برخې لاندې د کلتور د ارزونې لپاره یو څېرکې ځای پر ځای شویدی.

## د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو د پروسې د مختلفو مراحلو سره د پي، ډي، اين، ای تعامل،

د وضعیت د تحلیل او په ساحه کې د زیان او ګواښ د ارزونې سره د پي، ډي، اين، ای د تعامل څرنګوالی پدې پورې اړه لري، چې کوم یې کله پلې کېږي. د دې په نظر کې نیولو سره چې کوم یو یې اول ترسره کیږي، په اصولو کې دوی یو بل بشپړوي. دا چې نه پي، ډي، اين، ای او نه لومړنۍ مرستې یو ټاکلی مهال ویش لري، دا به د یو حالت نه بل حالت ته توپیر ولري.

سرچینه: ایلک سیلتر ، د ختیځ او افریقایي مطالعاتو ښوونځی، د لندن پوهنتون، انګلستان

حوالې په ۱۵۹ مخ کې وګورئ.

## د پېښې څخه وروسته د ساحې د زيان او د کلتوري ميراث شتمنيو ته د پېښې شوي ګواښ د ارزونې لپاره خپل چمتووالی لا نور ښه کړئ.

**لاندې پوښتنو ته پاملرنه وکړئ:**

- ايا تاسو د ټولو کلتوري ميراثونو د شتمنيو لست چمتو کړی؟ او آيا
- دا مو کتلي دي چې يوه داسې نقشه شته چې د دوی جغرافيايي کواردينات وښايې؟
- ايا تاسو د کلتوري ميراث د شتمنيو په اړوند د پېښې دمخه ځانګړي معلومات لرئ، لکه د توکو لستونه، د فرش پلانونه، عکسونه او د وضعيت راپورونه؟
- ايا تاسو د زيان او ګواښ د ارزونې داسې نمونه ای فورمه چمتو کړې چې ستاسو په سيمه کې د کلتوري ميراثونو د بېلابېلو ډولونو د شتمنيو لپاره د استعمال وړ وي؟
- ايا تاسو، ستاسې په سيمه کې د زيان او ګواښ د ارزونو د ترسره کولو لپاره د کلتوري ميراث کارپوهان او د بيړني حالت مديران په ګوته کړيدي؟
- آيا تاسو خپله نمونه ای فورمه د ارزونې د ډلې سره آزمايلې ده او د معلوماتو د راغونډولو لپاره مو يو سيستم رامنځته کړی چې معلومات د ليدو وړ وګرځوي؟
- ايا تاسو د پېښې څخه وروسته په ساحه کې د زيان او ګواښ د ارزونو د تمويل لپاره اداراتي ترتيبات نيولي دي؟
- ايا تاسو د بيړني حالت د مديريت له مسولې سيمه ايزې ادارې سره اړيکه نيولې او د کلتوري ميراث د ځايونو لپاره مو د مصؤنيت د ارزونو لپاره د همغږۍ کولو لپاره ترتيبات نيولي دي؟

## د ساحې د زیان او ګواښ د ارزونې وروسته څه باید ترسره شي؟

ستاسو په سیمه کې د بېړني حالت په تعقیب، تاسو او ستاسو د کلتوري لومړنیو مرستندویانو ډلې د اغیزمن شوي کلتوري میراث لپاره د **وضعیت تحلیل** او **په ساحه کې د زیان او ګواښ ارزونه** ترسره کړې. آیا دا دواړه ګامونه د اړونده بېړني حالت د لوبغاړو سره په همغږۍ او د اړونده ګټه/دلچسپي لرونکو او ځایي ټولنې سره شریک اخیستل شوي دي. په پایله کې، آیا تاسو پدې توانېدلي یاستئ چې د جوړښتونو، شیانو او غیر ملموس کلتوري میراث لپاره د مصؤن او باثباته کولو لپاره لومړیتوبونه په ګوته کړئ.

## تاسو به څرنګه مخته ځئ؟

لوستلو ته مو دوام ورکړئ چې ویې مومئ.

## دریم قدم

# مصونیت او باثباته کول





## مصونیت او باثباته کول څه شی دی؟

هغه اقدامات چې د زیانمن شوي کلتوري میراث حالت باثباته کوي او د ګواښ کمولو له لارې د نور زیان مخه نیسي په تولیز ډول د مصونیت او باثباته کولو اقدامات بلل کیږي.

دا اقدامات د طبیعت له پلوه لنډ مهاله دي او موخه يې دا ده چې د بېړني حالت پر مهال زیانمن شوي کلتوري میراثونو ته د هغوی د بشپړ محافظت  د شرایطو تر برابرېدو پورې مناسب ملاتړ چمتو کړي.

د مصونیت او با ثباته کولو اقدامات په شرایطو پورې تړلي دي او تل په یو حال نه وي.  په هر صورت  د دې لپاره چې اقدامات بریالي وي، دا اړینه ده چې د کلتوري  میراث د شتمنۍ او د هغې د با ثباته کولو او مصون کولو لپاره ترسره شوي اقدامات په پوره دقت سره مستند شي.



*په شوف، لبنان، ۲۰۱۴ کې په یوه ورکشاپ کې بېړني با ثباته کول په عمل کې. عکس: اتار–د اکرام موسسه*

د مصونیت او با ثباته کولو بنسټیز فعالیتونه عبارت دي له:

- د اغیزمنې شوې ساحې یا تولګو نه چاپېره د کټارې تاوول.
- د ګواښ سره مخ  توکو، ټوټو او شیانو لپاره د لنډمهاله چارې لټول  د سامان د بکسې په ۷۳ مخ کې وګورئ.
- **د پېښې څخه وروسته** د کلتوري میراث شیان بل خوندي، لنډمهاله ځای ته لیږدول.

- د زیانمن شوي کلتوري میراث د ټولګو، د ودانیو د ټوټو او د سینګار د توکو **د ژغورنې** په کار کې ښېلول (سورټ کول) ، د سطحې پاکول او د شیانو وچول او له دې لارې د هغوی با ثباته کول نغښتي دي.

- د ویستل شوو او ژغورل شوو کلتوري میراث توکو لپاره د **خوندي لنډمهاله ګدام** چمتو کول.

- د سیلاب څخه وروسته د ودانۍ یا جوړښت **وچول**.

- **د لنډمهاله ملاتړ/پشتۍ** د چمتو کولو په موخه دېوال یا نورو بار اوچتوونکو ساختاري توکو ته پشتي لګول.

د غیر ملموس کلتوري میراث لپاره د مصونیت او با ثباته کولو اقدامات د پورته ذکر شوو اقداماتو څخه توپیر لري. د غیر ملموس کلتوري میراث لپاره، د ناورین یا کړکېچ نه د رامنځ ته شوو اغېزو له کبله د ګواښ سره مخ دود یا د پوهې د سیستم دوام خورا مهم ګڼل کیږي. د نورو جزیاتو لپاره، د غیر ملموس کلتوري میراث د مصون کولو برخې ته مراجعه وکړئ.

## څوک کولی شي چې د مصونیت او با ثباته کولو اقدامات ترسره کړي؟

روزل شوي کلتوري لومړني مرستندویان او د کلتوري میراث ور کارپوهان چې په بېړني حالت کې د کلتوري میراث د مصون کولو مخکنۍ تجربه لري، کولی شي د مصونیت او با ثباته کولو د اقداماتو په ګوته کولو، لومړیتوبونو ټاکلو او پلي کولو کې مرسته وکړي. پدې کارپوهانو کې شامل کسان له لاندې خلکو نه عبارت دي خو یوازې په دوی پورې محدود ندي: محافظت کوونکي، لرغونپوهان، د ارشیف مسولین، ساختماني انجنیران، د محافظت مهندسان، د خلکو د ځانګړنو کارپوهان (انتروپولوژیستان) او د غیر ملموس کلتوري میراث کارپوهان.



*د ملګرو ملتونو سوله ساتونکي د هایتي په لی سنټر دي آرټ کې د ژغورنې عملیاتو کې مرسته کوي، ۲۰۱۰*

*کال. عکس: د اکرام موسسه*

**ډېرې وختونه، نظامي پرسونل، اور وژونکي او د لټون او ژغورنې ډلې** د بېړني ساختاري **با** ثباته کولو د اقداماتو د ترسره کولو لپاره روزل کيږي. په هرصورت، دوی ممکن د تاريخي جوړښتونو او د دوی د نړېدلو د ځانګړي میکانیزمونو سره بلدتيا ونلري، نو کله چې امکان ولري، د ساختماني انجنير او د محافظت د منهدس  څخه مشوره وغواړئ. د بېړني حالت غبرګون ښودونکي هم کولی شي د پېښې څخه وروسته د ایستلو او ژغورنې په عملیاتو کی مرسته وکړي. په داسې شرایطو کې چېرته چې لاسرسی محدود یا جوړښتونه مصون نه وي، نظامي پرسونل یا اور وژونکي کولی شي د ځانګړو تجهیزاتو په کارولو سره د شیانو په ژغورلو کې مرسته وکړي.

د پراخه اقداماتو د پلي کولو لپاره، رضاکاران او د ځايي ټولنو غړي باید په فعاله توګه په ساحه کې ښکېل او وروزل شي ترڅو د مصونیت او با ثباته کولو  ځانګړي فعالیتونه د کارپوهانو تر څارنې لاندې ترسره کړي. په دې ډول کړنو کې کېدای شي د اسنادو جوړول، د شیانو لېږد، د کڅافاتو بېلول ، د پشتیو چمتو کول، او د توکو لست  کول نغښتي وي.

**بېړني حالات يو له بله توپير لري او هر يو يې ځانګړی او مناسب غبرګون** غواړي، لدې کبله دا اړينه ده چې حتی روزل شوو رضاکارانو ته  د ځانګړو اقداماتو د پلي کولو لپاره ځینې لارښوونې وشی. په هر حال، د پر وخت او د حالت سره د مناسبو لومړنيو مرستو چمتو کولو لپاره، دا اړينه ده چې د کلتوري میراث کارپوهان  د بېړني غبرګون ښودونکي او رضاکاران د ناورين څخه د مخه وروزل شي.

## په مدیترانې کې د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو روزنه: د پرومید پروژه

پرومید (د ناورینونو پر مهال د مدیترانې د کلتوري میراث ساتنه) د ایټالیا د ملکي ساتنې څانګې د ګډو- شریکانو نوښت دی، کوم چې د ملکي خوندیتوب او بشري مرستو لپاره د اروپای کمېسیون د عمومي ریاست (DG ECHO) لخواء تمویلیږي. د دې نوښت په چوکاټ کې، د اکرام موسسې ته بلنه ورکړل شوې وه چې د مدیترانې د سیمې د پنځوو هیوادونو څخه هغو ډلو ته چې د مدني محافظت ، ملکي دفاع او د کلتوري میراث کارپوهان پکې شامل و، روزنه ورکړي. موخې دا وې چې د طبیعي ناورینونو وروسته د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو لپاره ظرفیت او عام معیاري عملیاتي طرزالعملونه رامینځته شي. د روزنې په پایله کې، برخه اخیستونکو هیوادونو، د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو د پلي کولو لپاره په لویه کچه د خپل ملي ظرفیت د لوړونې په موخه، د مدني ساتنې کارپوهانو، د کلتوري میراث کارپوهانو او نورو رضاکارانو د روزنې لپاره ملي ورکشاپونه ترسره کړل.

حوالې په ۱۶۵ مخ کې وګورئ.



*سیټا دي کستیلو، ایټالیه، ۲۰۱۷ کال. عکس:پرومیډیح او د اکرام موسسه*

## د منقولو او غیر منقولو کلتوري میراثونو لپاره د مصونیت او با ثباته کولو اقدامات څرنګه پلي کړو؟

د کلتوري میراثونو لپاره د مصونیت او با ثباته کولو اقدامات په شرایطو پورې اړه لري او له همدې امله سره توپیر لري. په هرصورت، بی لدې چې د اغېزمن شوي کلتوري میراث او د بېړني حالت نوعیت په پام کې ونیول شي، ممکن لاندې اقدامات د ځانګړو لارو چارو په سمه توګه پلي کولو کې مرسته وکړي.

### ساحه مصونه کړئ

مخکې لدې چې په یوه ساحه کې د منقول یا غیر منقول کلتوري میراث د با ثباته کولو لپاره اقدام وکړئ ، باید ځان مطمین کړئ چې دا د ننوتلو لپاره مصون دی . ټول کارمندان باید د ګواښونو څخه خبر کړای شي او مناسب شخصي محافظتي تجهیزات ورته ورکړل شي (د سامان د بکسې ۱۰ مخ وګورئ). لاندې کړنې به د دې داډ په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي چې ساحه د کار د پیل کولو لپاره مصونه ده:

۱ **د مصونیت موانع/خنډونه نصب کړئ.** کله چې په ساحه کې د زیان او ګواښ ارزونه بشپړه شي، د ټولو هغو برخو نه چې غیر مصونه ګڼل کیږي پټۍ تاو کړئ، او د اغیزمنې شوې ساحې یا تولګې په شاوخوا کې د مصونیت امنیتي خنډونه نصب کړئ.




*موانع/خنډونه او د احتیاط پټۍ خلکو ته خبرداري ورکولو کې مرسته کوي او په فیلیپین کې په لویه کچه ویجاړه شوې کلیسا خوندي کوي. ۲۰۱۳ کال. عکس: ایرنا ټنډن*

که  شک کوئ چې د یو ساختاري یا یو ځوړند توکي د غورزېدو  ګواښ شته، نو د توکي په شاوخوا کې یوه دایروي د جلا والي سیمه رامینځته کړئ، او ډاډ ترلاسه کړئ چې د رامینځته شوي سېمې شعاع د اړونده توکي  د لوړوالي سره مساوي ده.

٢ **د استعمال وړ شیان چک کړئ.** کله چې ضرور وي،  وګورئ چې ایا په ساحه کې د ګاز، برېښنا او د اوبو څخه د کټې اخیستنې ځایونه په مصونه توګه کارول کېدای شي.

٣ **نخښې نصب کړئ.**  د پټې کړی شوو ساحو په شاوخوا کې مناسبې نخښې نصب کړئ. نخښه باید لویه او په روښانه ډول د لیدلو وړ وي، او ټول کارمندان یې په اسانۍ سره وپېژني.

٤ **لارې مصونې کړئ.** پیاده لارې او د لاسرسي لارې په ګوته کړئ او د ساحې په نقشه او که د فرش  پلان وی، نو په هغې کې یې په روښانه ډول په نخښه کړئ. په هغه صورت کې چې د دې  کار سر ته رسول  مصون وي، د لاسرسي ښه کولو لپاره له لارې څخه ملبه لرې کړئ. پدې کې کېدای شي د بې ثباته ځوړندو توکو، غیر ساختاري توکو لکه د چت د ټایلونو/کاشیو، دود کشونو، او د لرګیو د تختو لرې کول، یا د لویو سوریو په شتون کې د فرش مصون کول شامل وي.

مخکې لدې چې تاسو له یو تاریخي ساختمان څخه ځوړند توکي یا ټوټې لرې کړئ ، ځان ډاډه کړئ چې تاسو د دوی موقعیت او ډول او همدارنګه د اووختو زیانونو شدت مستند کوئ. عکسونه واخلئ (یو نږدې او یو اوږد شاټ) او د ساحې / فرش په  نقشه کې د توکو یا د ټوټو موقعیت ثبت کړئ. کچیرې د ساختماني توکو د لرې کولو په اړه کوم شک ولرئ، د ساختماني انجنیر څخه پوښتنه وکړئ چې دا کار څرنګه په مصونه توګه ترسره کړئ.

٥ **د زغورنې لنډمهاله لاره چاره وسنجوئ.** د ساختاري ویجاړتیا په صورت کې باید د دوارو، د ګواښ سره مخ جوړښتونو او په ګواښ کی د ګیر کلتوري میراث  د اثارو لپاره ، د نورو اقداماتو د تر سره کېدو پورې، باید یو لنډمهاله  د زغورنې لاره چاره چمتو شي. د لنډ مهاله پوښښ د څرنګوالي لپاره د سامان د بکسې ۷۳ مخ ته مراجعه وکړئ.

٦ کچیرته له ګواښ سره په مخ حالت کی پرېښودل شي، مساله اوعضوي کلتوري توکي په چټکۍ سره خرابیږي. د  ګواښ سره د مخ شوي کلتوري میراث د توکو د انبار پوښل بیخي یو لنډمهاله اقدام دی چې باید د څو ورځو څخه زیات دوام ونکړي.

٧ **ګواښونکي کثافات لرې کړئ.**  د طبیعي ناورین یا د کړکېچ له امله د رامینځته شوې پېښې وروسته، د کلتوري میراث ساحې ښایي ګواښوونکي توکي او کثافات ولري: د بیلګې په ډول، چاودېدونکي توکي، کیمیاوي توکي، پټرولیم، پي وي سي پایپونه، د عایق کولو توکي، یا د اور پر وړاندې مقاوم توکي. په داسې حالاتو  کې، مخکې له دې چې په ساحه کې کوم بل کار تر سره کړئ، د موندل شوو توکو د مصونې تصفیې لپاره متخصصه کمپنۍ په ګوته  کړئ او مشوره ورسره وکړئ.

**یوه سېلاب ځپلې ساحه څرنګه مصونه کولای شو.**

د سېلاب په صورت کې، په ساحه کې د زیان او ګواښ په ارزونه کې باید د اوبو رسولو په اړه د سېلاب د اوبو د طبقه بندۍ د ټاکل شوو کارپوهانو سره مشوره شامله وي – د بېلګې په توګه، آیا دا پاکې (د څښلو لپاره خوندي دي)، خړې یا تورې دي؟ کچېرې اوبه په خړې یا تورې طبقه بندۍ کې وي، د بیولوژیکي ککړتیا ګواښ زیات دی، ځکه چې کېدای شي کیمیاوي توکي او یا فضوله توکي ولري. په داسې حالاتو کې، دا اړینه ده چې د کارپوهانو په مشوره ساحه پاکه کړی شي، او ککړ شوي تاریخي توکي په مهر شوو ظرفونو یا پلاستیکي کڅوړو کې ځای پر ځای کولو سره جلا کړئ.

حوالې په ۱۶۲ مخ کې وګورئ

**۸ داډ ترلاسه کړئ چې لانده جوړښتونه او سطحې په ښه توګه وچې شوې دي.**

په هغه حالت کې چې یوه ودانۍ، جوړښت یا سینګار شوې سطحه د اوبو له کبله د پام وړ زیان رامینځته کوي، دا اړینه ده چې دا وچ کړئ، تر څو د لاندې مواردو مخنیوی وکړئ:

الف. د لرګیو نه د جوړو توکو خرابېدل او سخا کېدل.

ب. په پلستر کې درزونه.

ج. د فنګس وده

د. داغې کېدنه، زنګ وهنه

هـ. ښوره کېدنه

دا اړینه ده چې د زړو جوړښتونو د ډېر ژر وچولو هڅه ونه کړئ. د لندبل په کچه کې چټک بدلون ښایي د لرګیو نرې توکي زیانمن کړي، د دېوالونو ښوره کېدنه زیاته کړي، او د پلستر درزونه رامینځته کړي. د لندو جوړښتونو او سطحو د وچولو لپاره لاندې ټکي مراعت کړئ:

- وګورئ که د اوبو د وتلو په لارو کې بندوونکي توکې موجود وي، هغه لرې کړئ تر څو اوبه وبهیږي . په مایلو سطحو کې کثافات چې ښایي د اوبو د بهېدو مخه ډب کړي، لرې کړئ.
- د ایسارو اوبو د ویستلو لپاره سطلونه او پمپونه وکاروئ.

جدي زيان اوختنه په هغه ودانيو کې ډېر احتمال لري چېرې چې اوبه ګرندۍ رواني وي (د بېلګې په ډول ، د غونډيو په لمن يا مات شوي بند ته نږدې) ، چېرې چې د ودانۍ دننه د اوبو کچه د ۱ متر ( م) څخه لوړه وي (يا وه) ، يا که بار اوچتوونکي دېوالونه د خامې خاورې څخه جوړ شوي وي. په دې حالت کې، د ساختماني انجنير څخه د مرستې غوښتنه وکړئ ترڅو بهر ته د اوبو د پمپ کولو دمخه د ساختاري زيان يا د ساختاري با ثباته کولو اقداماتو ته د اړتيا ارزونه وکړي.

- ختې او ملبه لرې کړئ، څکه چې دوی لندبل ايساروي او د وچولو پروسه ورو کوي. د ختو او ملبې وچېدو ته انتظار مه کوئ. ختې چې کله لندې وي، لرې کول يې مصونه او اسانه وي.
- د هغه پاکونکو محلولونو د استعمال څخه ډډه وکړئ، کوم چې لندبل ايساروي يا په تاريخي توکو کې د هغې حرکت د خنډ سره مخ کوي.
- لنده غالۍ اود فرش/دېوال پوښونه لرې کړئ.
- فرنيچر له دېوالونو څخه جدا او په دېوالونو ځړول شوي توکي د دېوالونو څخه لرې کړئ، ترڅو د وچولو پروسه ګړندۍ شي. په ۸۰ مخ کې د پېښې څخه وروسته تخليې ته مراجعه وکړئ.
- که امکان ولري، هغه فلزي عناصر لرې کړئ چې د لوند پلستر سره تماس لري ترڅو داغ نشي او زنګ يې ونه وهي.
- ځان ډاډه کړئ چې د ودانۍ د وچولو لپاره هغه مجراګانې چې تاسو ورته اړتيا لرئ بندې نشي. د نورو معلوماتو لپاره، د سامان د بکسې ۹۲ مخ وګورئ.

۹ د کار کولو او د کلتوري ميراث د شيانو، ټوټو او اراېشي توکو د لنډمهاله ذخيره کولو لپاره ځايونه مشخص/ځانګړي او تنظيم کړئ.

## د مصونیت او با ثباته کولو نور اقدامات

د خپلې کارۍ ډلې په مرسته، اړین توکي راټول کړئ او د مصونیت او با ثباته کولو نور هغه اقدامات تر سره کړئ چې له پخوا نه په ګوته شوي دي. پدې کې ښایي لاندې موارد شامل وي:

- د پېښې نه وروسته تخلیه.
- ژغورل.
- د تاریخي جوړښتونو بېړني با ثباته کول.

د دې هرې کړنې د تفصیلي توضیحاتو لپاره لاندې برخې وګورئ. تاسو ښایي د اغېزمن شوي کلتوري میراث په ساحه د مصونیت او با ثباته کولو ګڼو اقداماتو پلې کولو ته اړ واوسئ.

## د پېښې وروسته تخلیه:

د پېښې وروسته تخلیه هله اړینه شي، کله چې یوه ودانۍ یا جوړښت چې د کلتوري میراث شیان پکې موجود وي د کارونې لپاره غیر مصونه اعلان شي، مګر د شیانو د تخلیې کولو لپاره هغه په کافي اندازه مستحکمه شوي وي. په دې کې **مستند سازي، بسته بندي او یو خوندي لندمهاله ځای** ته د شیانو لېږد شامل دي.

د پېښې څخه وروسته تخلیې لپاره ښایي د اور وژونکو او یا د نظامي یا د ملکي دفاع د پرسونل تخنیکي مرستې اړینې وي، ځکه چې دوی د غیر مصونه ودانیو څخه د خلکو په تخلیې کې روزل شوي دي. مګر، دوی په دې هکله لارښوونې ته اړتیا لري چې څه شی له کوم ځایه څخه لرې کړي او د کلتوري میراث شیانو سره څرنګه چلند وکړي تر څو مصون پاتې شي.

## د هانومان ډوکا ماڼۍ د میوزیم د پېښې وروسته تخلیې څخه درسونه: نیپال

د نیپال په کټمنډو کې د ۲۰۱۵ کال زلزلې وروسته، د هنومان ډوکا ماڼۍ ځینې برخې، چې یو موزیم پکې موقعیت درلود، د لویو ساختاري زیانونو له امله د کارونې لپاره غیر مصونې اعلان شوې وې. د میوزیم کارمندانو د نیپال له اردو څخه د سرو زرو تخت یا چوکۍ او نورو مهمو اثارو په تخلیې کې د مرستې غوښتنه وکړه. د تخلیې پر مهال، د توکو داسې لست، چې د هر شي موقعیت په ګوته کړي، موجود نه وو. په نتیجه کې ، د اردو پرسونل مجبورا د لوړ ارزښت شیانو په موندلو کې له هغه وخت نه چې مصون ګڼل کېده ډیر وخت تیر کړ. دتخلیې پرمهال، دوی د وداڼۍ د پورتني پوړ د دروازې له لارې د سرو زرو تخت یا چوکۍ په کوچولو کې له ستونزو سره مخ شول. په نتیجه کې ، د تخت ځینې برخې، مخکې لدې چې دا د وداڼۍ څخه لرې کړای شي، مجبورا له مینځه یوړل شوې.



*د نیپالي اردو پرسونل د میوزیم څخه د موزیم د توکي د تخلیې په حال کې. عکس: اپرنا تنډن، د اکرام موسسه*

د موزیم رییس او د اسنادو مامور د مرستې چمتو کولو او په رسمي ډول د تخلیه شوي شیانو په ولکه/تحویل کې د اخیستلو لپاره په ساحه کې موجود و. کله چې دا شیان له وداڼۍ څخه وویستل شو، د سرو زرو تخت یا چوکۍ او نور شیان د ماڼۍ په انګړ کې تر هغې وساتل شول چې یو خوندي ځای څو ورځې وروسته وموندل شو. اردو د دوی د ساتنې لپاره څلرویشت ساعته امنیت برابر کړی و.

## د دې تجربې څخه باید کلیدي درسونه واخیستل شي:

- د دې لپاره چې د پېښې وروسته د تخلیې لپاره ښه چمتووالی ولرو ، د فرش د پلانونو ګڼې کاپۍ، چې په واضح ډول د خورا مهمو شیانو موقعیت او ابعاد په ګوته کوي باید د لومړی غبرګون ښودونکو په واک کې ورکړل شي. لیکن، د شیانو د مصونیت د ډاډمن کولو لپاره، دا د فرش پلانونه باید تل د لومړي غبرګون ښودونکو د ډلې څخه بهر خلکو لپاره محرم پاتې شي.
- د کلتوري میراثونو د شیانو تخلیه باید یوازې هغه وخت ترسره شي چې یو خوندي لنډمهاله ځای له مخکې نه ستاسو په واک کې درکول شوی وي او د عملیاتو لپاره اړین لوژستیک موجود وي.
- د بېړني حالت هغه غبرګون ښودونکو او د کلتوري میراث هغه کارپوهانو ته چې د بېړني حالت پر مهال د شیانو د اداره کولو، بسته بندي کولو، مستند سازۍ او لېږد مسولیت پر غاړه لري باید مخکې له مخکې روزنه ورکړل شي. ۱۶۷ مخ ته مراجعه وکړئ.

## د پېښې وروسته تخلیه څرنګه ترسره کړو؟

د پېښې څخه وروسته د تخليې لپاره لاندې کاري جريان د پېښې دمخه د بېړني تخليې د لارښود د هغې برخې نه اخيستل شوی دی  چې له ګواښ سره مخ ميراث، د کلتوري ميراث د ټولګو بېړنۍ تخليي په څېر موضوع ګانو ته ځانګړې شوي ده. په ياد ولرئ چې د غير مصون ځای څخه د شيانو د تخليې پرېکړه بايد د پېښې وروسته په ساحه کې د زيان او ګواښ د ارزونې پر بنسټ ونيول شي.



## اجازه:

د کلتوري ملکیتونو د تخلیې دمخه، د هغو د محافظینو څخه اجازه تر لاسه کړئ، او دا خبره یقیني کړئ چې دوی، یا د کارمندانو غړي، د مشورې ورکولو او ټولو عملیاتو د څارنې لپاره موجود دي.

**مستند سازي:** د رسمي اجازې په سند کې د دې خبرې ذکر کول اړین دي، چې محافظت کوونکي (دومره) د کلتوري میراث لومړنیو مرستندویانو ته اجازه ورکړېده، چې (دومره) توکي تخلیه او بل خوندي ځای ته ولیږدوي (د ځای دقیق نوم او جغرافیایي کواردینات مشخص کړئ). دا سند باید د نورو اړینو توضیحاتو لکه نېټه، وخت او ځای سره یوځای د محافظ لاسلیک هم ولري.

## چمتو کول:

١ **د تخلیې لپاره یوه ډله تیاره کړئ.** په دې ډله کې باید ټول هغه چاروکي شامل وي چې په مستقیم ډول د هغه ټولګو مسولیت لري چې تخلیه کېږي. د ډلې مشر وټاکئ، څوک چې کولی شي د عملیاتو دایره او موخې تشریح کړي او د ډلې غړو ته ځانګړې دندې وسپاري. دا دندې عبارت دي له:

- مستند سازي.
- سمبالول او بسته بندي کول.
- د توکو لېږد.
- د لنډ مهاله ذخیره کولو د ځای تنظیم.
- لوژستیک، لکه اکمالات، خواړه، اوبه او داسې نور.
- د ټیم دننه، او د بهرنیو لوبغاړو او ګټه/دلچسپي لرونکو سره ارتباطات.

٢ په ساحه کې د زیان او ګواښ د ارزونې د موندنو په کارولو سره لاندې شیان، په ګوته او چمتو یې کړئ:

الف. د اغیزمنې شوې ودانۍ دننه او بهر د شیانو لیږدولو لپاره د تخلیې مصونه لار.

ب. د بېلولو او بسته بندۍ ساحه، یا خونه چې دومره لویه وي چې د شیانو د بېلولو ، مستند سازۍ او د بسته بندۍ د توکو لپاره لږ تر لږه د دوو کاري مرکزونو د برابرولو ظرفیت ولري.

ج. د ساحې دننه یا د باندې په لنډمهاله توګه د شیانو د ذخیره کولو لپاره یو مصون ځای.

کله چې د ذخیره کولو خوندی ځای غوره کوئ، دا یقیني کړئ چې:

- دومره لوی وي چې هغه شمېر شیان چې باید ځای یې بدل شي، ځایولی شي.
- پاک وي او د هر ډول حشراتو یا فنګس څخه خوندي وي.
- ښه هوا دار وي او لوند نه وی او لندبل ونلري.
- د غلا او ورانکارۍ پر وړاندې محفوظ وی.
- د داسی یوې لارې پواسطه د لاسرسي وړوي، چی شیان ترې په مصون ډول لیږدول کېدای شی.
- که اړتیا وي، شیان د یوې نامعلومې مودې لپاره د ذخیره کولو په ځای کې پرېښودل کېدای شي.


## ۳ معلومات راغونډول او مستند کول

أ د امکان په صورت کې د هغو شیانو لست تر لاسه کړئ چې باید لومړی تخلیه شي، که داسی لست مو پیدا نکړ، د مستند سازۍ د ډلې څخه یی وغواړئ چې د ارزښت، زیانمننې، او د سمبالولو یا ترانسپورتي اسانتیا پر بنسټ پخوانیو اسنادو ته په مراجعې کولو سره د شیانو لست چمتو کړي. په هغه حالت کې چې دا ډول لست موجود وي د محافظینو یا د کارمندانو سره مشوره وکړئ ترڅو د هغه شیانو لست تیار کړي چې باید اول تخلیه شي. د سامان د بکسې ۵۵ مخ وګورئ.

ب د هغې ودانۍ چې باید شیان ترې تخلیه شي، د فرش د پلانونو کاپۍ ترلاسه کړئ. د موجوده موقعیت د کوډونو په کارولو سره د فرش په پلانونو کې د تخلیې لپاره د شیانو فزیکي موقعیتونه په ګوته او په نخښه کړئ. که چېرې **د موقعیتونو دا ډول کوډونه** موجود نه وي ، یا یو بل سره سر نه خوري ، د مستند سازۍ ډله باید **د موقعیتونو داسې نوي کوډونه** وټاکي، چې ثابت او د پوهېدلو لپاره اسانه وي. د موقعیتونو د کوډونو د جوړولو لپاره د سامان د بکسې ۴۲ مخ وګورئ.

ج کله چې مو د موقعیت کوډونه په فرش پلانونو کې په نخښه کړل، د وخت درلودلو په صورت کې، په ځایونو او فرنیچر باندې د موقعیت د کوډونو لیبل ولګوئ. هڅه وکړئ چې نخښې/لیبلونه په روښانه ډول د لیدلو وړ وي.

د تخليې په موخه د توکو لست چمتو کړئ. که مخکيني اسناد موجود وي، پدې کار کې مرسته کولای شي. کچېرې تاسو دمخه چمتو شوی د توکو لست نلرئ، کولی شئ د چمتو شوې نمونې په کارولو سره يی جوړ کړئ.




٤ د تولګو د بسته بندۍ او لېږدونې لپاره **تجهيزات چمتو کړئ**. د تجهيزاتو د نمونه ای لست لپاره د سامان د بکسې ۶۷ مخ وګورئ.

٥ د شيانو د دسته دسته کولو، مستند کولو او بسته بندۍ لپاره د ساحې په داسې ځانګړې شوې مصونه برخه کې **کاري مرکزونه** جوړ کړئ چې په ساحه کې ستاسو د زيان او ګواښ په ارزونه کې په ګوته شوي وي.

## رابرسېره کول/ بېرته ترلاسه کول

**مستند يې کړئ:** مخکې لدې چې توکي د دسته دسته کولو او بسته بندۍ ساحې ته ولېږدول شي، د دوی د موقعيت کوډ په هغه لېبل ثبت کړئ چې په هغه بکس نصب شوی دی چې د توکي د لېږد لپاره کارول کيږي. بله لاره دا ده چې د مستند سازۍ د دلې څخه يو کس د ترانسپورت د دلې سره يوځای شي او د موقعيت کوډونه په هغه لست کی ثبت کړي چې د لېږد لپاره جوړ شوی دی.

## بسته بندي کول او لېږدول

١ توکي د بېلولو او بسته بندۍ ساحې ته انتقال کړئ؛ ترلاسه شوي توکي د توکو د ډول پر بنسټ دسته بندي کړئ.

أ هر توکي ته د پېژندنې يوه ځانګړې شمېره وټاکئ. دا شمېره د موقعيت د کوډ سره تړېر لري، څکه چې دا په يو ټاکل شوي موقعيت کې هر يو انفرادي توکی په ګوته کوي. توکي په پورته لور/صعودي ترتيب کې شمېره ګذاري کړئ، يا د شمېرو او حروفو ګډوله وکاروئ.

**څرنګه یو توکي ته د پېژندنې یوه ځانګړې شمېره ټاکلی شو؟**

مخکې له دې چې یو توکی بل ځای ته ولېږدوئ، هغه ته د پېژندنې یو ځانګړی نمبر ورکړئ ترڅو تاسو د تخلیې د عملیاتو پر مهال د هغه حرکت تعقیب کړای شئ. ځان ډاډه کړئ چې د تخلیې په موخه د شمېرې ورکونې رامینځته شوی سیستم ساده ، او یو شان وي او ټولې ښکېلې خواوې پرې پوهېدلی شي. دا کېدای شي یوازې په پورته لور ترتیب کې شمېرې وي (د بېلګې په ډول ۰۱، ۰۲ ) او یا د حروفو او شمېرو ګډوله وي. د نورو معلوماتو لپاره د سامان د بکسې ۴۳ مخ وګورئ.

ب یوه لیبل چې د موقعیت کوډ او د پېژندنې ځانګړې شمېره دواړه وښیې، د توکي د لېږدولو لپاره په کارونکو دویمې ملاتړو شیانو باندې ولګوئ، د بېلګې په ډول د کارت بورډ ټوټه، پتنوس، یا انفرادي بکس.

ج د **تخلیې لپاره** د توکو لست بشپړ کړئ او **د لاسرسي شمېرې** ثبت کړئ (که چېرې په توکي باندې وموندل شي) لکه هغه مواد چې دا توکي ترې جوړ شوي دي، د هغې اندازه ، وزن او د مستند سازۍ نور هر ډول معیارونه.

۲ توکي، د دوی د هغو نخښو/لیبلونو سره یوځای چې په دویمې ملاتړو شیانو لګېدلي دي، د کار چمتو شوي ځای ته ولېږدوئ او بسته بندي یې کړئ (د سامان د بکسې ۴۹ مخ وګورئ). ډاډ تر لاسه کړئ چې **د تخلیې لپاره د توکو د لست** یوه بشپړه کاپي د بسته بندي شوو توکو سره مل ده.



*د نیپال ملي موزیم، کتمندو، نیپال، ۲۰۱۶ کال. عکس: اپرنا ټنډن، د اکرام موسسه*

۳ کله چې د شیانو بسته بندي کوئ، ډاډ ترلاسه کړئ چې هغه نخښې/لیبلونه چې د پېژندنې ځانګړې شمېرې او د موقعیت کوډونه لري، په خپل ځای پاتې دي. د بسته بندۍ ملاتړي شیان هم باید دا نخښې/لیبلونه ولري. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د سامان د بکسې ۴۸ مخ کې د توکو د بسته بندي کولو لپاره لارښوونو ته مراجعه وکړئ.



*نیپال په ملي موزیم کې د شیانو د بسته بندۍ پروسه، کتمنډو، نیپال، ۲۰۱۶ کال عکس: اپرنا تنډن، د اکرام  موسسه*

٤ ځان ډاډه کړئ چې لږ تر لږه د مستند سازۍ د ډلې یو غړی د حرکت د تعقیب د فورمې په ډکولو سره په بېلابېلو بکسونو کې د توکو ځای پرځای کول تعقیبوي. دا فورمه د دې لپاره کارول کیږي چې د لنډمهاله ذخیره کولو نوي ځای ته د ټولو توکو رسېدل یقیني کړي. د حرکت د تعقیب د فورمې ګڼې کاپۍ چمتو کړئ (لاندې نمونه وګورئ).

**د حرکت د تعقیب فورمه**

| پواسطه پیدا شویدی | په یو صندوق کې د توکو شمېر | د صندوق شمېره | د را رسېدو نېټه | د انتقال کونکي موټر شمېره | د اولني ځای نه د راوتلو نېټه | د را استونکي کس نوم | د بارولو، بنکته کولو او یا انتقال لپاره لارښوني | په یو صندوق کې د توکو شمېر | د صندوق شمېره | د داخلېدو شمېره |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| څوکېدار | ۲۰ | ۱۲ | ۲۵ جنوری | xx-x۲-۵۶ | ۲۵ جنوری | عبدالحمید متصدی | شیشه:په اختیاط ورسره چلند وکړئ | ۲۰ | ۱۲ | ۱ |
| ... | ... | ... | ... | ... | ... | ... | ... | ... | ... | ... |

٥ کله چې ټول توکي بسته بندي شي، دوی بیا نوي ځای ته لېږدول کېدای شي. په کڅوره کې باید د تخلیې لپاره د توکو لست او د حرکت د تعقیب د فورمې کاپۍ شاملې وي.

## د موقعیت بدلول

پداسې حال کې چې د دلې یوه برخه د توکو اصلي حالت ته د هغو د بېرته راګرځوني، مستند سازۍ او بسته بندۍ په کارونو کې بوخته وي، د دلې نور غړي د لنډمهاله ذخیره کولو د ځای پر چمتو کولو تمرکز کولای شي.

١ په نوي ځای کې د شیانو د تنظیم کولو لپاره د ټولو نه د ډېرې مناسبې لارې په اړه فکر کول پیل کړئ.

٢ د ځای پرځای کولو کوډونه وټاکئ: موجوده فرنیچر څرنګه چې مناسب وي ولېږدوئ، او د توکو د نوو ځایونو په نخښه کولو لپاره الماریو او طاقونو ته د موقعیت کوډونه ورکړئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې دا کار د توکو له رسېدو دمخه ترسره شوی وي. د نورو معلوماتو لپاره د سامان د بکسې په ۴۱ مخ کې په لنډمهال ذخیره کې د ځای پرځای کولو کوډونو چمتو کولو ته مراجعه وکړئ.



*په مرکزي ایټالیا کې لنډمهاله ذخیره، ۲۰۱۷ کال. عکس: اپرنا ټنډن، د اکرام موسسه*

٣ د بېړنۍ تخلیې پرمهال شاید دا ممکنه نه وي چې د ذخیره کولو مناسب فرنیچر لکه الماریۍ ولرئ، پداسې حالت کې توکي د هغوی په بستو کې په فرش باندې کېږدئ. د ذخیره کولو د بکسونو او د فرش تر مینځ د مستقیم تماس د مخنیوي لپاره ترپالونه یا تختې وکاروئ. که تاسو د لرګیو تختې کاروئ، ډاډ ترلاسه کړئ چې دوی د حشراتو یا فنګس تر حملې لاندې ندي راغلي.

٤ د حرکت د تعقیب د فورمې په کارولو سره توکي په نوي لنډمهاله ذخیره کې په رسمي ډول تسلیم کړئ. بیا، د بېړنی تخلیې لپاره د توکو سره مل لست وګورئ او توکي د هغوی د موادو د ډول او اندازې پر بنسټ یو له بله جلا کړئ. بسته بندي شوي توکي په الماریو کې، یا په پاکو تختو او نورو موجودو فرنیچرو باندې ځای پر ځای کړئ. هڅه وکړئ چې نازک او په اسانه ماتیدونکي توکي له ځمکې لرې وساتئ او د خونې په اخیري برخه کې یې داسې ځای پر ځای کړئ، چې په اسانه ورته لاسرسی نشي کېدای. په ورته ډول، لوی یا درانه توکي باید د خونې په اخیري برخه کې یوځای کېښودل شي، ترڅو د کوچنیو توکو د حرکت او تنظیمولو لپاره ځای خالي وي.

٥ د دې لپاره چې په نوې لنډمهاله ذخیره کې د هر توکي فزیکي موقعیت مستند کړئ، د هغې اړوند د بکس شمېره او د الماری شمېره د توکو په لست کې د ‹نوی موقعیت› د عنوان لاندې خانه کې ولیکئ.

٦ د غلا او ورانکارۍ د مخنیوي لپاره د نوې لنډمهاله ذخیره کولو ساحه کې مناسب امنیتي تدابیر ونیسئ . که اړتیا وي، ساتونکي وګمارئ.

د جارۍ کړکیچ په سیمو کې، دا اړینه ده چې د امنیت وضعیت په دوامداره توګه وڅارئ، ترڅو د اړتیا په صورت کې،کوم بل ځای ته د توکو د لېږدولو لپاره کافي وخت ولرئ.

## راپور ورکړئ

د توکو تازه لست چې د توکو د نوو موقعیتونو په شاملولو سره بشپړ کړای شوی وي، د تخلیې د ټولو عملیاتو د لنډ راپور سره یوځای محافظینو ته وسپارئ. پدې راپور کې باید داسې عکسونه موجود وي چې د عملیاتو اصلي مرحلې مستند کوي، د توکو د بسته بندۍ لپاره د کارول شوو توکو توضیحات، د لګښتونو په اړه معلومات، او د هغې ډلې د اړیکو معلومات چې په تخلیه کې ښکېل و، شامل وي. دا لست باید د ډلې د مشر لخوا چې د عملیاتو نظارت یې کوو لاسلیک شي.

## څارنه وکړئ

د نوي لنډمهاله ذخیره کولو د ځای پاکول او څارنه خپل عادت وګرځوئ ، ترڅو د حشراتو ، اور ، اوبو او د نورو هر ډول فکتورونو چې توکو ته زیان اړولای شي، مخه ونیسي.

## ویې ژغورئ

د پېښې نه بعد تخلیې د بشپړېدو وروسته زیانمن شوي کلتوري میراثونه باید باثباته شي. ژغورنه د هغې ساحې څخه چې ګواښ ورباندې منفي اغیزه کړې ده د زیانمن شوي کلتوري میراث د توکو، د ودانۍ د ټوټو او د ارایشي عناصرو بېرته اصلي حالت ته د هغوی سیستماتیکه راګرځونه ده.

د منقول کلتوري میراث ژغورنه ، د پېښې څخه وروسته تخلیې کاري جریان ته ورته پروسه ده، خو پدې کې د کلتوري میراث د توکو د بېلولو او با ثباته کولو لپاره د داسې اضافي اقداماتو شاملول په پام کې نیول کیږي چې د مسلکي اقداماتو د ترسره کولو تر وخته پورې د نور زیان نه د مخنیوي لپاره طرح شوي وي. د تاریخي جوړښت د جزوي یا بشپړ رنګېدو په صورت کې په ژغورلو کې د اصلي ډبرو، خښتو یا د لرګیو څخه جوړو عناصرو د بېرته موندلو لپاره د ملبې/ کثافاتو بېلول هم شامل دي، چې د راتلونکي **بیا رغونې** لپاره به وکارول شي.

د بېړني حالت په پام کې نیولو سره، تاسو ممکن دې نتیجې ته ورسېږئ چې تخلیه او ژغورنه باید یوځای تر سره شي ، یا تاسو ته ممکن معلومه شي چې په ګواښ لاندې ساحه کې هېڅ شی زیانمن شوی نه دی، او یوازې د ساحې د پاکولو لپاره د پېښې وروسته تخلیې ته اړتیا ده.



*پورټ او پرنس، هایټي، ۲۰۱۰ کال. عکس: اپرنا تېنډن، د اکرام موسسه*

## د سېلاب ځپلي تاریخي ارشیف ژغورل: چیلي

د ۲۰۱۶ کال په جون کې، غیر موسمي سخت باران د تالکا، د سانتیاګو سویل لوري په ۲۵۰ کیلومترۍ کې واقع ښار، په پراخه برخو کې د تېزو سیلابونو لامل شو. د اوبو ویستلو د سیستم د کاره غورځېدل د یونیورسید ډی تالاکا د ودانۍ په تاکاو کې د اسنادو په مرکز کې، چې د پخوانیو نسخو او د موزیک د کمپوز د اصلي لیکنو مهمه ټولګه ورپکې ځای پر ځای شوې وه، د سېلاب راتللو لامل شول. اوبه د باران د بندېدو دمخه د ۵۰ سانتي مترو لوړوالي ته ورسېدې. ټول هغه کتابونه او نسخې چې په ښکته الماریو کې اېښودل شوي وو، او هغه چې په فرش باندې په بکسونو کې ذخیره شوي وو، خورا زیات لانده شوي و ، چې په ټولیز ډول نږدې ۵۰۰۰ کتابونه او نسخې اغیزمنې شوې وې. د پکیو او د لندبل ضد وسایلو د نصبولو د مخه اوبه د تاکاو څخه بهر ته پمپ شوې او د امکان تر حده فرشونه زر تر زره وچ شول. د اغېزمنو شوو شیانو د لوی مقدار له امله پرېکړه وشوه چې دوی تر هغې چې په سمه توګه وچ کړی شي، باید کنګل شي. د توکو لومړیتوب د لوندوالي د درجې پر بنسټ په ګوته شو، او داسې تنظیم شول چې یا وچ او یا کنګل شي.

یخچال لرونکي لارۍ او فریزرونه د میوو د یو صادرونکي شرکت څخه په پور اخیستل شوي و. لانده کتابونه، د ذخیره کولو لپاره په بکسونو کې د ځای پر ځای کولو دمخه، په ښه ډول سره جلا او په پلاستیکي کڅوړو کې اېښودل شوي و، تر څو د کنګل کولو لپاره چمتو وي. کتابونه بیا په ټرکونو کې فریزر لرونکو تاسیساتو ته لېږدول شوي و، چې دوی د لسو میاشتو لپاره په ۲۴− درجو سانتي ګراد کې وساتل شول.

کنګل شوي کتابونه په لږ مقدار کې له فریزرونو څخه جلا کېدل او په پوره احتیاط سره د کنګل حالت نه ویستل کېدل. په پایله کې، ټول کتابونه او نسخې د کنګل حالت نه وویستل شول او وچ شول. د ناورین د پلان او سمدستي چټک غبرګون په پایله کې، ټول توکي په بریالیتوب سره بېرته خپل اصلي حالت ته راوګرځول شول.

سرچینه: ماریا سیسیلیا روډریګیز مورینو، د محافظت ریس، د کاغذ او کتابونو لابراتوار، د ساتنې او بیا په خپو دروني ملي مرکز، د کتابتونونو ریاست، ارشیفونه او موزیمونه، چیلي.

په ۱۶۶ مخ کې حوالې وګورئ




*د لندو کتابونو د پاڼو له یو بل نه جلا کول، د ساتنې او بیا په خپو دروني ملي مرکز، چیلي، ۲۰۱۶.*

*عکس: ماریلا اریګاډ*

## د ژغورنې چارې څرنګه ترسره کړو؟

### د ژغورنې لپاره کاري جریان:



## اجازه

د اړوندو ګټه/دلچسپي لرونکو سره مشوره وکړئ او د ژغورلو د عملیاتو او د ژغورل شوو توکو د ساحې دننه یا د ساحې بهر په لنډمهاله مصون ځای کې د ځای پر ځای کولو لپاره اجازه تر لاسه کړئ ( ښه به دا وي چې دا اجازه په لیکلي بڼه کې وي).

## تیاری ونیسئ

۱ **ډله جوړه کړئ:** داسې ډله رایوځای کړئ چې د ژغورنې په عملیاتو کې به ګډون ولري او:

- پدی ځان ډاډه کړئ چې د ډلې ټول غړي پدې پوهیږي چې د ساحې کومې برخې ممنوعه دي.
- د ژغورنې د عملیاتو کاري جریان تشریح کړئ.
- د ډلې مشر وټاکئ، څوک چې به د ژغورنې د ټولو عملیاتو نظارت کوي.

خلک په فرعي ډلو وویشئ او د دندې اړوند مهارت او وظیفي سره د علاقې پر بنسټ ونډې مشخصې کړئ. په دندو کې **مستند سازي، د توکو بیرته ترلاسه کول، بېلول ، با ثباته کول ، بسته بندي، ترانسپورت، لوژیستیک** او ارتباطات شامل دي. که تاسو د عملیاتو لپاره کافي روزل شوي خلک نلرئ، یو څه وخت د رضاکارانو په روزنې ولګوئ ، ترڅو په هغو کارونو کې مرسته وکړي چې تخصصي پوهې ته اړتیا نلري.

۲ هغه شیان چې باید وژغورل شي د هغوی د ډول، د اوختې زیان د ډول، او د ګواښ د پېښې د نوعیت سره سم **اکمالات وکړئ**. د بېلګې په ډول، که چېرې اغیزمن شوي توکي د عضوي موادو څخه جوړ شوي وي او لانده او خاورین وي، د سمبالولو او وچولو لپاره د پلستر د جالی په څیر موادو ته به اړتیا وي. د هغو توکو د غوره کولو لپاره چې تاسو به ورته اړتیا لرئ،د ساحې د زیان او ګواښ د ارزونې موندنې وکاروئ. د ژغورنې د اکمالاتو د عمومي لست لپاره، د سامان د بکسې ۷۰ مخ ته مراجعه وکړئ.

۳ **ځای چمتو کړئ:** د توکو د با ثباته کولو په موخه د کړو وړو ترسره کولو لپاره ساحه ځانګړې کړئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې هر کاري مرکز د هغه شمېر توکو د با ثباته کولو د فعالیتونو لپاره چې اغېزمن شویدي، کافي ځای لري. هر کاري مرکز باید د باثباته کولو په یوې لارې چارې تمرکز وکړي. د بېلګې په ډول، په ورته کاري مرکز کې د لندو پاکولو او وچو پاکولو لارې چارې مه تر سره کوئ، ځکه چې تاسو به د اضافي کثافاتو سره د لندو شیانو د ککړتیا د ګواښ ، یا د وچو شیانو د لندیدو د ګواښ سره مخامخ شئ، چې د نور زیان سبب ګرځي.

٤ **کره وره مو مستند کړئ:** د هغه توکو د مستند سازۍ او تعقیبولو لپاره چې باید بېرته خپل اصلی حالت ته راوګرځول شي ، یو سیستم جوړ کړئ. د مستند سازۍ سیستم باید درې اساسي برخې ولري:

الف. د هاغه ځای د ثبتولو لپاره یو سیستم چې له هغې نه توکي بېرته خپل اصلی حالت ته راوګرځول شي. که تاسو د فرش پلان ته لاسرسی لرئ نو هغه د داسې ځاینو په ګوته کولو کې وکاروئ چې د فرش په پلان کې د ورکړل شوو شمېرو سیستم پکې کارول شوی وي. که په فرش پلان کې د شمېرې وهنې سیستم روښانه نه وي یا یوه شمیره له بلې سره سر نه خوري ، نو د موقعیت نوي کوډونه جوړ کړئ. د نوو کوډونو د جوړولو د څرنګوالي لپاره د سامان د بکسې ۴۲ مخ وګورئ.

ب. که ودانۍ یا جوړښت په جزوي یا بشپړ ډول ړنګ شوی وي او توکي د ملبې د یوې طبقې لاندې وي، د توکو د موقعیت د معلومولو لپاره یوه شبکه جوړه کړئ. شبکه د اړتیا سره سمه کوچنۍ یا لویه کېدای شي. د ورته ساحې په مختلفو برخو کې د ملبې د ګنو ځایونو لپاره ، د اړتیا سره سم دېرې شبکې جوړې کړئ او هرې شبکې ته یوه ځانګړې شمیره ورکړئ. بیا یې د ساحې په یوائېنۍ نقشه کې چې شمال ورپکې په نخښه شوی وي، ځای پر ځای کړئ. د لویو لرغونو ساحو په صورت کې چې په ګڼو برخو کې یې ژغورنه تر سره کیږي، شبکه په هغه نقشه کې چې **د جغرافیایي معلوماتي سیستم (GIS)** د وسیلې سره وصل وي، رسمېدای شي.  د لا زیاتو معلوماتو لپاره د سامان د بکسې ۱۱ مخ وګورئ.

ج. د هغو توکو لپاره چې بېرته خپل اصلی حالت ته راګرځول شویدي، **د شمېرې وهنې سیستم** (د سامان د بکسې ۴۳ مخ وګورئ). په معقول ډول د توکو د شمېرلو او تعقیبولو لپاره یو سیستم جوړ کړئ ترڅو هر توکي او د هغه مختلفو برخو ته یې د پېژندنې ځانګړې شمېره ورکړې.

د. **د ژغورنې د ثبت فورمه:** دا فورمه د بېرته خپل اصلي حالت ته د راګرځول شوو توکو د شمېر د ثبتولو لپاره کارول کیږي او د ژغورنې د عملیاتو په اوږدو کې د دوی حرکت تعقیبوي. دا همدارا‌ز تقویه کونکي معلومات لکه د هر توکي د عکس شمېره، د توکو د لست اصلي شمېره او د فرش د پلان د حوالې شمېره هم وړاندې کوي. دا په دریو برخو ویشل کېدای شي، کوم چې د ژغورنې د عملیاتو په دریو بېلابېلو پړاونو کې بشپړېدای شي، چې په لاندې ډول دي: (۱) ترلاسه کول (۲) بېلول او باثباته کول؛ او (۳) بسته بندي او د ځای بدلول. د بېلګو لپاره راتلونکې پاڼه وګورئ.

## ۱ بیرته لاس ته راوړل .

| مخکنۍ شمېره | د پېژندنې ټاکل شوې شمېره | اصلي موقعیت | د ثبت شمېره |
|---|---|---|---|
| | | | |

مخکنۍ شمېره: دا ځای د پېژندنې هغه ځانګړې شمېره ښايي چې توکي ته ټاکل شوېده.

اصلي موقعیت: د شمېرې وهلو د مخ په بره ترتیب له مخې له اوله تر اخره لېږدول شوي توکي. دا د ژغورل شوو توکو شمېر په ګوته کوي

## ۲-الف بېلابېلو او باثباته کول

| ابعاد: طول عرض، او ضخامت | مواد | د توکی ډول | د اصلي موقعیت کوډ | مالک/ اداره |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |

مواد: توکی د څه شي نه جوړ شوی دی. مثلا شیشه، خته، فلز، اوبدل شوي مواد او نور

د توکی ډول: د ،: د توکي د» نوعیت، خانه د اړونده توکي مختصراً تشریح کوي

د اصلي موقعیت کوډ: دا ځای د ژغورل شوي توکي د اصلي موقعیت کوډ ښايي. د اصلي موقعیت کوډ یا د اړونده خانې شمېره ښايي او یا د الماری، اطاق او منزل د شمېره یو ترکیب ته اشاره کوي او دا په دې پورې اړه لري چې د موقعیت د کوډ د ټاکنې لپاره کوم سیستم کارول شوی دی

## ۲ب بېلابېلو او با ثباته کول

| د با ثباته کولو چاره چا برابره کړېده | د زیان نه د خلاصون لارې چارې (د باثباته کولوېه وخت کې خانه پورې شي. | د زیان ډول | د عکس یا رسم د حوالې شمېره | وزن |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |

دا ځای د با ثباته کولو ډول ښيي چې توکي ته ورکول شوی دی، مثلا وچ او په خاورو ککړ توکي باید لنډ مهاله د ذخیره کولو ځای ته د لېږدولو دمخه پاک شي یا په پاکو اوبو ومینځل شي

د زیان ډول،د زیان ډول مختصرا واضح کړئ چې د» توکي فزیکي حالت څرنګه دی او د هغه زیان ډول او اندازه هم واضح کړئ چې توکي ته اووختی دی

د عکس یا رسم د حوالې شمېره د زیانمن شوي» توکي عکس یا رسم ته اشاره کوي . که کافي وخت ونه لرئ چې په ساحې کې د یو یو توکي عکس واخلئ نو د توکو د یوې ټولګې عکس واخلئ او د هغوی د پېژندنې لپاره نمرې پرې ولیکئ. د عکس شمېره ثبت کړئ. دا ځای هغه وخت ډک کړئ چې توکی يې د زیان نه د ژغورنې د اولیت پر بناه جلا کوئ. او یا یې د لنډ مهاله ذخیرې په ساحې کې ډک کړئ. دا کار پدې پورې اړه لري چې تاسو څومره وخت لرئ

دلته د توکي وزن ولیکئ. که د وزن معلومولو وسیله نه لرئ علامې وکاروئ. مثلا + علامه وکاروئ چی وښيي دا توکی یو کس لېږدولی شي. د ++ علامه ښيي چی دوه کسان يې لېږدولي شي. او +++ علامه به دا وښيي چې د یو نه زیاتو کسانو ته او خاصو وسایلو ته اړتیا ده چې دا توکی ولېږدوي

## ۳ بسته بندي او د موقعیت بدلول

| موقعیت د بدلولو کوډ | نېټه | چا لېږدولی دی |
|---|---|---|
| | | |

دا ځای د موقعیت د بدلولو کوډ ښيي چې توکي ته هغه وخت ورکول شوی چې د لنډ مهاله ذخیرې ځای ته لېږدول کیده. دا ځای باید هغه وخت ډک شي کله چې د ټولو موادو موقعیت بدل شي

## بېرته لاسته راوړل/ رابرسېره کول

د یو جوړښت د نړېدو په صورت کې امکان لري د تاریخي ودانیو ټوټې او توکي د درنو کانکریټو او نورو بیکاره ملبو لاندې ښخ وي. په داسې حالاتو کې، د بېړني غبرګون همغږي کوونکي، یا د پېښې ته د غبرګون ناظم سره اړیکه ونیسئ او د ملبې د لرې کولو په اړه ورسره مشوره وکړئ. تاسو ممکن د ایکسکواټور په څېر درنو ماشینونو ته اړتیا ولرئ. د دې لپاره چې ډاډ تر لاسه کړئ، چې دا ډول کړنې مصونې دي، د ماشین چلونکي او د ساختماني انجنیر سره مشوره وکړئ.

د ککړ چاپېریال څخه د توکو په احتیاط او منظم ډول ترلاسه کول مهارت او حوصلې ته اړتیا لري. تل د جوړو په ډول (دوه کسه یو ځای) کار وکړئ، ترڅو د لاسته راوړنې/ رابرسېره کونې پر مهال د کارکونکو د ټپي کېدو او د کلتوري میراث اثارو ته د نور زیان اووختتې مخه ونیول شي.

د ودانۍ له یوې برخې یا شبکې څخه د شیانو ترلاسه کولو لپاره:

- لومړی هغه توکي پورته کړئ چې واړه او وچ وي او زیان ورته نه وي رسېدلی.
- د نازکو او ماتېدونکو او زیانمن شوو توکو د رابرسېره کولو او لېږدولو لپاره باید سخت کمکي مواد ولرئ (لکه درانه کارت بورډونه یا د لرګیو هوارې تختې).
- د لویو یا درندو توکو د ژغورلو لپاره تل هڅه وکړئ چې لږ تر لږه دوه کسان یو ځای کار وکړي او ځان ډاډه کړي چې توکي په کافي اندازه حمایه شوي دي.
- که یو توکی مات شوی وي، ځان ډاډه کړئ چې ټولې ماتې شوې برخې بېرته را برسېره شوي او یوځای ساتل کیږي. د سمبالتیا د اسانه کولو لپاره، توکی او د هغې ماتې شوې برخې په یوه بکس یا شفافې پلاستیکي کڅوړه کې ځای پرځای کړئ.
- د انفرادي توکو حفاظتي سامان (چوکاټونه، بکسونه او پشتي ګانې) د دوی د اړوندو توکو سره یوځای وساتئ.
- د مستند سازۍ د هغې بنې په ساتلو سره، چې تاسو غوره کړې ده، د توکي د اصلي ځای شمېره ثبت کړئ، توکي ته یوه شمېره وټاکئ، او د را سېره شوو توکو تعداد ولیکئ.

په یو وخت کې د شبکو د یوې خانې څخه ټوټې لرې کړئ، ترڅو د ځای د لیبل کولو پرمهال غلطي ونشي




*په پورټ او پرنس، هایتي کې د ژغورنې په عملیاتو کې د شیانو ترلاسه کول/رابرسېره کول، ۲۰۱۰ کال*

*عکس: اېرنا تېنډن، د اکرام موسسه*

## د تاریخي ساختماني توټو او عناصرو رابرسېره کول/بیرته تر لاسه کول

د توټې توټې شوو تاریخي جوړښتونو، سطحو او په خپل اصلي ځای/حالت کې د هنري اثارو رابرسېره کول کېدای شي ډېر وخت ونیسي او یوه نازکه پروسه وي. د کار د ځای او میتودولوژۍ د چمتو کولو لپاره **د ساحې د زیان او ګواښ د ارزونې** موندنې وکاروئ (۶۳ مخ وګورئ).

په ساحه کې د تاریخي توکو د رابرسېره کولو د مخه، لاندې ټکي په پام کې ونیسئ:

- د ملبې او توټې توټې شوو موادو ډولونه چې تاسو یې په ساحه کې د موندلو هیله لرئ.
- د اصلي ساختماني موادو، او ارایشي توکو یا په اصلي حالت/ځای کې د هنري توکو اهمیت او برترۍ.
- د ساختماني موادو کومې توټې د اصلي جوړښت یا کلتوري میراث لپاره غیر ضروري دي او یا د هغې سره سمون نه خوري؟ کومه ملبه بیا کارول کېدای شي یا یې پر ځای نور مواد وکارول شي،یا بیخي باید لرې وغورځول شي؟
- د ذخیره کولو دمخه توټې د **باثباته کولو** کوم ډول لارو چارو ته اړتیا لري؟

کله چې د تاریخي توټو لړۍ کول اړین وي، دا خبره یقیني کړئ چې تاسو د لړۍ کولو دمخه د دوی اصلي ځای ثبت کړی وي. مستند کول د ساختماني توکو یا په اصلي ځای/حالت کې د هنري میراث د اصلي موقعیت په روښانه کولو کې مرسته کوي، تر څو د بېرته په ځپو دروني پرمهال په جوړښت کې بیا یوځای شي. دا کار دا هم یقیني کوي چې توټې د لړۍ کولو پر مهال د لاسه و نه اوځي یا غلا نشي. د هغې شبکې پر بنسټ له کومې نه چې مو توټې تر لاسه کړیدي، د موقعیت کوډ جوړ کړئ (د سامان د بکسې ۴۲ مخ وګورئ) او چېرته چې امکان ولري، بصري اسناد هم ورسره یوځای کړئ.

کله چې تاسو توټې رابرسېره کړئ ، تاسو کولی شئ د ژغورنې هغه کاري جریان چې د منقول کلتوري میراث د توکو لپاره کارول کیږي، تعقیب کړئ.

## بېلول (د توکو بېلول پدی موخه چې اول د کوم یو چاره وشي)

د ژغورلو په پراخه عملیاتو کې، چېرته چې په ډېر لږ وخت کې په زرګونو توکې باید رابرسیره شي او د دې لپاره چې غم یې وخوړل شي طبقه بندي شي ، د لومړیتوبونو په ګوته کول خورا زیات اهمیت لری . دا کار په ډېر اغېزمن ډول د توکو بېلول د دی لپاره چې اول د کوم یو چاره وشي د سیستم له لارې تر سره کېدای شي .

د دی لپاره د کلتوري توکو بېلول چې اول د کوم یو چاره وشي د رابرسېره شوو توکو دسته بندئ ته اشاره کوي، پدې معنی چې د هغوی نه کوم یو لومړۍ با ثباته شي او دا کار د درې لاندې معیارونو پر بنا تر سره کوو:

- کلتوري میراث ته د وختي زیان کچه.
- که چاره یې ونشي د نور زیان ګواښ.
- د توکي یا جوړښت اهمیت یا ارزښت.

د یو توکي د ارزښت معلومول یو پېچلی کار دی. په ډېرنیو حالاتو کې دا غوره ده چې د ارزښت ارزونه **د وضعیت د تحلیل** (۳۰ مخ وګورئ) او **په ساحه کې د زیان او ګواښ د ارزوني** (۴۲ مخ وګورئ) په پړاوونو کې ترسره شي. دا ډول ارزونه باید د پېښې څخه دمخه د موجوده اداري اسنادو پر بنسټ وي ، لکه د توکو لست یا د توکو د ثبت کتاب. د سامان د بکسې ۵۵ مخ به تاسو ته دروښیي چې کله د یو توکي ارزښت نه وي معلوم پدی بنا وېشل څرنګه ترسره کړئ چې د کوم یو چاره اول وشي.

کله چې د کلتوری میراث د رابرسېره شوو توکو داسې بېلول چی لومړی د کوم یو چاره وشي تر سره کوئ، لاندې لست شوي قدمونه تعقیب کړئ:

۱ **زیانمن شوي او غیر زیانمن شوي توکي سره جلا کړئ.** سربېره پر دې، وچ او لانده توکي سره جلا کړئ. فنګس وهلي توکي لرې کړئ او په پلاستیکي کڅوړو یا بکسونو کې یې مهر کړئ او له نورو توکو څخه یې جلا وساتئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې د توکو د داسی بېلولو پر مهال چی د غم خوړلو لپاره یی اولیتونه په ګوته کړي ، د دوی د اصلي موقعیت کوډ هر وخت له دوی سره مل پاتې وي.



*د ۲۰۱۶ کال د کړکېچ پر مهال د کلتوري میراثونو د لومړنیو مرستو په اړه د نړیوال کورس په جریان کې د تمرین د یوې برخې په توګه د ژغورل شوو توکو داسی دسته بندي کول چی کوم یو د نورو نه ډیر اغیزمن شوی او باید ژر یی مرمت وشي، واشنګټن – عکس: د سمیتسونین انستیتیوټ او د اکرام موسسه*

۲ توکي د دوی د فزیکي حالت، د موادو د ډول او د اړتیا وړ ترمیمی لارو چارو د ډول پر بنسټ **په ډلو ووېشئ.** د بېلګې په ډول، د کاغذ یا توکر څخه جوړ شوي شیان چې وچ وي، مګر سطحې یې پاکولو ته اړتیا لري، باید یوځای وساتل شي. په ورته ډول، هغه نازک یا ماتېدونکي خاورین توکي او شیشې چې زیان یې ندی لیدلی، باید یوځای سره راټول شي.

٣ د مرمت د اولیت پر بنا د توکو د بېلولو د پروسې د بشپړېدو وروسته، هر توکي ته د پېژندنې ځانګړې شمېره ورکړئ. په دویمې حفاظتي وسیلې باندې چې د توکي د سمبالښت او لېږد لپاره ترې کار اخیستل کیږي، داسې نخښه/لیبل ولګوئ چې د پېژندنې ځانګړې شمېره او د موقعیت کوډ ولري.




*یوه ژغورل شوې نقاشي چې یو لیبل/نخښه لري چې د پېژندنې شمېره او اصلي ځای یې په ګوته کوي، ایټالیا، ۲۰۱۷ کال. عکس: ایرنا تېدن، د اکرام موسسه*

٤ **مستند سازي وکړئ:** د **ژغورنې د ثبت د فورمې** هغه برخې (۹۲ مخ وګورئ) چې د توکي د پېژندنې، اصلي موقعیت، ابعادو او حالت پورې اړه لري، ډکې کړئ (۹۳ مخ وګورئ).

کچېرې د کلتوري میراث توکي د باثباته کولو لپاره د ساحې څخه بهر لېږدولو ته اړتیا ولري، خو د ژغورلو د ثبت د فورمې د ډکولو لپاره لږ وخت ولرئ، ډاډ ترلاسه کړئ چې:

- هر توکي ته د پېژندنې یوه ځانګړې شمیره ټاکل شوې ده. د سامان د بکسې ۴۲ مخ/پاڼه وګورئ.
- ټول توکي، کڅوړې او بکسونه د دوی د ټاکل شوو شمېرو درلودونکي نخښې/ لیبلونه لري.
- د پېژندنې ځانګړې ټاکل شوې شمېره (د سامان د بکسې ۴۲ مخ وګورئ)، اصلي موقعیت، د موادو ډول او د توکو وزن، **د ژغورنې د ثبت په فورمه** کې درج کېږي (۹۲ مخ وګورئ).

که رابرسیره شوو توکو زیان نه وي لیدلی، د ژغورنې د ثبت فورمه ډکه کړئ، توکي بسته بندي کړئ، او په چمتو شوي لنډمهاله ذخیره کې یې ځای پر ځای کړئ (په ۱۰۳ مخ کې **ځای پرځای کول** وګورئ)

## باثباته یې کړئ

د مرمت لپاره د اولیت پر بنا د بېلولو وروسته زیانمن شوي توکي باثباته کولو ته اړتیا لري، چې دا کار په ساحه یا له ساحې بهر، په پاک او چمتو شوي ځای کې ترسره کېدای شي. د باثباته کولو هڅې د کلتوري میراث رابرسېره شوو توکو ته د نور زیان رسېدنې او خرابېدو مخنیوي کې مرسته کوي.



*په پورټ او پرنس، هایټي کې د توکو د باثباته کولو او وچې سطحې پاکولو لپاره د کار مرکز، ۲۰۱۰ کال.*

*عکس: اېرنا تېدن، د اکرام موسسه*

د باثباته کولو لپاره دوه پړاونه دی چی لاندی تشریح شوي دي:

١ **د سطحې پاکول:** ګواښوونکي پېښه کېدای شي دوړه/ګرد، سکاره، چټلي او ککړتیا شاته پرېږدي، چې کچېږي دا شیان د توکو پر سطحه پرېښودل شي، د نور زیان او خرابېدو لامل ګرځي. کچېږي یو توکی لوند وي او ککړتیا ولري، ښایي د ککړتیا د لرې کولو لپاره په پاکو اوبو وینځلو ته اړتیا ولري. د سطحې د اړتیا وړ پاکولو ډول د ګواښ په ماهیت، د زیان په اندازې، او د کلتوري میراث د توکي د جوړښت په موادو پورې تړاو لري. هڅه وکړئ چې د توکو د موادو په جوړښت/ترکیب، او د دوی په ساختاري بشپړتیا باندې د مرمت د لارې چارې په اغېزې ځان پوهه کړئ. په جدي توګه فکر وکړئ او د باثباته کولو لپاره د مرمت د لارو چارو ترټولو مناسبه لاره چی امکان یې وي غوره کړئ

٢ **مستند سازي:** د باثباته کولود لارو چارو په ټوله موده کې، توکو ته د ورکړې شوې د موقعیت کوډ او د پېژندنې ځانګړې شمیره وساتئ. کله چې د باثباته کولو اقدامات بشپړ شي، **د ژغورنې د ثبت د فورمې** اړونده خانې ډکې کړئ (۹۴ مخ وګورئ).

د منقول کلتوري میراث د باثباته کولو د خورا عامو اقداماتو ګام په ګام لارښود لپاره « د زیانمن شوي منقول میراث باثباته کول» بر خې ته د سامان د بکسې ۵۷ مخ کې مراجعه وکړئ.

## بسته بندي یې کړئ او حرکت وکړئ/ویې لیږدوئ

د رابرسېره کولو، د مرمت لپاره د اولیت په معیار له بېلولو، باثباته کولو او مستند سازۍ وروسته (که چېرې دا ټول په ساحه کې ترسره شوي وي)، توکي باید د موقعیت بدلون او ذخیره کولو لپاره چمتو وي.

١ **و یې پېچئ:** وچ توکي باید د ذخیره کولو دمخه په محافظتي طبقې، لکه فوم یا د پنبې تیکې سره ووپوښل شي، ترڅو توکي د نور زیان رسېدنې څخه وساتل شي او د لېږد پر مهال مصون وي. د کلتوري میراث د توکو د بېلابېلو ډولونو د سمبالښت او بسته بندۍ په اړوند لارښوونې، د سامان د بکسې په ۴۹ مخ کې وګورئ.

په هغه حالت کې چې د زیانمن شوو توکو د باثباته کولو چارې په ساحه کې نشي تر سره کېدای، د باثباته کولو ساحې ته د لېږد لپاره یې په خوندي ډول بسته بندي کړئ. د توکو عکسونه واخلئ او نخښې/لیبلونه ، چې د هر توکي د پېژندنې ځانګړې شمېره ښیې، پرې ولګوئ. دا کار د بسته بندۍ نه دمخه ترسره کړئ، ترڅو هر توکی د باثباته کولو په ساحه کې په اسانۍ سره وپېژندل شي.

ډاډ ترلاسه کړئ چې لانده یا لندبل لرونکي توکي په احتیاط سره پوښل شوي وي، ترڅو د نورو توکو د ککړتیا څخه مخنیوی وشي او د لېږد پر مهال د چټکو وچېدو مخه ونیول شي. که امکان ولري، یخچال لرونکي لارۍ باید د کنګل کولو یا کنګل – وچولو په موخه

د لاندو توکو د لېږد لپاره وکارول شي.

## ۲ لیبل ولګوئ او د ژغورنې د ثبت فورمه بشپړه کړئ

الف. بسته بندي شوي توکي د پېژندنې په هغو ځانګړو شمېرو سره لیبل کړئ، چې په تېر پړاو کې توکو ته ورکړل شوې وې. ډاډ ترلاسه کړئ چې هر لیبل په روښانه ډول لیدل کیږي او په خوندي توګه نښلول شوی دی. هغه بکسونه چې له یوه څخه زیات توکي ورپکې وي، باید د دننه موجودو توکو شمېر په ګوته کړي، او داسې لست چې په بکس کې موجود د هر توکي د پېژندنې ځانګړې شمېره په ګوته کوي، ورسره وي.

ب. د **ژغورنې د ثبت فورمه** (۹۲ مخ وګورئ) او د حرکت د تعقیب فورمه (لاندې نمونه وګورئ) بشپړه کړئ.

د حرکت د تعقیب فورمه

| پواسطه پیدا شویدی | په یو صندوق کې د توکو شمېر | د صندوق شمېره | د را رسېدو نېټه | د انتقال کونکي موټر شمېره | د اولني ځای نه د راوتلو نېټه | د را استونکي کس نوم | د بارولو، بنکته کولو او یا انتقال لپاره لارښوني | په یو صندوق کې د توکو شمېر | د صندوق شمېره | د داخلېدو شمېره |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| څوکېدار | ۲۰ | ۱۲ | ۲۵ جنوری | xx-x۲-۵۶ | ۲۵ جنوری | عبدالحمید متصدی | شیشه:په اختیاط ورسره چلند وکړئ | ۲۰ | ۱۲ | ۱ |
| ... | ... | ... | ... | ... | ... | ... | ... | ... | ... | ... |

۳ لږ تر لږه د مستند سازۍ د ډلې یو غړی باید د توکو په بکسونو کې د ځای پرځای کولو پر مهال دا پروسه تعقیب کړي. د هرې فورمې لږ تر لږه یوه کاپي باید د توکو سره د ذخیره کولو ځای ته د دوی د لېږد پر مهال مل وي.

٤ کله چې توکي د ذخیره کولو په بکسونو کې ځای پر ځای کوئ، درانه توکي په ښکته، او سپک، یا ډېر نازک او ماتېدونکي توکي په پورتنۍ برخه کې کېږدئ. کڅوړه د خپل ظرفیت نه زیاته مه ډکوئ. یوځل چې ټول توکي بسته بندي شي، بیا دوی د ذخیره کولو نوي لندمهاله تاسیساتو ته لېږدول کېدای شي.

## موقعیت یې بدل کړئ

د **پېښې وروسته د تخلیې** کاري جریان ته ورته ، پدې پړاو کې د ساحې دننه یا د باندې مصون لنډمهاله ځای ته د توکو لېږد شامل دي. پداسې حال کې چې د ډلې یوه برخه د توکو په ژغورلو کې بوخته وي، نور کولی شي د لنډمهاله ذخیره کولو د ځای په چمتو کولو کې مرسته وکړي. د توکو د راوړلو دمخه د ذخیرې ځای باید پاک شوی وي. یوځل چې ټول توکي د ذخیره کولو نوي ځای ته ولېږدول شي، د توکو د ځای پرځای کولو کوډونه د ژغورنې د ثبت په فورمه کې درج کړئ.





*د ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلونو د زلزلو وروسته د تخلیه شوو او ژغورل شوو توکو د ځای پر ځای کولو لپاره په مرکزي ایټالیا کې د لنډمهاله ذخیره کولو ځایونه چمتو شوي دي. عکس: اپرنا تندن، د اکرام موسسه*

## راپور ورکړئ

د محافظینو لپاره د ټولو عملیاتو راپور چمتو کړئ. پدې کې باید لاندې موارد شامل وي:

- د عملیاتو لنډیز.
- عکسونه چې د کاري جریان اصلي پړاوونه مستند کوي.
- د باثباته کولو د لارو چارو ډول او کارول شوي مواد.
- د ژغورنې د ثبت تازه فورمه (۹۲ مخ وګورئ).
- لګښتونه.
- اصلي حالت ته د بېرته ګرځونې لپاره اړتیاوې.
- په عملیاتو کې د ښکېلې ډلې د اړیکو معلومات.
- د عملیاتو د ډلې د مشر نوم، لاسلیک او د اړیکو معلومات.

## خارنه وکړئ

د محافظینو سره په مشوره د ذخیره کولو د ځای د دوره ای چیک کولو/کتنې او پاکولو لپاره مهالویش جوړ کړئ.

## په بېړنۍ توګه د تاریخي جوړښتونو باثباته کول

د ساختمان یا ودانۍ په بېړني باثباته کولو کې د داسې اقداماتو ترسره کول شامل دي چې په لنډمهاله توګه جوړ شوي میراث ته د متوجه زیان په قابو کولو کې مرسته کوي او د ساختاري ناکامۍ/د کاره غورزېدنې له امله د ړنګېدو یا خرابېدو مزید ګواښونه راټیټوي. دا کړنې په ځانګړې توګه هغه وخت خورا مهمې وي کله چې یو جوړښت د ترمیم لپاره (په جزوي یا بشپړ ډول) په کافي اندازه غښتلی نه وي یا کله چې ځایي ټولنه غواړي د شاوخوا ځای کارولو ته دوام ورکړي. د یو جوړښت بېړنۍ باثباته کول هغه وخت هم ډېره اړین دي کله چې جوړښت ارزښتناکې داخلي برخې، یا ارزښتناک غیر منقول کلتوري میراث لکه دیوالي نقاشۍ، قبرونه، یا د موزایک فرشونه تر پوښښ لاندې راولي.

دا مهمه ده چې په یاد ولرئ چې دا اقدامات به د جوړښت د مصونیت اصلي کچه بېرته اعاده نکړي. دا به اړینه وي چې د انتقال یا د ژر بېرته اصلي حالت ته د راګرځونې په پړاو کې اوږدمهاله حل لارې ومومئ.

د جوړښتونو بیړنۍ باثباته کول تخصصي مهارت ته اړتیا لري. دا کار د ساختماني انجنیر له مشورې پرته، څوک چې په سیمه کې د میراثي جوړښتونو په اړه پوهه ولري، مه ترسره کوئ.

## ولې دا مهمه ده چې بیړنۍ باثباته کول ترسره شي؟

کچیرې یو جوړښت زیانمن شوی وي او بې پامه پاتې شي، د نور زیان یا ړنګېدوه ګواښ ډېریږي، چې کېدای شي ژوند له ګواښ سره مخ کړي.

د ګواښ د پېښې وروسته، یو جوړښت ممکن ناکام شي/د کاره وغورځیږي، یا د کارونې لپاره غیر مصون شي، کچېرې:

- **ساختاري دوام یې** اغیزمن شوی وي، او **بارونه** (که معمول یا استثنایي وي) نور په مصونه توګه ځمکې ته لیږدول کېدای نشي.

- د جوړښت جزوی ړنګېدنه د ځایي **لویو بارونو** (د ظرفیت نه لوړ بارونه) مینځته راتللو لامل وګرځي.
- داخلي ساختماني عناصر نور د بانديني چاپيريال څخه خوندي نه وي، د بېلګې په ډول، کله چې د یو دېوال داخلي عناصر د دېوال سطحې ته د زیان رسېدلو له امله څرګند شي.

د ګواښ د پېښو څخه وروسته، چې په لږه موده کې بیا پېښېدل ممکن وي، پر وخت اقدامات خورا مهم وي. د بېلګې په ډول، دا اړینه ده چې د زلزلې وروسته د باثباته کولو اقدامات ترسره کړئ، ځکه چې وروسته جټکې کېدای شي د نور زیان ، او په ځینو مواردو کې، د جوړښت د بشپړ ړنګېدو لامل شي. په ورته ډول، د توپان سره مخ – یا شخړو ځپلو سیمو کې، دا مهمه ده چې تاریخي جوړښتونه ژر تر ژره مصون شي.



*باغان، میانمار، ۲۰۱۶ کال. عکس: د اکرام موسسه*

## د ساختماني پایداری/دوام د ساتلو اهمیت: میانمار

د ۲۰۱۶ کال د اګست په ۲۴ مه د میانمار چوک بنار د ۶.۸ درجې یوې زلزلې ولړزاوه، چې نږدې د باګان د لرغونو اثارو په سیمه کې د ګڼ شمېر اثارو د زیانمن کېدو لامل شوه. زلزله د لوند موسم په پیل کې وشوه. لاندې د ساختاري زیانونو هغه بېلګې دي چې د ببړني مصونیت او باثباته کولو د اقداماتو له امله د نور زیان څخه وژغورل شو.

**د ساختاري دوام د له مینځه تللو له امله ړنګېدل**

د زلزلې دمخه، په سلیماني معبد کې یوه خونه په جزوي توګه ړنګه شوې وه، او پاتې څوړند توکي باثباته شوي نه و، نو ځکه د ساختاري دوام د له مینځه تللو لامل شول. د ۲۰۱۶ کال د زلزلې پر مهال، خونه په بشپړه توګه ړنګه شوه. په منظم ډول د پشتۍ په ورکولو سره یا د زیانمنونکو ساختاري توکو په لرې کولو سره، د دې ډول پراخه زیان مخه نیول کیدای شوه.



*باګان، میانمار، ۲۰۱۶ کال. عکاسي: یوجینی کریتي*

**د ملبې/کثافاتو له امله ډېر بارونه**

د خځلو/ملبې توپونو په جوړښتونو چې دمخه د زلزلې لخوا ضعیف شوي و، غیر معمولي بار رامینځته کړی. دا مهمه وه چې ژر تر ژره ملبه لرې شي، په ځانګړې توګه ځکه چې د سخت باران ګواښ ډېر و. ملبه اوبه رااېساروي، کوم چې اضافي بار جوړوي. په داسې حالاتو کی لنډمهاله حل دا دی چې د ملبی د لرې کولو د چمتووالي پر مهال لومړی ملبه د ترپالونو په واسطه خوندي کړی شي. د بنې اغېزمنتیا لپاره، اړینه ده چې ترپال بنه کلک وتړل شي.




*باګان سلیماني معبد، میانمار، ۲۰۱۶ کال. عکاسي: یوجینی کریتییوجینی کریتی*

## د ګواښ سره د کور دننه عناصرو او ارایشي سطوحو مخامخ کېدل

په چتونو کې او د اوبو پر وړاندی په مقاومو سیستمونو کی سوري او درځونه لېدل شوي وو، دا حالت اوبو ته اجازه ورکوي چې ودانۍ ته ننوځي، چې د سخت زیان لامل کيږي. ناوې وموندلی شوې چې ماتې شوي، یا د کثافاتو په واسطه بندې شوي، او له دې امله نشي کولی د چت څخه اوبه وباسي. ویجاړ شوي دېوالونه، لکه څرنګه چې د زلزلې وروسته موندل شوي، د باران په مقابل کې خورا زیانمونکي دي، په ځانګړې توګه کله چې د ختو مساله بربنده/راښکاره شي. په حقیقت کې، د سخت باران له امله، د زلزلې وروسته په ځو اونیو کې نور سقوط رامنځته شو.

سرچینه: یوجیتي کریتي، محلي معماري او کلتوري جوړښت – کراتیرر، ګرینوبل



باګان، میانمار، ۲۰۱۶ کال. عکس:یوجیني کریتي



د یو معبد په بام کې درزونه، باګان، میانمار، ۲۰۱۶ کال. عکس:یوجیني‌کریتي




د میانمار په باغان کې د پاګودا د چت د اوبو د مخنیوي سیستم کې سوري باغان، میانمار ۲۰۱۶ عکس: :یوجیني کریتي۶. تصویر :یوجینی کریتی

## تاسو څرنګه کولی شئ  بېړنۍ ساختماني باثباته کول سرته ورسوئ؟

لاندې برخه د تاریخي جوړښتونو لپاره په   بېړنۍ توګه د باثباته کولو ځینې خورا لومړني اقدامات بیانوي. د باثباته کولو د هر ډول عمل ترسره کولو دمخه، **شخصي مصونیت یقیني** کړئ او **ساحه خوندي کړئ**.

لاندې انځور شوی د تاریخي ودانیو او جوړښتونو لپاره  په بېړنۍ توګه د  باثباته کولو مختلف ډوله کړنو د پلي کولو لپاره عمومي کاري جریان دی، په کوم کې چې د لرغونو اثارو په ساحو کې د ګواښ پر وړاندې بربنډ شوي پاتې شوني هم شامل دي.



## تیاری ونیسئ

١ د محافظینو څخه ، او چیرې چې د تطبیق وړ وي، د بېړني حالت د همغږي کونکي څخه، د ودانۍ یا جوړښت په بېړنۍ توګه د باثباته کولو لپاره لیکلې اجازه تر لاسه کړئ.

٢ یوه ډله، چې ساختماني انجنیر ، مهندس، او روزل شوي کارګران او رضاکاران پکې شامل وي، جوړه کړئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې مهندس او ساختماني انجنیر د میراثي جوړښتونو او ودانیو د ارزښت سره بلد وي. په ډله کې ممکن یو ځایي تاریخ پوه یا د تولنې غړی شامل وي، ځوک چې د جوړونې (ساختماني) د انداز/طور طریقو او د کارول شوو موادو د ځانګړتیاو په اړوند دمخه پوهه ولري.

نظامي پرسونل او اور وژونکي، چې معمولا په بېړنۍ توګه د ساختاري باثباته کولو په اړه روزنه ورکول کیږي، هم ممکن پدې کار کې ونډه واخلي. په ځینو هیوادونو کې، بېړني قوانین اور وژونکي یا نظامي پرسونل مکلفوي ترڅو چې په بېړني ډول د جوړښتونو باثباته کول ترسره کړي او یا یې په پروسې څارنه وکړي . په هرصورت، دوی ته باید د ودانۍ د ارزښت او د کلتوري میراث د توکو په اړه، چې ساتنې ته اړتیا لري، معلومات ورکړل شي.

٣ د مهمو/جدي ساختاري ا و غیر ساختاري زیانونو د موندلو لپاره، د **زیان او ګواښ د ارزوني راپور** (۶۳ مخ وګورئ) د ساحې د اړوندو رسمونو او فرش پلانونو سره یوځای وکاروئ. د زیانونو د ډول او د هغوی د لاملونو ژوره تخنیکي ارزونه ترسره کړئ. پدې ارزونه کې کېدای شي د بنسټونو د حالت ، او د مختلف ډوله ښکېلو بارونو سروې شامله وي.

٤ د کار کولو، د اکمالاتو د ذخیره کولو، او خوراک لپاره مصون ځایونه په ګوته کړئ. دا ځایونه د ساحې په نقشه کې په نخښه کړئ او مناسبې نخښې نصب کړئ.

٥ که ودانۍ د ننوتلو لپاره خوندي وي، پدې صورت کې، په اصلي ځای/حالت کې ارایشي عناصر، کوم چې ممکن په بېړنۍ توګه د باثباته کولو دمخه حفاظت او خوندي کولو ته اړتیا ولري، لکه د ټایل/کاشي یا لرګي فرشونه، نقاشۍ او موزایکونه په ګوته کړئ. په ورته ډول، ارزښتناک سامانونه، کوم چې ممکن د ودانۍ د باثباته کولو دمخه تخلیې ته اړتیا ولري، لکه غالۍ، پردې او اثار یا رسامۍ په ګوته کړئ.

٦ د ساختماني انجنیر سره مشوره وکړئ ترڅو په بېړني ډول د باثباته کولو لپاره اړین اقدامات طرحه/ډیزاین کړي او د هغوی رسمونه چمتو کړي.

د طرحې پراساس ، د خپلو پلانونو د پلي کولو لپاره د اړینو توکو او تجهیزاتو مشخصات چمتو کړئ.

٧ د محافظینو سره مشوره وکړئ او دوی ته معلومات ورکړئ چې تاسې په بېړني ډول د ودانۍ د باثباته کولو یا جوړښت، او یا د ودانۍ د هغه دوام لپاره چې توقع یې کیږي، کوم تدابیر د لاس لاندې نیولي دي او د پلي کولو لپاره یې کومو مالي او انساني سرچینو ته اړتیا ده. که اړتیا وي، د محافظینو او ځایي ټولنې څخه مرسته وغواړئ ترڅو ارزښتناک توکي تخلیه کړي (٧٩ مخ وګورئ) او په اصلي ځای/حالت کې د اراېشي عناصرو ساتنه وکړي.

٨ اکمالات او تجهیزات راپوځای کړئ، د بېلګې په ډول د لرګیو تختې، رسۍ، ښتکې، ارې، او داسې نور. د ساختماني باثباته کولو لپاره د ځانګړو اقداماتو لپاره د اړتیا وړ اکمالاتو او تجهیزاتو او د هغوی د ډول په اړه د نورو معلوماتو لپاره د سامان د بکسې ٩۴ مخ وګورئ.

## مستند سازي وکړئ

١ د اوختې زیان دقیق ځای، ډول، او اندازه ثبت کړئ، د بېلګې په ډول، د پلستر په کار کې درزونه، موجونه، او پرسوب . د زیانونو د ثبتولو لپاره د مخامخ نما د رسمونو او د فرش پلانونو څخه کار واخلئ.

٢ د نږدې او پراخه شاټونو په کارولو د زیانمنو شوو سیمو عکسونه واخلئ. د عکسونو د اخیستلو پر مهال د پیمانې د قایمولو لپاره خپلې کیمرې ته د متر د حد قطب یا د ١٠ سانتي مترو اندازه، او همداراز هغه نخښه هم وراضافه کړئ چې نېټه په ګوته کوي. په فرش پلان کې د زیان د ځانګړي ډول اړوند د مربوط عکس (عکسونو) د حوالې شمیره ثبت کړئ.

٣ که اړتیا وي، نور مهم توضیحات لکه د بار بېلابېل ډولونه، د ځمکې حالت او داسې نور هم مستند کړئ. د زیان په اسنادو کې د باثباته کولو د اقداماتو اړوند رسمونه هم شامل کړئ، ځکه دا اسناد په ټولیز ډول اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې د اړتیاوو په جوته کولو کې مرسته کوي.

## پلي کول

د ودانیو او جوړښتونو لپاره د بېړنۍ باثباته کولو اساسي اقدامات په لاندې ډول تشریح شوي دي. د دې اقداماتو د پلي کولو لپاره تخنیکي تفصیلات د سامان د بکسې په ۷۹ مخ کې په لنډ ډول بیان شویدي.

### ۱ لندمهاله پوښ/چاره

د اوبو، سیلۍ، د شاوخوا توکو د مزید  ړنګېدو او د حیواناتو د ننوتلو څخه د حساسو توکو د ساتنې لپاره مضبوط ترپالونه (هغه چې د تارونو جالۍ وراضافه شوي وي، تر څو د غوړځیدونکو توکو پر وړاندې يې مقاومت لوړ وي)، یا د زنګ پر وړاندې مقاومه پرې پرې شکله شوي د اوسپنې یا پولادو تختې/څادرونه  چې موجوده یا لنډمهاله چوکاټ کې نصب شوي وي، وکاروئ. د ځایي شتو سرچینو، توکو او مهارتونو په پام کې نیولو سره، تر ټولو مناسبه حل لاره په ګوته کړئ. د قدم په قدم پلي کولو لپاره، د سامان د بکسې ۷۳ مخ وګورئ.



*باغان، میانمار، ۲۰۱۶ کال. عکس: اپرنا تندن*

### ۲ بنستیزه پشتي ورکونه

**پشتي ورکونه** داسې یو تخنیک دی چې یا د ترمیم پر مهال د جوړو شوو عناصرو حفاظت کوي او یا د هغې جوړښت حفاظت کوي چې د نړېدو د  تهدید سره مخ وي. دا د بېساکو په خبر چلند کوي او **بار** ځمکې ته لېږدوي.

پشتي ګانې په لاندې مواردو کې د ملاتړ لپاره کارول کېدای شي:

- د بار اوچتوونکي بشونه چې په زیانمن شوو دېوالونو یا پایو  باندې يې تکیه کړې وي.
- د خښتو، ډبرو یا ختو بار اوچتوونکې دېوال، چې کوږ شوی یا يې د باندې خواء ته بورې کړې وي او په ساختاري لحاظ بې ثباته وي.
- د دروازې یا کړکۍ مات شوی درشل.


بنسټيزه پشتي څلور مهمي برخې لري:

١ هغه عناصر چې بار راټولوي (د سر بش يا ديوالي تختې).

٢ هغه عناصر چې بار لېږدوي (پايې يا زاويايي پايې).

٣ بغلي/د څنګ پشتي چې سيستم باثباته /غبنتلی کوي.

٤ بار زغمونکې تختې (بيرينګ پليټونه)، کوم چې بار په ځمکه کې خپروي.




د امکان په صورت کې په داسې خوندي ساحه کې چې هواره سطح او د کار لپاره ازاد ځای ولري، پشتي ګانې دمخه جوړې کړئ.

د پشتي لګولو دمخه، د بار زغمونکو تختو د لګولو د ځای خخه ملبه پاکه کړئ، څکه په ځمکه کې د بار خپرولو لپاره هوارې سطحې ته اړتيا ده.

کله چې فلزي پشتی کاروئ، تل د پشتی او زيانمن شوي جوړښت ترمنځ د لرګيو تختې استعمال کړئ.

لرګې معمولا د بېړنی پشتی د سيستم په پورتنی او يا ښکتنی برخه کې د بار راټولولو او وېشلو لپاره کارول کيږي. برسېره پردې، ځينې د لرګيو په اړه فکر کوي چې دوی د زياتېدونکي بار اړوند د سمعي او بصري خبرداري په توګه کار ورکوي، ځکه چې دوی خپله بڼه بدلوي.

د لرګیو د پشتۍ د جوړولو لپاره قدم په قدم لارښوونې د سامان د بکسې په ۷۹ مخ کې وګورئ.


- د ساختماني انجینر له تخصص او مهارت پرته د هغو عناصرو، چې لوړوالی یې د ۳ مترو نه زیات وي، د پشتۍ ورکولو هڅه مه کوئ.
- متوجې اوسئ کله چې د تیګو یا خښتو دیوال ته چې کمزوری مساله ولري، پشتي ورکوئ د ساختماني انجینر څخه د مرستې غوښتنه وکړئ ترڅو کافي لویه دیوالي تخته ډیزاین کړي ، یا داسې پشتي جوړه کړي چې ټوله ساحه د پوښښ لاندې راولي.

### ۳ د جوړښتونو تړل

د یو جوړښت تړل، د بغلي پشتۍ په ورکولو او د مزید بغلي خرابېدو نه په مخنیوي سره، د جوړښت د عمودی بار اوچتولو ظرفیت لوړوي.

د تولې ودانۍ په کچه تړل، په ۹۰ درجه زاویه کې د یو بل سره د نښلېدونکو دیوالونو په ښېرته نښلولو کې مرسته کوي، او د بغلي حرکت پر وړاندې هغوی ښه مقاوم کوي. تړل د پالیستر، پټیو/کمر بندونو ، فولادي رسیو او یا د ویلډنګ، یا نټ او بولټ پواسطه نښلول شوو فولادي تختو، په کارولو سره تر سره کولای شو.

شکل ۱



*رسم را اخیستل شوی دی له: ګریماز، ایس یټ ال. ۲۰۱۰ کال. د زلزلې له امله د زیانمن شویو ودانیو د ملاتړ لپاره ویډیمیکم، سټاپ، د پشتۍ نمونې/قالبونه او عملیاتي پروسیجرونه. روم، د کورنیو چارو وزارت – د ایټالیا د اور وژنې خدمات.*

**دا تخنیک هیڅکله هم د غورځېدونکو کانکریټي ستنو لپاره مه کاروئ!**


أ د دی نه مخکې چې ساختاري محدودونه یا تړنه سره ته ورسوئ، له ساختماني انجنیر سره مشوره وکړئ چې ایا دا کار اړین دی؟ او که اړین وي څرنګه یې ډیزاین کړئ.

ب د یو ساختاري عنصر د محدودولو/تړلو دمخه ملبه لرې کړئ.

ج پداسې حال کې چې یو جوړښت د پولیسټر محدودونکو کمربندونو او/یا په ریچټ لاسټو سره تړل کیږي، د دې لپاره چې مناسبه تړنه یقیني شي، په جوړښت کې د لرګیو تختې او د فولادو تختې یا پلېټونه ځای پر ځای کړئ ترڅو د لوړوالی په اوږدو کې فشارونه وویشي. د لرګیو تختې باید تقریبا ۳ سانتي متره ډبلې وي. دوی باید د دېوال یا پایې او د فولادو د تختو یا پلېټونو تر مینځ ځای پر ځای کړی شي.

د لومړۍ د لوړ ځای خخه په پېلولو سره کمربندونه نصب کړئ (۲ شکل وګورئ)، او تر مینځ یې منظمه فاصله پرېږدئ. د زیان د کچې او د حفاظتي توکو بار په پام کې نیولو سره، د پټیو تر مینځ د واټن حد باید د ۱۰ او ۴۵ سانتي مترو په مینځ کې وي. ریچټونه په مساوي ډول وویشئ. په پټیو سره د یو جوړښت د حفاظت کولو لپاره د اړتیا وړ موادو او تجهیزاتو د لست لپاره د سامان د بکسې ۹۵ مخ وګورئ.

۲ شکل




*دا رسم له ګریماز، ایس یټ ال. ۲۰۱۰ کال. د زلزلې له امله د زیانمن شوو ودانیو د ملاتړ لپاره ویډیمیکم، ستاپ، د پشتۍ قالبونه او عملیاتي پروسیجرونو نه اخیستل شوی دی. روم، د کورنیو چارو وزارت – د ایټالیا د اور وژنې خدمات.*

## ٤ په اصلي حالت/ځای کې د ارایشي توکو ساتنه

په اصلي حالت/ځای کې په باثباته کولو کې په ساحه کې د پلي کېدونکو کړنو لړۍ شامله ده کومه چې د غیر منقولو ارایشي توکو او د هنري اثارو لکه لویو مجسمو، د دېوالونو یا د فرشونو د موزایکو او دیوالي نقاشیو د ثبات لپاره تر سره کیږي.

د ودانیو لپاره په بیړني ډول د باثباته کولو اقدامات، لکه پشتي ورکول او محدودول یا تړل، په احتمالي توګه د اصلي حالت/ځای عناصرو ته، که تاسو د دوی د ساتنې لپاره مناسب ګامونه پورته نه کړئ، زیان اړولی شي. مخکې لدې چې د ثبات داسې اقدامات چې ارایشي توکو ته په نږدې واټن کې تر لاس لاندې نیول کیږي، تر سره کړئ، تل د کلتوري میراث د ساتونکي سره مشوره وکړئ.



*د پرتګال، فریکسو دی ایسپادا سینتا کلیسا کې د دیوالي نقاشۍ او پشتۍ تر مینځ محافظتي او جلا کوونکي طبقه/ پرده، ۲۰۰۷ کال.*

*عکس: ایسمیرالدا پوپیرو*

په  بیرني ډول د باثباته کولو د ترسره کولو دمخه، ډاډ ترلاسه کړئ چې مجسمې، ټایلونه/کاشي، یا سطحې په خپل اصلي ځای کې خوندي دي. د دې لپاره چې د سینګار شوې سطحې سره د پښتۍ یا د تړلو/ محدودونکي کمربند د مستقیم تماس څخه مخنیوی وشي، تاسو کولی شئ بې نښانه سپین ململ یا بل غیر رنګ شوي نرم ټوکر وکاروئ. په  همدې ډول، د فوم کاږول هم د مستقیم تماس مخه نیسي. ډاډ ترلاسه کړئ چې د تکیه کولو مواد په خوندي ډول بسته شوي وي، ترڅو په ناڅاپي ډول د دوی د غورځېدو او د اراېشي توکي د سطحې د خط خط کېدو/سولېدو ګواښ رانېټ شي.

تاسو کولی شئ د سر بش یا د دېوال د تختې/پلیټ او اراېشي  توکي ترمینځ د تماس د مخنیوي لپاره د شګو کڅوړې هم وکاروئ ، مګر محتاط اوسئ، ځکه په مرطوب  اقلیم کې د شګو کڅوړې رطوبت ساتي، کوم چې کېدای شي د نور زیان لامل وګرځي. د اړتیا وړ توکو د عمومي لست لپاره د سامان د بکسې ۹۳ مخ وګورئ.

## په  معرا میوزیم کې په اصلي ځای/حالت کې د موزایکو مصونیت او باثباته کول: سوریه

د تاو تریخوالي ډکو شخړو په حالت کې، د مصونیت او باثباته کولو په کړنو کې ممکن خورا پیچلي عملیات شامل وي، لکه د ګواښ پر وړاندې د بربنډ شوو لرغونو آثارو د پاتې شونو بېرته پټول، یا یو دیوالي انځور یا موزایکو ته حفاظتي پروني ورکول.

د معرا موزایک میوزیم، چې په منځني ختیځ کې د دریمې څخه تر شپږمې پېړۍ پورې د رومي او بازنطیني موزایکو ترټولو مهمو ټولګو کوربه دی، د سوریې په روانه شخړه کې خورا  زیانمن شوی دی. د سوریې د کلتوري میراث د متخصصینو او رضاکارانو لخوا د بیړني مصونیت او باثباته کولو د اقداماتو د پلي کېدو دمخه، ودانۍ د ړنګېدو له ګواښ سره مخ وه. د شخړې پر مهال د نورو زیانونو څخه د موزایکو د ساتنې په موخه، د سوریې دلې د میراثونو د ساتنې متخصصینو سره مشوره وکړه ترڅو په اصلي حالت/ځای کې د موزایکو د باثباته کولو او مصون کولو لپاره یو پلان جوړ کړي. په چت کې سوري ترمیم شول ترڅو د نورو خرابېدو او ړنګېدو مخه ونیول شي.

بیا، د موزایک د ساتونکو سره په مشوره، دلې د سرېښو او ټوکر یوه طبقه، چې د موزایکو د ټایلونو د یوځایي ساتلو په موخه ډیزاین شوې وه، په موزایکو وغوړوله.  یو ځل چې ثبات رامینځته شو، څو لارۍ د شګو کڅوړې د موزایکو په مینځ کې ځای پر ځای شوې، تر څو دوی د نور زیان څخه وژغوري. پدې ډول په ټوله کې ۱۴۸ متر مربع موزایک خوندي کړل شول.

سرچینه: سمیتسونین انستیتیوټ. ۲۰۱۵ کال. د سوریې د معرا موزایک میوزیم کې د بیړني محافظت بشپړ شوي فعالیتونه. واشنګټن ډي سي، سمیتسونین انستیتیوټ.

## راپور ورکړئ او اړیکه ونیسئ

١. یو لنډ راپور، چې په بېړني ډول د باثباته کولو کړنې چې تاسو د میراثي ودانیو لپاره پلي کړي دي تشریح کوي، چمتو کړئ. عکسونه، سکېچونه او د فرش نقشه چې د دوی موقعیتونه په ګوته کوي، ورسره یوځای کړئ.

٢. مهم جزئیات لکه د منقول کلتوري میراث تخلیه یا په بېړني ډول د باثباته کولو لپاره د چمتووالي پرمهال د تاریخي ودانیو د ټوټو تر سره شوې ژغورنه، په ګوته کړئ.

٣. د لګښتونو حساب ، او یو لست چمتو کړئ چې د هغې ډلې د غړو نومونه او د اړیکو معلومات لري چې بېړني باثباته کول یې ترسره کړی دی.

٤. راپور باید د څارنې سیستم او د بشپړې بېرته اصلي حالت ته د راګرځېدنې اوبیا په کار اچونې لپاره وړاندیز شوي اقدامات ولري.

## ویې څارئ

د جوړښتونو او ودانیو لپاره په بېړني ډول د باثباته کولو اقدامات د خپل طبیعت له مخې لنډمهاله دي. له همدې امله دا مهمه ده چې د بشپړې ساتنې د پیل کېدو تر وخته د دې اقداماتو نه په جدي توګه څارنه وشي. د بېلګې په ډول، پشتي ګانې د رنګېدو په پېښه کې ګواښوونکي ثابیتېدای شي او له همدې امله باید په منظمه توګه (په لومړیو څو ورځو کې په هرو ١٢ ساعتونو کې لږ تر لږه یو ځل) د تحریف یا ډېر بار د نخښو د معلومولو لپاره وڅارل شي.

ډاډ ترلاسه کړئ چې پایې په خپل اصلي حالت/ځایونو کې برقراره دي. برسېره پردې، پیوندونه او پانې باید ټینګې واوسي او سستې یا خرابې نشي. د پشتۍ بار زغمونکو تختو( بیرینګ پلیټ) په موقعیت کې د هر ډول حرکت یا د ځمکې د ناکامۍ/ له کاره غورزېدو نخښې ښکاره کېدل تل تر نظر لاندې وساتئ. په همدې ډول، ډاډ ترلاسه کړئ چې د پایو اخیرنۍ برخې ماتې شوې نه وي، یا د ښونو اخیرنۍ برخې سره جلا شوې نه وي، ځکه چې د دې نخښو شتون د پشتۍ د زیات باروني ښکارندوی ده. که د دیوال په تخته (پلیټ) کې درزونه راڅرګند شي نو دا د دې ښکارندوی ده چې تخته په پوره اندازه لویه نه ده ، یا دا چې دېوال د پشتۍ لخواء د رامینځته شوي فشار په وړاندې مقاومت نه لري.

چېرې چې د جوړښت تړلو لپاره ترونکي/محدودونکي کمربندونه یا د فولادو رسۍ کارول شوي وي، ډاډ ترلاسه کړئ چې دوی کلک تړل شویدي. وګورئ چې د لرګیو توکي خو حرکت نه کوي او دا چې دوی خو د کمربندونو او رسیو لخوا د رامینځته شوي فشار له کبله مات شوي ندي. په منظمه توګه، د فزیکي خرابېدو یا د زیان د نخښو، د بېلګې په ډول د وینو/چینجو وهل، د موندلو لپاره، د کارول شوو لرګیو نه څارنه وکړئ.

په هغه ودانۍ کې چې سېلاب ځپلې وي، ډاډ تر لاسه کړئ چې تاسو لاندې موارد په منظم ډول ثبتوئ:

أ د پلستر او یا دېوالونو رطوبت، د کوم لپاره چې تاسو رطوبت میتر یا ملتې میتر (ګڼکاری میتر) کارولی شئ، یا تاسو نمونې را اخیستلای شئ، چې په تنور کې یې د وچولو دمخه او وروسته وزن کړئ.

ب د ختو څخه جوړ شوو جوړښتونو کې د رطوبت کچه. د رطوبت معلومولو لپاره د دېوالونو بېخونه او پخپله د دېوال دننه وګورئ (د دېوال په پلستر کې رطوبت د دې د دننه برخې رطوبت سره یوشان نه‌دی)

ج د ښورې د هر ډول شتون کچه یا د فنګس وده.

د د لرګیو د توکو هر ډول تحریف/خرابېدنه.

ه د پلستر په کار کې درزونه یا پړسېدنه.

## غیر ملموس کلتوري میراث څنګه مصون او باثباته کړو؟

مصون کول او باثباته کول هغه اصطلاحات دي چې په منطقي توګه د غیر ملموس میراث سره اړخ نه لګوي. لکه څرنګه چې د **غیر ملموس میراث لپاره په ساحه کې د زیان او ګواښ په ارزونه** کې تشریح شوي، د غیر ملموس کلتوري میراث په ارزیابۍ کې باید لاندې موارد شامل وي:

الف. غیر ملموس کلتوري میراث ته لاسرسی.

ب. د غیر ملموس کلتوري میراث فعالیت.

ج. او د اغیزمن شوي غیر ملموس کلتوري میراث لېږد.

د مصونیت او باثباته کولو سره تړلې اقدامات په ابتدایي توګه د لومړیو دوو کچو په اړه ترسره کیږي، کوم چې د غیر ملموس کلتوري میراث سره تړلي ملموسو عناصرو او، د دود د ساتونکو په توګه، د خلکو څخه عبارت دي. سربېره پر دې، هر هغه اقدام چې د غیر ملموس کلتوري میراث د مصون کولو یا باثباته کولو لپاره تر سره کیږي باید د اغیزمنې شوې ټولنې د واضح غوښتنې او د هغې د ځانګړو اړتیاو پر بنسټ وي.

د غیر ملموس کلتوري میراث په صورت کې، د میراث ارزښت، د ټولنې په دودونو او د پوهې په سیستمونو کې، او د دوی په تر سره کوونکو او لېږد کې شتون لري. په دې توګه، د دې ډول اقداماتو موخه د ملموسو کلتوري میراثونو د اقداماتو د موخې سره توپیر لري. له همدې کبله، د غیر ملموس کلتوري میراث باثباته کول ، د غیر منقول یا منقول کلتوري میراث د باثباته کولو نه ښېخې جلا معنی لري.



*په نیپال کې د ورځني رسمونو د یوې برخې په توګه د مذهبي نسخو د لوستلو دودیز عمل، ۲۰۱۵ کال.*
*عکس: د اکرام موسسه.*

**په ځانګړي توګه، دا د دی لاندی مواردو سره تړاو لري :**

- داړ ترلاسه کول چې ټولنه د ګواښ د پېښې څخه سمدستي وروسته کولای شي یو ځانګړي عمل، رسم او داسې نورو ته دوام ورکړي.
- داړ ترلاسه کول چې د پوهې او مهارتونو لیږد کولی شي تر هغې پورې دوام وکړي چې نورې اوږدمهاله حل لارې په ګوته کړی شي.

د ملموسو عناصرو او خلکو لپاره د مصونیت او باثباته کولو اقدامات په لاندې ډول لست شوي دي:

١ **ملموس عناصر:** پدې کې ودانۍ، ساحې، توکي، وسایل، لباس، او هر هغه مادي کلتور شامل دي چې د غیر ملموس عمل سره تړاو لري. کچېرې **د وضعیت تحلیل** او په **ساحه کې د زیان او ګواښ ارزونې** (۴۳ مخ) بیړنۍ اړتیاوې په ګوته کړې وي، نو د جوړ شوي او منقول کلتوري میراث لپاره پورته ورته ګامونه اخیستل کېدای شي.

معمولا د غیر ملموس کلتوري میراث سره تړلي ملموس عناصر له کلتوري پلوه مهم دي ځکه چې دوی د غیر ملموس دودونو د ترسره کولو لپاره ځای یا شرایط چمتو کوي. له همدې امله

د ملموسو عناصرو باثباته کولو ته باید داسې جهت ورکړل شي چې د غیر ملموسو دودونو دوام ته فرصت برابر کړي. دا کېدای شي پدې معنی هم وي چې ټولنې د باثباته کولو لپاره ځینې غوره توبونه لري. د بېلګې په ډول، که چېرې د عبادت ځای زیانمن شي، ټولنه ممکن د عبادت لپاره یوې لنډمهالې سرپناه ته، په یو پښتي کړی شوي جوړښت باندې، چېرې چې دوی ځان په پوره ډول مصون نه احساسوي، لومړیتوب ورکړي.

۲ **خلک:** په ډېری حالاتو کې د مصونیت یا باثباته کولو اقدامات تر دې پورې محدود وي، چې دا په ګوته کړي چې ټولنې چېرته دي او لېږدول څرنګه یقیني کېدای شي. پدې پړاو کې ممکن داسې اقدامات هم شامل وي لکه اسناد جوړونه، ثبت کول یا د توکو لست تیارول، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د عادي حالت د بېرته راستنیدو پر مهال بصري او شفاهي اسناد د کارولو لپاره شتون لري. په هرصورت، په ځانګړې توګه په لویه کچه د بې ځایه کېدو په حالت کې، یا چېرې چې ټولنه د دود د اړینو حاملینو له لاسه ورکولو سره مخ شوې وي، بېړني اقدامات لکه د ویډیو له لارې مستند سازي یا د مهارتونو د لېږد روزنې ته اړتیا وي ترڅو د پوهې لېږد یقیني کړی شي.

## د غیر ملموس میراث سره د کار کولو لپاره لارښوونې

غیر ملموس میراث هم ممکن د منقول یا جوړ شوي میراث د بېړني اقداماتو مهم اړخ وي. تل د مصونیت یا د باثباته کولو د اقداماتو د ترسره کولو دمخه د ودانیو او ځایونو مذهبي یا روحاني ارزښت په پام کې ونیسئ. ځایي ټولنه په کار کې راښکېل کړئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسې اقدامات د جوړښت د فزیکي اړخونو څخه وراخوا نور ډېر شیان په پام کې نیسي. دا په کلتوري شیانو هم تطبیق کیږي، چې ډېری یې ممکن د ځایي ټولنې لپاره مهم غیر ملموس ارزښت ولري. دا باید د توکو د تخلیې او ژغورنې پر مهال په پام کې ونیول شي.

د دې ساحو، ودانیو او توکو سره د چلند کولو د څرنګوالي موندلو لپاره یوازې یوه لاره شتون لري: اړونده ټولنې، د ټولنې غړي او ځایي مشران راښکېل کړئ، او د هر ډول اقدام ترسره کولو دمخه د هغوی مشوره، همکاري او منظوري ترلاسه کړئ.

## د نرګس توپان وروسته د دودونو جاري ساتل: میانمار

د ۲۰۰۸ کال د مۍ په ۲ نېټه په میانمار کې د نرګس په نوم توپان وچې ته ننووت، چې د سختې تباهۍ او د ژوند د لاسه ورکونې لامل شو . د ملګرو ملتونو اټکلونه ښیي چې د توپان په پایله کې شاوخوا ۲.۴ ملیونه خلک اغېزمن شوي وو.

توپان د دودیزو لاسي صنایعو او د نمایشي هنرونو لپاره د لومړنیو تولیداتو مرکزونه سخت اغیزمن کړل. پدې ډله کې یو داسې مرکز هم وو چې د میانمار دودیزې نیانزکې یې جوړولې او د میانمار د نیانزکو او د ډله ایزې موسیقي (ارکسټرا) دودیز نندارتونونه به یې ترسره کول. دا لا دمخه زیانمنونکي وو ځکه چې د لږ شمېر پاتې شوو متخصصینو سره پاتی وو، د توپان اغېزې، او ورپسې نظامي بندیز د دی ګواښ رامنځته کړ چې هغه مهارتونه او پوهه په بشپړ ډول له منځه ولاړ شي، کوم چې د پنځلسمې پېړۍ، د اینوا (ای، وي، ای) د دورې څخه رادېخواء پرې عمل کېده.



*د نیانزکو د لوبولو لپاره روزنه، منډالي، میانمار، ۲۰۱۶ کال – عکس: جوزیه سالرنو*

«د میانمار بره ځمکه | کلتور او سفر» سازمان د دودیزو هنرونو، په ځانګړې توګه د میانمار دودیز د نیانزکو کارکردګۍ، د ودې لپاره رامینځته شوی. دا سازمان په میانمار کې د ټولنیز پوهاوي له لارې د کارکردګۍ ظرفیت رامینځته کوي او د دې میراث د ټولو اړخونو، د میانمار د نیانزکو د جوړولو او لوبولو طریقه ، نڅا ، میوزیک ، مجسمه جوړونې ، ګلدوزۍ او نقاشۍ په ګډون، د ساتنې لپاره کار کوي. د میانمار د نیانزکو سازمان سره په همکارۍ، یوه تعلیمي

ډي، وي، ډي، د کارکردګۍ ورکشاپونه، او د میانمار لومړی نړیوال د ګوډیاکو فیستیوال/ جشنواره (۲۰۱۶ کال) رامینځته شوي ترڅو ځایی ټولنو ته مهارتونه او پوهه، د زیانمننې کمولو او د کارکردګۍ د ظرفیت لوړولو او پایښت په هڅه کې انتقال کړي، کوم چې تر نن ورځې پورې دوام لري.



*د نیانزکو د کارکردګۍ لپاره روزنه، منډالي، میانمار، ۲۰۱۶ کال - عکس: جوزیه سالرنو*

**سرچینې لپاره د ۱۶۴ مخ وګورئ.**

## خپل بیړنی چمتووالی ښه کړئ!

که ستاسو په ښار کې بیړنی حالت پېښ شي، او یو شمیر د کلتوري میراثونو تولګې، ودانۍ او د غیر ملموس کلتوري میراث شتمنۍ اغېزمنې شي:

- ایا اغېزمنې شوې ادارې به په وخت مرستې ترلاسه کړي تر څو د ګواښ سره مخ کلتوري میراث مصون او باثباته کړي؟
- ایا د کلتوري میراثونو د بنسټونو او د بیړني مدیریت ادارو تر مینځ د همغږۍ او همکارۍ میکانیزمونه شته ترڅو د لویو بیړنیو حالاتو پر مهال زیانمن شوي کلتوري میراثونو ته لاسرسی اسانه کړي؟
- ایا د کلتوري لومړنیو مرستندویانو او رضاکارانو یوه روزل شوې ډله شته؟
- ایا دوی به په ګڼو ساحو کې د ژغورنې، تخلیې او ساختاري باثباته کولو د تر سره کولو لپاره په لویه پیمانه اکمالاتو او تجهیزاتو ته لاسرسی ولري؟
- ایا اغېزمنې شوې ادارې به خوندي ځایونو ته اسانه لاس رسی ولري تر څو لنډمهاله ذخیره جوړه کړي یا د لوی شمېر توکو او ساختماني عناصرو د دسته دسته کولو او باثباته کولو لپاره ساحې ځانګړې کړي؟


## د لومړنیو مرستو وروسته څه کول پکار دي؟

د بېړني حالت په تعقیب، تاسو او ستاسو ډله اغېزمن شوي کلتوري میراث ته لومړنیو مرستو په چمتو کولو کې بریالي شوي: تاسو د **وضعیت تحلیل** ترسره کړی او د دې پایلې مو د ساحې د **زیان او ګواښ د ارزونې** د ترسره کولو لپاره کارولي دي، د دې ارزونې پر بنسټ، تاسو دواړه ملموس او غیر ملموس کلتوري میراثونه **مصون او باثباته** کړي دي.

**نو اوس باید تاسې څه وکړئ؟**

لوستلو ته مو دوام ورکړئ، چې ویې مومئ.

# ژر اصلي حالت ته بېرته راګرځول



## ژر اصلي حالت ته بېرته راګرځول:

د کلتوري میراث لومړنی مرستې یوازې هغه وخت بریالی دي کله چې په تعقیب یې د ساتنې هڅې وشي او د کارونې او لاسرسي جوګه شي. نو یو ځل چې تاسو د زیانمن شوي کلتوري میراث لپاره لومړنی مرستې پلي کړې، توله پروسه مو مستنده کړې او د څارنې یو معمول نظام مو رامینځته کړی، ورپسې قدم  بېرته اصلي حالت ته د هغې د راګرځونې او بیا په کار اچونې  لپاره د رایو د اتفاق پر بنسټ د عمل پلان چمتو کول دي، چې پدې کې د حالت تفصیلي ارزونه، د ملموس کلتوري میراث لپاره د ساتنې  لارې چارې سنجول (د ترمیم او بېرته په خپو دروني په ګډون)، د ګواښ کمول، د معیشت د وسایلو او خدماتو بېرته په خپو درول، د پایدار پرمختګ او (**بېرته یې ښه جوړ کړئ**) د اصولو په تعقیبولو سره د کلتوري میراثونو ښه (بهتره شوې)  کارونه شامل دي. په ساده ډول، د کلتوري میراثونو اصلي حالت ته په بېرته راګرځونه او بیا په کار اچونه کې د زیانونو ترمیم، د لاسه ورکړل شوو شیانو تلافي کول ، د ګواښونو کمول، او د ساتنې په یو ښه حالت کې د کلتوري میراثونو بېرته په خپو درول شامل دي، ترڅو کله چې مونږ وړاندې ځو، دا په پایدار ډول د کارونې وړ ګرځېدلي وي.

د لومړنیو مرستو نه  وروسته، د کلتوري میراثونو د اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې او بېرته په کار اچونې لپاره  د عمل د پلان جوړولو لپاره اړینه لنډمهاله موده ، په بشري سکتور کې د ژر بېرته اصلي حالت ته د راګرځونې د پړاو په توګه پیژندل کیږي.



*دربار چوک، کتمنډو، نیپال ۲۰۱۵ کال. عکس: د اکرام موسسه*

## بشري سکتور ژر بېرته اصلي حالت ته راګرځونه څنګه تعریفوي؟

ژر اصلي حالت ته بېرته راګرځونه داسې تعریف شوېده « دا یوه داسې پروسه ده چې ګڼ اړخونه لري او د پرمختګ د اصولو په واسطه رهنمایي کیږي. د دې موخه دا ده چې د ګواښ وروسته خپل اصلی حالت ته د بېرته راګرځېدنې پروسې داسې تنظیم کړي چې پر ځان بسیا وي، ټول ملت یې ځان مالک بولي او د ګواښ په مقابل کې مقاوومې وي. ( IASC، ۲۰۱۶، مخ ۱). د دې تعریف سره سم، افراد کولای شي د پایداره پراختیا د فرصتونو په خپلولو او د مقاومت د رامینځته کولو لپاره د بشري اقداماتو له بنسټګنو څخه ګټه پورته کړي. دا پړاو د بشري مرستو او پرمختیایي سکتورونو د سازمانونو تر مینځ همکاري هڅوي. په لنډه توګه، د ژر اصلي حالت ته د بېرته ګرځونې پړاو هغه نقطه ده چېرې چې لنډ مهاله، بېړنی، ‹ژوند ژغورونکي› مداخلې/اقدامات پای ته رسیږي او اوږد مهاله پراختیایي او اصلي حالت ته بېرته د راګرځونې پروګرامونه پیل کیږي.

**په بشري سکتور کې اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې موخې:**

۱. د روانو بېړنیو مرستو عملیاتو ته وده ورکول.
۲. د اغېزمنو شوو ټولنو لخواء د نوښتونو هڅول او دوام ورکول.
۳. د اوږد مهاله اصلي حالت ته بېرته راګرځونې لپاره د تهدابونو/بنسټونو قایمول، د راتلونکي پایدار پرمختګ لپاره شرایط رامینځته کول.
۴. د ځایي او ملي ظرفیتونو باثباته کول او زیاتول، ډاډ ترلاسه کول چې ځایي او ملي چارواکي کولی شي چې ثبات رامینځته کړي، بازارونه او معیشت بیا په خپو ودروي، او همدارنګه خدمات وړاندې کړي.
۵. د ظرفیت لوړولو او د زیان منني کمولو له لارې د کړکېچ د بیا پېښېدو مخنیوی کول، او د بېلابېلو لوبغاړو د مقاومت د زیاتولو لپاره کار کول.
۶. ټولنو ته د مصونیت/خوندیتوب برنامې چمتو کول.

حوالې په ۱۶۷ مخ کې وګورئ.

د شخړو په چاپېریال کې، بنسټونه، د حکومتولۍ میکانیزمونه او ټولنیزې اړیکې په بنسټیز ډول بدلیږي. په داسې شرایطو کې، د مصونیت او باثباته کولو، د سولې رامینځته کونې، انتقالي عدالت او د دولت او ملت جوړونې سره تړلې نورې پروسې اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې په لومړي پړاو کې د بشري او پرمختیایي مسایلو سره یوځای واقع کیږي.

په همدی ډول، د کلتوري میراث لپاره د کړکېچ وروسته حالاتو کی ژر بېرته اصلي حالت ته راګرځونه باید د کړکېچ په کمولو کې مرسته وکړي، د بېلګې په ډول، د کلتوري میراثونو د بېرته اصلي حالت ته د راګرځونې په کارولو سره د باور رامینځته کول، او ټولنیزه وېشلتیا کمول صورت نیسی.

## د ژر اصلي حالت ته د راګرځونې پرمهال وړاندیز شوي اقدامات:

لاندې برخه هغه اقدامات په ګوته کوي چې ژر اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې په پړاو کې زیانمن شوي کلتوري میراث ته د ودې ورکونې او بېرته په کار اچونې لپاره تر سره کیږي. د بریالیتوب د ډاډ ترلاسه کولو لپاره، ادا مهمه ده چې ادا کړنې د کلتور په سکتور کې د اغېزمنو شوو بنسټونو په رهبرۍ د اړونده ګټه/دلچسپي لرونکو، لوبغاړو او ځایي ټولنو سره په مشوره کې پلي شي.

### ١ د پېښې څخه وروسته د لومړنیو مرستو د وضعیت تحلیل:

د کړکېچ څخه وروسته د کلتوري میراث اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې او بیا په کار اچونې د عمل د پلان د جوړولو لپاره، د وضعیت د تحلیل (۲۵ مخ وګورئ)، کوم چې د لومړنیو مرستو د پلان او پلي کولو دمخه ترسره شوی ، بیا کتنه او تازه کول خورا اړین دي. د کړکېچ له امله رامینځته شوي بېړني حالت لپاره، د لومړنیو مرستو څخه وروسته د وضعیت تحلیل باید د کړکېچ د تحلیل په راګډولو سره پراخه شي (۳۸ مخ وګورئ). ادا به د کلتوري میراث اصلي حالت ته بېرته راکرځونې او بیا په کار اچونې بهیر کې د کړکېچ د مخنیوي او د سولې رامینځته کولو لپاره د ستراتیژیو شاملولو ته فرصت برابر کړي. په ځانګړې توګه ادا مهمه ده چې د لاندې مواردو بیا کتنه وکړو:

- د هغې پېښې طبیعت او لاملونه یې چې کلتوري میراث ته د زیان رسونې لامل شوي.
- موجوده ټولنیزي، سیاسي او اقتصادي زیانمننې.
- په اغېزمن شوي کلتوري میراث پورې تړلی اهمیت او ارزښتونه.
- د **ګټه/دلچسپي لرونکو او لوبغاړو نقشه** کول (۳۳ مخ وګورئ)، او اصلي حالت ته بېرته په راګرځونه او بیا په کار اچونه کې د دوی اړوند ونډې او ګټو/دلچسپۍ ارزونه.

د دې خبرې په پام کې نیول ډېر اړین دي چې په لومړنیو مرستو او اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې په پړاونو کې ونډه اخیستونکي لوبغاړي تل د یو بل سره توپیر لري. اصلي حالت ته د ژر بېرته راګرځونې پر مهال، نوي لوبغاړي ممکن حضور پیدا کړي (د بېلګې په ډول، پرمختیایي لوبغاړي)، پداسې حال کې چې نور، لکه اور وژونکي یا د ملکي دفاع کارمندان شاید له پروسې نه جدا شی. سربېره پر دې، ځینې لوبغاړي شاید د خپلې ونډې بڼه بدله کړي او د بېړنۍ غبرګون پر مهال ترسره شوو دندو پرتله اصلي حالت ته بېرته راګرځونې پرمهال مختلفې دندې ولري. لدې کبله، دا اړینه ده چې د ګټه/دلچسپۍ لرونکو او لوبغاړو بیا تحلیل تر سره شي.

- د لومړنیو مرستو د پلي کولو وروسته، د کلتوري میراث عمومي حالت او هغه ګواښونه چې دا ورسره مخ دی.
- د زیانمن شوي کلتوري میراث اصلي حالت ته د بشپړې بېرته راګرځونې لپاره د اړتیا وړ د ساتنې لارې چارې او د ګواښ د کمولو ډول.
- د کلتوري میراث اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې لپاره د اړتیا وړ سرچینې.

## ۲ د وضعیت ارزونه

د **لومړنیو مرستو څخه وروسته د وضعیت د تحلیل** موندنې د کلتوري میراث د هغه شتمنیو، چې اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې او بیا په کار اچونې لپاره د وضعیت تفصیلي ارزونې ته اړتیا لري، د په ګوته کولو لپاره وکاروئ. د وضعیت ارزونه، اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې لپاره د لومړیتوبونو په ګوته کولو کې مرسته کوي. د پېښې وروسته د وضعیت په ارزونه کې معمولا د لاندې مواردو ارزیابي نغښتې وي:

- اوختی زیان او د عاید د لاسه ورکول (PDNA په ۶۴ مخ کی وګورئ).
- د خرابېدو پروسې چې کلتوري میراث اغېزمن کوي، د بېلګې په توګه ښوره، او رڼا ته د زیاتې بربنډتیا له کبله د رنګ ښکاره بدلون.
- د لومړنیو مرستو پر مهال د مصونیت او باثباته کولو پلي شوي اقدامات.
- موجوده زیانمننې او ګواښونه، او په ځانګړې توګه د خرابېدو فعالې پروسې چې کلتوري میراثونه د راتلونکو ناورینونو لپاره زیانمنونکي کوي.

د پېښې وروسته د وضعیت ارزونه باید په یو راپور کې مستنده شي، چې دا ټکي پکې شامل وي: د زیانونو ، خرابېدو او ګواښونو تفصیلي انځوریزه مستند سازي، د توکو تازه لست، د ساحو نقشې، او د فرش پلانونه. د عرضه شوو لومړنیو مرستو توضیحات چې د کلتوري میراث د شتمنیو د مصونیت او باثباته کولو پر مهال د راټولو شوو اسنادو څخه ترلاسه شوي، شامل کړئ. (۶۸ مخ وګورئ).

په دې ډول ارزونه کې ممکن تحلیلي مطالعات شامل وي، لکه د بېلابېلو مسالو لپاره د غښتلتیا ازموینه، یا په نقاشۍ کې د کارېدونکو سرېښو او رنګونو تحلیل. که چېرې موجود وي، د ټیکنالوژیکي وسایلو کارول، لکه د درې اړخیز لایزري سکنر یا د عکاسۍ پواسطه د سروې کولو یا نقشې جوړولو میتود (فتوګرامتری) کولی شي دقیقه اندازه واخلي، کوم چې د بشپړې بیا په خپو دروني لپاره اړین دي. د مستند سازۍ کچه به تر ډېره بریده د اغېزمنو شوو کلتوري میراثونو په اهمیت، د زیان په کچې او په موجوده سرچینو پورې اړه ولري.

د ګڼو مهارتونو لرونکو کارپوهانو ډلې چې په هغوی کې کېدای شي محافظین ، مهندسان، ، ساختماني انجنیران، تحلیلي کیمیا پوهان، بشرپوهان او تاریخ پوهان شامل وي، باید د وضعیت د ارزونو ترسره کولو کې ونډه واخلي. د ډلې ترکیب به د اغېزمن شوي فرهنګي میراث په طبیعت پورې اړه ولري. د هر اړخیزې ارزونې لپاره د محافظینو او ځایي ټولنو سره مشورې خورا اړینې دي.

### ۳ د همغږۍ، ونډې اخیستنې او ظرفیت لوړولو لپاره میکانیزمونو جوړ کړئ

د لوېې کچې ویجاړتیا وروسته، سیمه ایز کلتوري بنسټونه او اغېزمنې شوې ټولنې ممکن د کلتوري میراثونو اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې لپاره ځانګړي مهارتونو، اکمالاتو، بسپنې، او یا اداري میکانیزمونو ته د لاسرسي د نه شتون سره مخ وي. د ژر اصلي حالت ته د راګرځونې پړاو د دې مواردو لپاره کارول کېدای شي: اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې لپاره اړینې سرچینې په ګوته کول، ځایي ظرفیتونه جوته کول، او د مهارتونو، پوهې او اداري پالیسیو د ښه کولو لپاره د روزنې پیل کول.

اصلي حالت ته د ژر بېرته راګرځونې په پړاو کې، دا اړینه ده چې د کلتوري میراثونو اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې او بیا په کار اچونې پلان د نورو سکتورونو د اړوندو پلانونو سره همغږی شي، او په ورته وخت کې، د اغېزمنو شوو خلکو د ونډې اخیستنې لپاره میکانیزمونه رامینځته شي. د بېلګې په ډول، د ځمکې کارولو په اړه کېدای شي د ودانیو داسې نوي مقررات یا پالیسي ګانې رامینځته شي، کوم چې ښایي د جوړ شوي میراث اصلي حالت ته د

بېرته راګرځونې او د هغې د راتلونکې کارونې لپاره زیانمن وي. په ورته ډول، ټولنې ممکن ځینې لومړیتوبونه ولري چې کوم میراث باید لومړی بېرته اصلي حالت ته راوګرځول شي.

د ځایي ټولنو د دودیزو مهارتونو او پوهې څخه د ګټې اخیستنې او اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې لپاره په پلان جوړولو کې د ټولنو د ګډون لپاره باید هڅې وشي. په حقیقت کې، د ژر اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې پړاو د دی لپاره هم کارول کېدای شي چې ټولنه اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې لپاره د لارو چارو په غوره کولو، او په خلاقانه/نوښتګر ډول د هغوی د بیا کارولو په کار کی راښکیله شي.

تاسو د لومړنیو مرستو نه وروسته د حالت د تحلیل پایلې د دې لپاره هم کارولی شئ چې اصلي حالت ته د کلتوري میراث د بېرته راګرځولو لپاره فعالین او ګټه/دلچسپي لرونکي په ګوته کړي.

## د ایټالیا د ایل ایکویلا په ښار کې خپل اصلي حالت ته د کلتوري او اجتماعي حالت په بېرته راګرځولو کې د ټولنې د (د لاندې نه پورته خوا ته) نوښتونو ونډه

د ۲۰۰۹ کال د اپریل په ۶ نېټه د ریکټر ۶.۱ درجې یوې زلزلې په مرکزي اپیننس کې د ابروزو سیمه ولړزاوله او د سیمې پلازمېنې، د ایل اکیولا ښار او شاوخواء ۵۰ نورو ښارګوټو ته یې سخت زیان واړوو.

د زلزلې په پایله کې، د ایټالیا د ملکي ساتنې څانګې د بېړنې پړاو پر مهال د ژغورنې عملیات مدیریت کړل. خلکو ته بېړنۍ سرپناوې برابرې کړای شوې وې او د تاریخي ښار مرکز په بشپړ ډول تخلیه او محاصره شوی وو او د پراخه زیان له امله سره سیمه اعلان شوې وه. د ایل اکیولا خلکو لپاره د ښار تاریخي مرکز تل د یو متحرک ټولنیز او اقتصادي مقام په توګه کار کاوه، چېرې چې خلک د یو بل سره یوځای کېدل، تعامل یې کاوه او ساعتیري یې کوله. د ښار چوکونه او خلاص ځایونه د دوی د ورځني ژوند او کلتور مرکز و. د ناورین څخه وروسته، دې ځایونو ته د اوږدې مودې د لاسرسي نشتوالی په شدت سره احساسېده، ځکه خلکو د خپلمنځي تعامل لپاره ځایونه نه درلودل.

په غبرګون کې د ایل اکیولا اوسېدونکو د ټولنې پر بنسټ ولاړ بېلابېل نوښتونه وکارول چې د هغوی په بنا یې، د دوی د خپل ښار او ګاونډیو سیمو بېرته اصلي حالت ته په راګرځونه کې ونډه اخیستل تنظیم کړل. یو لدې نوښتونو څخه د ایل اکیولا پوهنتون د محصلینو او فارغانو لخوا رامینځته شوی نوښت (ویویامولاق) دی.

د ښاري ځایونو او پرېښودل شوو سیمو د بیا کارولو له لارې، ویویامولاق د ټولنیزې، ښاري او کلتوري بېرته اصلي حالت ته د راګرځونې ملاتړ کوي. د دې پروژې نوښت د چاپېریال او ټولنیز پایښت پر اصولو ولاړې دي، او د ټولنیز یووالي او ډله ایزو کړنو د لوړولو لپاره د کتلست/محرک په توګه کار کوي.

د دې د ټولو پروژو لپاره ونډه اخیستنه او همکاري، د نوښتګر پلان جوړونې پړاو څخه تر ساختماني پړاو پورې، د کیلي حیثیت لري. دا د (بیا پیل کولو) پروژې تر شا، کوم چې په ۲۰۱۴

کال کې تر لاس لاندې ونیول شوه، اصلي روحیه وه. د (بیا پیل کولو) پروژې د پوهنتون د محصلینو او ځایي ټولنې لپاره د خلاص تفریحي ځای د رامینځته کولو په موخه هغه پرېښودل شوی عامه ځای چې د ایل اکیولا پوهنتون د بشري علومو څانګې مخې ته موقعیت لري بیا وکاروو. د بیا رغونې پروسې څخه پلاس راغلو بیا کارول شوو توکو نه (کثافات، د فولادو او لرګیو سره یوځای چې مخکې د زیانمن شوو ودانیو د پښتې لپاره کارول شوي و) د ښاري فرنیچر جوړولو لپاره کار اخیستل شوی وو. په یوه نوې پروژه کې د ناورین د وخت د خاطرې (بیا کارول شوو توکو) ادغام په یوه نوې پروژه کې د ‹بیا پیل کولو› د پروژې د ځواکمنیتا لپاره مرکزي حیثیت لري: دا د دې ښکارندويي کوي چې اصلي حالت ته بېرته راګرځونه او د ناورین څخه وروسته پړاو کې د ټولنیز مقاومت او یووالي لوړول څرنګه شوني دي.

په ایل اکیولا کې د ټولنې پر بنسټ ولاړو اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې غبرګونونو د بریالیتوب په مشاهده کولو سره، په ۲۰۱۲ کال کې په ایمیلیا رومګنا کې او په دې وروستیو کې په مرکزي ایټالیا کې په ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلونو کې، د ټولنې پر بنسټ ولاړې کړنلارې تطبیق شوې وې.

سرچینه: والنتینا اسپانو، په اجتماعي علومو کې ماسټر، د بریندینبرګ د ټکنالوژۍ پوهنتون کوټس-سینفټینبرګ، د اکرام موسسې د ټولګو د څانګې پخواني په کاري چاپیریال کې زده کوونکی (انټرن)

په ۱۶۷ مخ کې حوالې وګورئ.



(بیا پیلول) ایل اکیولا د ښار د تاریخي مرکزي برخې نه د ښار د عامه کارونې د ځایونو د تفریحي موخو لپاره د ناورین په دوباره دوران کې د اچول شوو کثافاتو کارونه.

## د هنر پېشه و لپاره د ظرفيت لوړول: په هايتي کې د کوچنيو سوداګريو اصلي حالت ته بېرته راګرځونه

د ۲۰۱۰ کال زلزلې چې هايتي يې وځپله د هيواد د صنايعو په لوی مرکز، جيکميل کې يې يو لوی شمېر هنر پېشه له کورونو، کارځايونو، وسايلو او توکو څخه محروم کړل. زلزله د جنوري په مياشت کې، چې د هنر پېشه و لپاره ډېر بوخت وخت دی او دوی د کلنۍ مېلې لپاره تياری نيسي، وشوه. پدې موده کې، ډېری هنر پېشه حتی پورونه اخلي ترڅو د مېلې لپاره د مزينو جامو تيارولو لپاره کافي اکمالات وپېري. خو د زلزلې پر مهال د خپلو کورونو او کارځايونو په نړېدلو سره دوی خپله ذخيره او بشپړ کړی شوي صنايع هم له لاسه ورکړل، چې دې حالت د پورونو بېرته اداء کول ناشوني کړل.

د لومړنيو مرستو په پړاو کې، ټولنې ته د لنډمهاله سرپناه او اسانتياوو برابرولو ته پاملرنه وشوه. ليکن، د ژر بېرته اصلي حالت ته د راګرځونې په پړاو کې، يونيسکو د هنر پېشه و سره، دوی ته د ټولنيز (لنډمهاله) کارځای او پلورنځي او د اړتيا وړ توکو په چمتو کولو سره، د دوی د سوداګريو د بيا رغاولو لپاره کار وکړ، تر څو دوی خپل فعاليتونه بېرته د سره پيل کړي.

څرنګه چې بازار، په ځانګړي توګه خارجي بازار، په پراخه کچه اغېزمن شوی نه و، د هنر پېشه و ملاتړ په داسې ډول طرح شوی و چې دوی ته لدې موافقې سره چې پدې مهال د دوی لپاره دا اړينه ده چې د پورونو په بېرته اداء کولو او د زلزلې له کبله رامينځته شوې د نغدو پيسو د جريان په تشه برلاسی ومومي، د خپلو فعاليتونو د سره بېرته پيل کولو وړتيا وبخښي. هرڅومره ژر چې هنر پېشه و د توليداتو د بيا پيل توانايي تر لاسه کړه، ډېری يې اصلي حالت ته بېرته په راګرځېدنه وتوانېدل.

**سرچينه: ايلک سيلتر، د ختيځ او افريقايي مطالعاتو ښوونځی، د لندن پوهنتون، انګلستان.**



*په جيکميل کې لاسي صنايع، ۲۰۱۰ کال. عکس: ايلک سيلتر*



*د پاپير مچ مخ پټوونې (ماسکونه) په ۲۰۱۲ کال کې په جيکميل کې د مېلې لپاره د سينګارولو په تمه. عکس: ايلک سيلتر.*

### ٤ د کلتوري میراثونو کارول، فعالیت او معنی ارزیابي کړئ:

د ناورین نه وروسته، د کلتوري میراثونو اصلي حالت ته د بېرته راګرځوني لپاره د لارو چارو غوره کول ، د کلتوري میراث د احتمالي راتلونکي کاروني او د اغیزمني شوې اداري یا ټولني د کړکېچ څخه وروسته اړتیاوو پوره کولو د ورتیا درلودلو نه اغېزمني کیږي. د کلتوري میراث د کاروني یا فعالیت د طرز بدلولو پرېکړه کېدای شي جنجالي وي، نو ځکه باید د پراخي عامه اجماع پر بنسټ ولاړه وي، چې دا کار بېرته اصلي حالت ته د راګرځېدني په پړاو کې رامینځته کېدای شي.

په همدې ډول د کړکېچ څخه وروسته حالاتو کې، د خراب حالت ته د بېرته ورګرځېدو د مخنیوي لپاره، د متنازع کلتوري میراثونو په اړه قصې/بیان باید ډېر جامع/هراړخیز جوړ شي، ترڅو د ټولنو د هغه خلکو استازیتوب یقیني شي چې مطرح نه وی (محرومه/ګوښه کړی شوي وي) . دا ډول هڅې باید رڼې وي او د اغیزمنو شوو ټولنو او د کړکېچ له ټولو خواوو سره په مشورې تر سره شي.

په ډېری مواردو کې، یوه اغیزمنه شوې ټولنه ممکن د ناورین په اړوند د نوي یادګارونو په جوړولو سره؛ یا د یادګاري پېښو په تنظیمولو سره چې د وخت په تېرېدو سره د نوي غیر ملموس میراث بنه غوره کوي، د ویجاړو شوو ځایونو په یادګارونو بدلولو سره د نوي میراثونو د رامینځته کولو ارزو ولري. یوه ډېره تازه مشهوره بېلګه د امریکا د متحده ایالاتو په نیویارک ښار کې ‹صفري میدان› دی. دا ډول نوې قصې کېدای شي د توکو او کلتوري بنسټونو په تړاو هم وي. په سویلي افریقا کې د توکمیز توپیر (اپارتاید) میوزیم او د شپږمې ولسوالۍ میوزیم د دې خبرې ځواکمنې بېلګې دي چې بنسټونو څرنګه بېرته اصلي حالت ته په راګرځونه او د خبرو اترو په رامینځته کونه کې تل ونډه درلودلې ده.

ځینې ټولنې د کلتوري میراث ژوندي اړخ ته لومړیتوب ورکوي، لدې کبله د ویجاړتیا د ټولو نخښو د له مینځه وړلو لار غوره کوي. په دا ډول حالاتو کې شاید د کلتوري میراث په بشپړ ډول په یو نوي جوړښت سره د عوض کولو پرېکړه وشي . د دې کار یوه بېلګه په سریلانکا کې د بودا د غاښونو د مندر بېرته په خپو درونه ده، کوم چې په ۱۹۹۸ کال کې د یوې چاودنې له امله سخت زیانمن شوی و. په نورو قضیو کې د کلتوری میراث بیا په کار اچونه د میراث مادي اړخ ته لومړیتوب ورکوي او په داسې ډول ترسره کیږي چې د ویجاړتیا کومې نخښې نښانې پاتې نشي، د دی حالت یو مثال د دوهم نړیوال جنګ نه وروسته د پولنډ د وارسا د ښار تاریخي مرکز و. البته د دواړو کړنلارو د پخلاینې لپاره ډېرې هڅې وشوې . په وروستیو کلونو کې ډېرې تخنیکي نوښتونه اصلي حالت ته د کلتوری میراث د بېرته راګرځوني لپاره د لارو چارو د غوره کولو په لړۍ کې اضافه شوي دي، چې په پایله کې د ویجاړ شوي کلتوري میراث لایزري اتکلونه رامینځته کوي، د بېلګې په ډول بامیان یا په بشپړه پیمانه درې اړخیز چاپ، د بلې بېلګې په ډول د پالمیرا کمان. د حوالو لپاره ۱۶۷ مخ وګورئ.

## پرانيستې ذخيره: د ژر بېرته اصلي حالت ته د راګرځونې په پړاو کې د نيپال په ملي ميوزيم کې توافقي بيا کارونه

د ۲۰۱۵ کال کې د ګورکا د زلزلې په پايله کې، د نيپال د ملي موزيم په ګډون لس موزيمونه دې ته اړ شول چې خپلې ټولګې له سختو زيانمن شوو ودانيو څخه تخليه کړي، چې د کارونې لپاره غير مصونه اعلان شوې وې. د امنيتي دلايلو له کبله، تخليه شوي ټولګې په لنډمهاله توګه د اړونده موزيمونو د نندارتون په ګالريو کې ذخيره شوې وې، چې په پايله کې د دې موزيمونو د جزوي تړل کېدو لامل شوې. د ژر اصلي حالت ته بېرته راګرځونې پړاو کې، د اکرام موسسې د لرغونپوهنې له څانګې سره په همکارۍ او د ناروې د اقليم او چاپېريال وزارت په مرسته، د اغېزمنو شوو موزيمونو کارمندانو ته روزنه ورکړل شوه ترڅو د پرانيستې، خو خوندي، ذخيره کولو ځايونه طرح کړي، چې په ورته وخت کې بېځايه شوو ټولګو ته بيا د استوګنې برابرول او د ليدونکو د راجلبولو لپاره د نوي نندارتون ځايونو چمتو کول، دوه ګونې موخې لاسته راوړي.

**حوالې په ۱۶۷ مخ کې وګورئ.**




*د ناورين وروسته توافقي کارونه: د نيپال په ملي موزيم کې د ليدلو وړ او خوندي لنډمهاله ذخيره چې د بې ځايه شوو ټولګو د بيا استوګن کولو او موزيم ته د ليدونکو د بېرته راجلبولو لپاره جوړه شوېده ۲۰۱۶ کال. عکس: اپرنا ټنډن، د اکرام موسسه*

### ۵ سرچینې راټولې کړئ

د لومړنیو مرستو او د کلتوري میراثونو بېرته اصلي حالت ته د راګرځونې تر مینځ موده باید د بېلابېلو ادارو لکه له ملي او محلي حکومتونو، ملي او نړیوالو مرستندویه موسسو، او د کلتوري میراث له بنسټونو څخه د سرچینو د راټولولو لپاره وکارول شي. د لومړنیو مرستو څخه وروسته د حالت ارزونې راپورونه په ځانګړې توګه د کړکېچ څخه وروسته د بیا رغونې اړتیاوو په بیانولو کې مرسته کوي. د اړینو سرچینو په برابرولو کې د ټولو ممکنه دلچسپې لرونکو برخه اخیستنه دا خبره یقیني کوي چې د کلتوري میراثونو د بیارغونې او بېرته خپل اصلي حالت ته د راګرځونې پروسې د سیمه ایزو اړتیاوو او غوښتنو له مخې پرمخ وړل کیږي، نه د بسپنه ورکوونکو د لومړیتوبونو له مخې.

د حساب ورکونې او روڼتیا د ودې لپاره، دا اړینه ده چې د بسپنه ورکوونکو، دولت، ګټه/دلچسپې لرونکو او عامو خلکو سره د ارتباطاتو لپاره اغېزناک میکانیزمونه جوړ کړئ.

## نتیجه ګیري

په دې لارښود کې تشریح شوی دري مرحله ای چوکاټ د کلتوري میراث د همغږو لومړنیو مرستو لپاره چمتووالی زیاتوي، کوم چې د ژر اصلي حالت ته د بېرته راګرځېدنې لامل ګرځي. په هر حال دا انګیرنه واقعي نده چې د ټولو پړاونو تر مینځ پرمختګ سیده ساده دی او یوه اندازه وخت ته اړتیا لري. دا انګیرنه چې د هر قدم/پړاو تر مینځ پرمختګ ساده دی، یا په واضح ډول تعریف شوي مهال ویش تعقیبوي، د حقیقي حالت سره اړخ نه لګوي. چېرې چې یو لوی یا پیچلی بېړنی حالت رامینځته کیږي ، د متنوع جغرافیایي فرعي سیمو لپاره کلتوري لومړنۍ مرستې باید په بېلابېلو وختونو کې ترسره شي. د دې پلې کول، اغیزمن شوي کلتوري میراث ته خوندي او غیر مختل لاسرسي او په موجوده ملي او/یا ځایي ظرفیتونو پورې اړه لري. برسېره پر دې، کچېرې د ژر اصلي حالت ته د بېرته راګرځونې پر مهال کلتوري میراث زیان منونکی پاتې شي، تاسو ممکن د بل بېړني حالت په صورت کې لومړنۍ مرستې تکرار کړئ، د بېلګې په ډول، د زلزلې بیا پیښېدل، یا د کړکېچ بیا راګرځیدل.

د ګواښ دوامدار مدیریت، **د بېړني پلان جوړونه**، د بېلابېلو لوبغاړو او ګټه/دلچسپې لرونکو ترمینځ همغږي، او د میراثي ادارو او ځایي ټولنو ترمینځ د بنسټیزو زیانمننو د کمولو لپاره د ظرفیت لوړول، له همدې امله د ناورینونو او کړکېچونو پر وړاندې د میراثونو د مقاوم کولو لپاره خورا اړین دي.

# اصطلاحات او
# د هغوی معاني

## درې اړخیز لایزري سکنر (انځور اوچتوونکی)

هاغه وسیله ده چې د اړیکي قایمولو او یا ویجاړولو پرته په ډیجیټلی ډول د یو شي د فزیکي بنې د رانیولو لپاره د لایزر رڼا پداسې ډول کاروي چې رڼا د جسم د سطحې نه تمبیږي/ منعکس کیږي او د کېمرې د عینکو سره مطابقت پیدا کوي او پدې ډول د معلوماتو ټولګه یا (وریځینه نقطه) د جسم د سطحې پر بنسټ رامینځته کوي. درې اړخیز سکین کول یوه داسې طریقه ده چې د یو جسم دقیقه اندازه او شکل په ډیجیټلي ډول په درې اړخیز ډول وړاندې کوي. دا د انحنا لرونکو غیر منظمو سطحو او پېچلو شیانو د اندازه کولو او پلټولو لپاره خورا مناسب دی کوم چې په لوړه پیمانه معلوماتو او دقیقو توضیحاتو ته اړتیا لري چې د اندازه کولو د دودیزو کړنلارو (میتودونو) په کارولو سره یې لاسته راوړل ستونزمن دي. (Historic England, ۲۰۱۸).

**نور دلته ولولئ: https://perma.cc/YLM٥-LQL٢**

## د توکو د ثبت کتاب

د توکو د ثبت کتاب د یو موزیم د همېشنیو توکو د مجموعې/ټولګې همېشنی ریکارډ/ثبت دی. دا د موزیم د اسنادو په سیستم کې تر ټولو مهم او ډېر ارزښتناک سند دی. دا د موزیم د توکو په تړاو معلومات لري او د موزیم د هغو توکو د مجموعو/ټولګو په اړوند چې موزیم یې مسولیت پر غاړه لري د رسمي لست په توګه کار ورکوي. ((Collections Trust, ۲۰۱۸).

**نور دلته ولولئ: https://perma.cc/J٤GF-WHWN**

## لوبغاړي

یوه موسسه، ټولنه یا یو خپلواک اغېزمن شخص چې د سیستم سره مستقیماً/نېغ په نېغه تعامل کوي. یو لوبغاړی تل ګټه/دلچسپي لرونکی دی، مګر ټول ګټه/دلچسپي لرونکي لوبغاړي ندي، ځکه چې دوی هرو مرو د سیستم سره نېغ په نېغه تعامل نکوي مګر د لوبغاړو په چلند او د هغوی له خواه تر لاسه شوو پایلو کې خپله دلچسپي جاري ساتي. (Cockburn, ۲۰۰۱, p. ۵۳).

**نور دلته ولولئ: ٨LKF-RYNJ/https://perma.cc**

## چې بېرته یې جوړوئ، تر پخوا یې ښه جوړ کړئ

د فزیکي زیربناوو، د ټولنیزو سیستمونو، د معیشت د وسایلو، اقتصاد او چاپیریال په بیا راژوندی کولو کې د ناورین د ګواښ د کمولو د کړنې/اقدامات ځای پر ځای کول. (UNISDR ۲۰۱۷).

**نور دلته ولولئ: H٦DJ-٣D٧٨/https://perma.cc**

## ظرفیت / وړتیا

په یوه ټولنه یا موسسه کې د غښتلو ټکو، ځانګړتیاوو، او د شتو سرچینو مجموعه/ټولګه چې د ناورین ګواښ مدیریت او کم او مقاومت پیاوړی کړي. وړتیا په ځان کې زیربناوې، بنسټونه، انساني پوهه او مهارتونه، او ټولیزې ځانګړتیاوې لکه ټولنیزې اړیکې، رهبري او مدیریت رانغاړي.

(UNISDR, ۲۰۱۷)

**نور دلته ولولئ: https://perma.cc/L۸۸V-۸EBA**

## تولګی/کلستر

د انسانی مرستو رسونکو موسساتو نه جوړ شوی ګروپ (که په UN پورې تړلی وي او یا نه وي) چې د بشري مرستو د عمده سکټورونو د همغږۍ مسولیت ولري، لکه: اوبه، روغتیا، لوژیستیک او داسې نور. دوی د موسساتو د خپلمنځي همېشنۍ کمېټې لخواء ګمارل کیږي. (Humanitarian Response، ۲۰۱۷).

**نور دلته ولولئ: https://perma.cc/TRD۵-YFMG**

## ارتباطات/اړیکې

د خبرو، لیکلو یا د کومې بلې وسیلې په کارولو سره د معلوماتو لیږدول او لاس په لاس کول، په بریالي ډول د نظریاتو او احساساتو رسول یا شریکول. (Oxford Living Dictionary، ۲۰۱۷).

**نور دلته ولولئ: https://en.oxforddictionaries.com/definition/communication**

## د بیړني پلان جوړونه

د بیړني پلان جوړونه د مدیریت یوه وسیله ده چې د ناورین نه د راولاړ ګواښونه تحلیلوی او دمخه داسې اقدامات تر لاس لاندې نیسي تر څو بیړني حالت او د هغې نه احتمالي راولاړېدونکو انساني اغیزو ته اغېزمن ځواب ووایي. بیړني پلان جوړونه د اړتیا په وخت کې د اړونده لوبغاړو لپاره د کړنو کځورې، د واضح تعریف شوو اداري ونډو ، سرچینو ، د معلوماتو تحلیل او عملیاتي ترتیباتو سره رامینځته او همغږي کوي. او لوبغاړو ته اجازه ورکوي چې د ناورینونو په اوړدو کې راولاړېدونکي ستونزې تصور ، اټکل او حل کړي. (IFRC، ۲۰۱۷؛ UNIDSR، ۲۰۱۷).

**نور دلته ولولئ:**

**IFRC، ۲۰۱۷: https://perma.cc/W۲BZ-U۹۲R**

**UNISDR, ۲۰۱۷: https://perma.cc/L۸۸V-۸EBA**

## راغوندوونکي / راټولوونکي کمربندونه/ پټۍ

د تسمو او پټیو هغه سیستم چې د کمربند په توګه کار کوي تر څو د زیانمن شوو دېوالونو بهر لورې ته د غورزېدو مخه ونیسي. . (Kelley, ۲۰۱۰, p. ۱۰).

**بیشتر بخوانید: https://perma.cc/PNF۶-CEL۹ Contaminant**

## ککړونکی

ککړونکی د موزیم د توکو په تولګه کې هغه کیمیاوي یا بیولوژیکي موادو ته اشاره کوي چې د موزیم په توکو کې موندل شي او هغو کسانو ته چې دا توکي کاروي او یا یې ساتنه کوي احتمالي ګواښ

راولاړوي. ککړونکي شايد ذاتي وي لکه درانده فلزات چې د رنګ جوړولو په پوډرو کې شتون لري، لدې پرته ککړونکي شايد په سهوه سره وروسته کارول شوي وي او يا هم د درملنې په ډول لکه د کيمياوي خونديتوب لپاره، او يا د حشره وژونکو په توګه ترې کار اخيستل شوی وي. (د امريکا د متحده ايالاتو د کورنيو چارو وزارت، ۲۰۰٦، ص ۱).

**نور دلته ولولئ: https://perma.cc/DX٥W-UJN٨**

## همغږي

همغږي د پايلو يا کړنو د ښه کولو لپاره د ګټه/دلچسپي لرونکو يا لوبغاړو تر مينځ د ډله ايزو هڅو په اوږدو کې او يا هم د يوې ګډې مسلې، پېښې او شرايطو په ځواب کې لاس ورکونه/همکاري ده. (ICVA, n.d.).

**نور دلته ولولئ: https://perma.cc/٧٤YY-٦٧A٢**

## کلتوري ميراث

کلتوري ميراث شايد د ژوند کولو طريقې په توګه تعريف شي کوم چې د ټولنې لخواء رامينځته شوی وي او د يو نسل نه بل نسل ته لېږدول کيږي چې پدې کې دودونه، کړنې، ځايونه، شيان او هنري څرګندونې او ارزښتونه يادولی شو. ډېرى وختونه کلتوري ميراثونه د ملموس او غير ملموس په توګه پېژندل کيږي. (ايکوموس، ۲۰۰۲).

## د کلتوري ميراث شتمني

د کلتوري ميراث شتمني هغه توکی يا ځای دی چې ارزښت يې په يوه ټولنه، ملت، پوهې او کلتور کې د هغه د ارزښت پر بنسټ ولاړ وی . د دې ارزښت د دې د تجملی ، تاريخي، ساينسي، ټولنيز يا معنوي ارزښت نه سرچينه اخلي. يوه ميراثي شتمني شايد ملموسه يا غير ملموسه وي. (Resource Planning and Development Commission، ۲۰۰۳).

**نور دلته ولولئ: https://perma.cc/CNS٧-SZNA**

## زيان

فزيکي زيان چې د يو شي ارزښت، ګټورتيا، يا نورمال فعاليت اغېزمن کوي. (Oxford Living Dictionary، ۲۰۱۷).

**نور دلته ولولئ: https://perma.cc/٨SYQ-٥XGA**

## د زيان تشخيص/ارزونه

د زيان تشخيص/ارزونه د يوې حادثې يا طبيعي پېښې له امله د رامينځته شوي زيان په ساحه/ځای کې لومړنۍ ارزونه او مستند کول دي. د زيان ارزونه د زيان کچه او هغه څه چې تبديلېدای، رغاول کېدای او يا ژغورل کېدای شي ثبت او په ګوته کوي. دا د ترميم، تبديلولو او يا د بيا

